شهامت

افغان ولس د جعلي تړونونو درناوي ته ژمن نه دی!!

اووم کال ځلورمه، پرلپسي ۴۲ مه ګڼه، محرم، صفر ۱۴۳۵ هق ۲۰۱۳م، نومبر

امریکایي لیلام!!

کابل کې د (جرګه والو) تاریخي خیانت

د شهید حافظ بدرالدین حقاني ژوند او کارنامو ته کتنه

په امنیتي تړون کې د افغانانو کومې ګټې تضمین دي ؟

پیمان امنیتي با امریکا هیچ ارزش نه خواهد داشت

د شهامت مجلې مسؤل له ""الاماره"" سره په مرکه کې:

که افغانان له ګاونډیانو دومره ډاریږي چې دخپلې بقا دتضمین لپاره د پنځلس زره صلیبي عسکرو شتون مني، نو دومره بزدله او ډارن ولس د خدای ﷻ په زمکه دژوند حق نلري!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اووم کال څلورمه پرلپسې۴۲، مه گڼه محرم ،صفر ۱۴۳۵هق، نومبر ۲۰۱۳م

لړلیک

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	کابل کې د(جرگه والو) تاریخي خیانت	۳
۳	پیمان امنیتي با امریکا	۷
۴	په امنیتي تړون کې	۱۰
۵	داصول فقه او اجتهاد تاریخ	۱۳
۶	د شهید حافظ بدرالدین حقاني	۱۸
۷	دهرات ولایت له جهادي مسؤل سره مرکه	۲۳
۸	افواهات خپرول داسلام له نظره	۲۷
۹	سیاسي مبصر ابوظهیر له (الاماره) سره په مرکه کې :......	۳۰
۱۰	چې الله درسره مل نه وي	۴۲
۱۱	داسدي ملیشو له لوري	۴۶
۱۲	امریکایي لیلام	۴۹
۱۳	اسلامي هیوادو کې	۵۳
۱۴	غرب چرا و چگونه نسل وان ما	۵۶
۱۵	داسلام اساسات	۶۲
۱۶	دفکري اوفرهنگي یرغل	۶۹
۱۷	دامریکا او ایران دنږدیکت	۷۲
۱۸	دتر کي پارلمان کې حجاب پر کمالیزم	۷۴
۱۹	...څو ۵۷ قیادتونه سالم نه وي	۷۸
۲۰	تکرار حوادث تأریخی در افغانستان!	۸۰
۲۱	در امضای پیمان با امریکا چرا باید	۸۲
۲۲	شهامت دارلافتاء	۸۴

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني " لطیف عزم

حسن " علوي" بلال "وحید"

نعیم " صافی " عابد مجاهد

قاري حبیب

بیه :

یوه گڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰

کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

زرملوال او حقمل

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو

مسؤلیت په غاړه نه اخلي

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان برېښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

افغان ولس جعلي تړونو درناوي ته ژمن ندی !!

د معاصرې اوپرمخ تللې جنګې ټیکنالوجۍ پرڅواک له بشپړې ناکامۍ اورسوايي وروسته امریکایي ښکېلاک لګیادی په څرګندو جعل کاریو اوبربنډو درغلیو له فغان ولس اونړیوالو نه پخپل ښکاره شکست او خجالت دپردې اچولو ناکام کوښښونه کوي. څو ځان دافغانستان په ټوله اوضاع پوره برلاسی اومسلط وښي.

د ې لړ کې دلیندۍ په ۳(نومبر ۲۴) مه په پلازمېنه کابل کې دیوې محکومې لویې جرګې تر عنوان لاندې ۲۵۰۰ افغاني وطن پلورونکي څیرې رابلل اوله هغوئ نه د راتلونکو لسو کلولپاره دخپل ناروا اشغال ددوام او پوځي هډو جوړولو بدې ارادې ته جعلي ملاتړ ترلاسه کول؛ دامریکا دهغه فریب کارۍ اوتیرایستونکې تګلارې ناوړه تسلسل دی، چې دنړۍ ازاد ولسونه اوخپلواک ملیتونه خپلو استعمارې غوښتنو او ارادو ته څملوي.

حقیقت دادی چې امریکا دخپل ټول معاصر ځواک کارولو سربیره افغانستان کې خپلو بدو اوکرکجنو موخو ته رسیدو کې د پاته راتلو وروسته دمحکومو جریانو په عنوانولو سره هڅه کوي خپل له زوال او شکست نه ډک حالت په برې بدل کړي خو روښانه ده چې د محدودو اوبې ضمیره اشخاصو استخدامول او ګومارل له رواني لحاظه به دامریکا مړاوي روحیات اوپریوتی مورال لوړنکړي، بایداعتراف وکړي چې دافغان ولس شانداره ماضي په دې شاهد ده چې دغسې مردود کردارونه او محکومانه پریکړې داصیل افغان قام دازادۍ مسیر نشي تغیرولی .

له ډېر محدود اوهغه غلام اقلیت پرته چې دامریکا دناولي اشغال په اوږدو کې یې په چور، چپاول ،اختلاس ، بد اخلاقیو او فسادو کې پریمانه ناروا شتمنۍ پیداکړې ، هغوئ نه غواړي چې امریکا ظالمانه اشغال پای ته ورسي ، باقي ټول ملت دامریکاله لوري اشغال غځول ،په مهمو ستراتیژکو ولایتونو کې دپوځي هډو جوړول په کلکه غندي ،هم هغو څېرو او اشخاصوته چې دامریکا ددې بدې ارادې او ګام نه ملاتړ کوي دهېواد دارضي تمامیت ، ملي

ا رزښتونو او داسلامي اقدارو ددښمنانو په نظر ګوري ، دهغوئ دغه نه ښونکی جنايت اوخيانت په کلکه محکوموي .

له شک پر ته چې دغه ډول جعلي اونمايشي جر ګې او مر دود ګامونه دافغانې وياړونو ، ملې افتخاراتو اوداسلامي حکمونو څخه علنې بغاوت دی ، چې ترپيړيو پيړيو به راتلونکو افغان نسلونو ته پيغور پاته وي او له امله به يې دافغان ولس استقلال او خپلواکې له ګواښونو اوننګونو سره مخ وي . او افغانستان به د جنګونو ، مر ګونو او نا امنيو بل ګرداب ته وغورځوي، هم له سياسي ، پوځي او اقتصادي پلوه به افغانستان تل امريکايانوته محتاج او دهغوئ مستعمره هېواد وي ...

ښکاره ده څنګه چې د امريکا يې پوځي هډو وجود او پاتښت به ټول عمر افغانستان او افغانان ځوروي، هم داسې دافغانستا ن ګاونډيانو لپاره خواشينونکی اوځورونکی پيغام دی، دهغوئ په ازادۍ اوسالميت به ډېر منفي اغيز اوتاثير ولري ،ولې امريکا غواړي افغانستان کې دخپل دايمي پوځي موجوديت اوپه حساسو ستراتيژکو سيمو کې دخپلو پوځي هډو څخه دګاونډيانو اومنطقوي ځار لړکې ناوړه ګټه اخستو سربيره به هغوئ له جدي ګواښونو ،ننګونواوتحميلي پريکړو منلو ته اړ کړي ، داکار به پٔه ټوله سيمه اومنطقه کې يوه لويه نا امنې ا وبې ثباتې رامنځته کړې تردې چې دمنطقې هېوادونو پخپل منځې دښمنيو جنجالونو او جنګونو منتج شي

دسيمې دسيايسي چارو کتونکي له دې پلوه زيات انديښمن دي، هغوئ دافغانستان په مهمو نظامې هوايې ډګرونو اونقاطاتو کې دامريکا پوځي موجوديت په مجموع کې دټولې سيمې لپاره دخطر زنګ بولي اودسيمې له ټولو هېوادو غواړي چې هغوئ ددې په ځاى چې دامريکا دګټو دبقا په لار کې خپل مصالح اوصلاحيتونه قربان کړي او دامريکا له دايمي پايښت سره مرسته وکړي بايددخپلو هېوادو ملي ارزښتونو اوملي ګټوته اولويت ورکړي کنه امريکا هوډلري چې دافغانستان په ګډون دټولې سيمې هېوادونه له سياسي، اقتصادي اوپوځې پلوه پخپله کلابندۍ کې بند کړي، دهغوئ ټولې کورنۍ اوبهرنۍ چارې ترخپل استخباراتې پوښښ لاندې راولي، وربانډې دخپلې برلاسۍ اوبرترۍ راج کينوي.

ښه داده چې افغان ولس په ګډون دسيمې ټول هېوادونه او ولسونه دانزاکتونه او حساسيتونه پوره درک اوحس کړي، دامريکا دراتلونکو پلانونوپه خنثاکولو کې له يو بل سره دګډ د تفاهم اوهمکارۍ روحيه پياوړي اورامنځته کړي .

څر ګنده ده چې دکابل لاسپوڅې رژيم نه دافغان ولس د بشپړ ملاتړ اوهمکارۍ نه برخمن دی اونه افغانان يې درښتني زعيم اوممثل په حيث پرېکړو او ارادو ته احترام لري له دې وجې حق نلرې چې دافغانانو په استازيتوب له کوم لورې سره تعاهدونه اوتړونونه لاسليک کړي، دې لړ کې دهغوئ لخوا دبهرنيو اشغالګرو اړخونو سره شوي تړونونه ، لوظنامې اوکيدونکې هوکړې له قانونې اوحقوقې اړخه هيڅ مشروعيت نلري اونه افغان ملت داشغال ترسيوري لاندې شويو ژمنودرناوي ته ځان ژمن بولي

کابل کې د(جرګه والو) تاریخي خیانت

(بت شکن)

اشغالګرو اوغلامانو یې دیوه بل نه بخښونکې خیانت په توګه دافغانانو دمنل شوي تاریخي دود او ملي روایت سپکاوی وکړ ،داځل دنیواګرو په لمسونه پردیپالو افغاني لاسپوڅو دلویې جرګې دعظمت او تاریخي قدامت دمسخې نا کامه هڅه وکړه اودکفري لښکرو دنور لس کلن میشت د سمبولیک تړون باور لیک یا توثیق پاڼه یې دیوه سپیڅلې نامه (لویه جرګه) تر سیورې لاندې ،دڅو پلورل شویوعناصرو په جرګه کولوسره ومنله ،دانو دداسې بې ضمیره او یا دتور ښکیلاک له استعماري موخو ناخبروخلکو توثیق پاڼه یا باورلیک و،چې په لوی لاس یې پکې دلویې جرګې دپرتمینې ماضي دڅلا دتتیدو هڅه وکړه ،او زمونږ داسلافو دغه کړنلاره یې داشغالګرو دنا سپیڅلو موخو لپاره وکاروله ،دلویدځ اشغال له لومړیو شیبو راهسې داڅومه فرمایشي لویه جرګه ده، چې ورته کابل کې داستعماګرو دخیمو اوالوتکو تر سیورې لاندې تشکل ورکول کیږي او له بده مرغه چې نا مقدسو اهدافو ته یې د مشروعیت څغاسته کیږي ،خو داځل دامریکایانو دهمیشني پوځي شتون او نظامي هډو دسند دهوکړې !!په موخه کابل دلویې جرګې په نوم دڅونا پیژندل شویواوپلورل شویو څېړو راغونډیدل له شرم او پیغوره ډک هغه تجمع ده، چې دافغان ولس تاریخ کې ساری نه لري ،کمونستانویه داسې جرګې راغونډېتې او دروسانوداشغال دتداوم او مشروعیت هڅې به یې کولې خو کوم مذهبي رنګ به یې نه ورکاوه ،خوکابل کې په ۲۴ - نومبر ۲۰۱۳ – ۰۳ لیندۍ ۱۳۹۲ نیټه د (۲۵۰۰)کسوافغان نما څیرو چې زیات پکښې شیعه ګان ،نا محرمه ښځې ،دغرب په دسترخوان ناست تکنوکراتان ،دشمال ستمي ،شعلیي او کمونستي عناصر اودجهادي اقدارو نه منحرفې صبغت الله مجددي غوندې او سیاف غوندې پلورل شوي څېرې راغونډېتل او غونډول له شرمه ډکه داسې هڅه وه، چې دخپل نوعیت له مخې بیخې بې ساري ده او دضمیرخاوندان پردوئ دلعنت او مرده باد ویلوته اړیستل شوي دي .

لویه جرګه دډیرې رڼې ماضي اوله ویاړنو ډکه سابقه لري ،زمونږ باور دی، چې دکرزي یا صبغت الله مجددې غوندې مهار شوي اجرتي څیرې به یې نه ماضي مسخ کړای شي ،نه به یې په سپینه لمن داغ ولګولای شي اونه به یې منزلت زیانمن شي ،خوهغه چې دقوس په دریمه کابل کې تر سره شول، دبخښلو او هیرولو وړهم ندي ،اونه به یې دافغان مجاهد ولس راتلونکې نسلولونه له یاده وباسي ،خلکوولیدل چې امریکاڅه غوښتل ، هماغسې جرګه

والووکړل او دې نا قيت انديشوڅېړو دخپلواک اسلامي هيواد په حريت خداى ﷻ مکره دغلامۍ او تلپاتې اشغال مذبوحانه چاره راکش کړه ،او افغان مجاهد ولس يې يوې عمري جګړې او جهادي مبارزې ته ورکيويست .

دلويو جرګو تاريخي شاليدته لنډه کتنه :

مرکې او جرګې دافغانانو هغه لرغونى او سپېڅلى دود دى ،چې له ډېرو او حجرو نه واخله بيا د هېواد ترکچې پورې پالل شوى او کارول شوى دى . دتاريخ په بېلا ، بېلو زماني واټنو کې دپښتنو مشرانو ، سپين ږيرو ،قومي مخورو او علماووبه تل په کور، کلي ،خاوره او ټاټوبي کې د ورپېښو شويو ستونزو او لانجو دهواري لپاره مرکې اوجرګې کولې او دسيالو خواوو ترمنځ به يې روغه اوجوړه کوله . دلرغونو اريايانو ډېر دودونه ، دحضرت عيسى مسيح عليه السلام له ميلاد څخه سوونه کاله پخوا ، بېلا، بېلو پړاوونو کې افغاني ټبرونو خپل کړي دي ،چې په دې لړ کې يې مرکې او جرګې دبېلګې په توګه يادولاى شو. ځينې په رواني ناروغيو اخته کسان انګېرې ،چې ګنې جرګې دمغلو ، تورکانو او ساسانيانو له خوا دې هېواد ته راغلى دود او کلتور دى، حال دا،چې دلرغوني آريانا اوآريايانو دولت والۍ او حکومت والۍ دسياسي تشکېلاتو په اړانه کې د سبها (ولسي جرګه)او دسميتي (مشرانو جرګه) جرګو تاريخ دومره پخوانى دى ،چې مغلواکي هغه دچا خبره هډولا نه وه زېږيدلې .

افغان ولس له ډېرو لرغونو زمانو څخه دخپل ټولنيز ژوندانه په هره برخه کې د ورپېښ شوي سياسي ، اجتماعي ، اقتصادي ،کلتوري ، مذهبي او داسې نورو... کړکېچونو دحل او هواري په موخه له کلو او بانډو څخه تر دربار او شاه پورې جرګې جوړې کړې دي . دپښتو درنې او خوږې ژبې په فلکلور او ولسي ادب کې له نن څخه په سوونه او زرګونه کاله پخوا دجرګو يادونه شوې ده ، چې داچاره په خپله د جرګې پرېښتنې او افغاني اصالت او رسالت باندې دلالت کوي .

کله چې ميرويس نيکه دخونړي ګرګين پر وړاندې پاڅون وکړ ، نو بيا په) ۱۷۰۹ (زېږديز کال لويه جرګه جوړه شوه اوميرويس نيکه يې خپل مشر وټاکه . دنادر افشار تر مړينې وروسته احمدشاه ابدالي په ۱۷۴۷ زېږديز کال دلويې جرګې له خوا دهېواد ټولواک اومشر وټاکل شو .

په ۱۸۶۵ زېږديز کال دامير شېرعلي خان په زمانه کې دهېواد (۲۰۰۰) تنو استازو په ګډون لويه جرګه جوړه شوه .

په ۱۹۲۴ زېږديز کال د امان الله خان په زمانه کې لويه جرګه جوړشوه ،چې داستازو شمېر يې (۱۰۵۴) تنوته رسېدو او د(پنجدې)دبيانيولوغوښتنه يې وکړه.

۱۹۲۸ زېږديز کال يوه بله لويه جرګه د امان الله خان په زمانه کې جوړه شوه ،چې (۱۱۰۰) تنواستازو په کې ګډون وکړ او (۱۴) نظامنامې يې تصويب کړې . دسقاوزوى له ماتې وروسته ، دمحمدنادر خان په زمانه کې لويه جرګه جوړه شوه او تر لسو ورځو اوږده شوه. ددې لويې جرګې په ترڅ کې ددولت دمامورينو دلقبونو ټاکنه ، دبيرغ رنګ ، دځينو لايحو تصويب او يو شمېر نورې پرېکړې وشوې .

په ۱۳۳۴ لېږديز کال دوزير محمدګل خان په پرانيستونکې وينا ، دسردار محمدداودخان دصدارت په موده او دمحمدظاهرشاه په زمانه کې لويه جرګه دپښتونستان پر موضوع جوړه شوه .

په (۱۳۴۳) لېږديز کال د محمدظاهر شاه په زمانه کې په داسې حال کې ،چې دنوي اساسي قانون له مخې محمد داودخان استعفاء کړې وه او ډاکټر محمد يوسف دصدارت واکې په لاس کې درلود ، لويه جرګه جوړه شوه او دنوي اساسي قانون مسوده يې تصويب کړه .

کله ، چې محمد داودخان ديوې کودتا په ترڅ کې جمهوري دولت اعلان کړ ، د ده په زمانه کې هم يوه لويه

جرګه جوړه شوه . دا لویه جرګه په ۱۳۵۵ لیږدیز لمریز کال دیوې علامیې په ترڅ کې اعلان شوه ،چې دمرغومي په ۱۹ مه نېټه به پیلیږي او په ۳۰ مه نېټه به پای ته رسیږي . ددې لویې جرګې له خوا اساسي قانون تصویب شو او هم محمد داود خان دولسمشر په توګه وټاکل شو .

په ۱۳۶۴ لیږدیزلمریز کال ،چې د ۱۹۸۵ زیږدیز کال سره برابره وه ،دغویي په درییمه نېټه په داسې حال کې ،چې دروسانو پوځونه په افغانستان کې شتون درلود ، یوه لویه جرګه دببرک کارمل له خوا جوړه شوه . نوموړې دملي واکمنۍ دټینګښت په اړه اوږدې خبرې وکړې او هم یې دروسانو او دهغوی دپوځونو دشتون په اړه څرګنده کړه : (ترهغوچې بهرنۍ لاسوهنې او تیری بندنشي ، دشوروي اتحاد پوځونـه بـه لـه موږ سره وي ...) او هـم یـې وویـل : (معیار وطن پرستی در سویتیزم است .) (دهېواد پالنې معیار په سویتېزم کې دی (.

په (۱۳۶۵) لیږدیز لمریز کال ،چې د (۱۹۸۶) زیږدیز کال سره یې سمون درلود ،دکمونست نجیب له خوا، چې دکارمل نه وروسته یې دچارواکۍ په لاس کې وې ، یوه لویه جرګه راوغوښتل شوه .

په ۱۳۶۶ لیږدیز لمریز کال، چې د (۱۹۸۷ (زیږدیز کال سره برابره وه ، دکمونست نجیب له خوا یو ځل بیا لویه جرګه راوبلل شوه ،چې په هغې کې یو اساسي قانون تصویب شو .

کله ،چې برهان الدین رباني واک ته ورسید، نو ده هم دلویې جرګې پر ځای دخپلې واکمنۍ دغځیدلو په پار دیوې شرعي اصطلاح (اهل الحل والعقد) په نوم دیوې شورا دجوړیدا هڅه وکړه ، داتش په نوم داهل الحل والعقد شورا په هرات کې جوړه شوه ، خو چې ولس شموله نه وه او نه یې شرعي بڼه درلوده، د اکثریت افغان ولس له خوا په چورلټ ډول سره رد شوه . ددغې جرګې پایلې شرمووونکې او خندوونکې وې ، ځکه په دغه شوراکې یوازې څو تنو جګړه مارانو او وینه څښونکو قوماندانو ګډون درلود ،چې د رباني له ګوندسره یې اړوند تیا درلوده .

د ۱۳۸۱ لیږدیزلمریز کال دغبرګولي په ۲۱ مه نېټه ،چې د ۲۰۰۲ زیږدیز کال دجون له ۱۱ مې نېټې سره یې سمون درلود ، داشغالګرو تر سیورې لاندې دپخواني پاچا ظاهرشاه له خوا یوه فرمایشي لویه جرګه پرانېستل شوه ،چې (۹) ورځې اوږده شوه او حامد کرزی یې دمنځمهالې اداري مشروټاکه . خو په تأسف سره چې حامد کرزي ظاهرشاه ته دملت بابا؟؟ لقب دې لویې جرګې ته واوراوه.

په ۱۳۸۲ لیږدیزلمریز کال ،چې د (۲۰۰۳) زیږدیز کال سره برابر و، داشغالګرو تر چتر لاندې کابل ته په اصطلاح د اساسي قانون دتصویب په موخه یوه بله لویه جرګه راوغوښتل شوه ،چې نوموړې جرګې دلیندۍ له ۲۲څخه دمرغومي تر ۱۴مې نېټې پورې دوام وکړ ،یادې جرګې دافغانستان اوسنی نوی قانون په (۱۲) څپرکواو(۱۶۲) مادوکې تصویب کړ ،چې اوسمهال دکرزي په اداره کې نافذدی .

دلویو جرګودې تاریخي شالیدته که څوک ځیر شي ،نو داسې جرګې زیات وخت کې دیوې برخلیک ټاکونکې حالت پر وخت جوړې شوي او رغنده پریکړې یې کړي، دیرې لږې به داسې هم پیښې شوي وي ،چې دنجیب او کرزي غوندې نا خلفو اشخاصو فرمایشي بڼه ورکړي وي او پریکړه یې دجرګو پر تاریخ ستر ګوزار وي .

که دیوې خوا نه جرګه فرمایشي وه ،نو دبلې خوانه یکې دجرګه والوقومي ،مذهبي او هم داهلیت او پریکړو دظرفیت تناسب او اندول په پام کې نه و، نیول شوی ،علماء چې زموږ دټولنې دستون فقرات حیثیت لري داسې مشهورې یې نه تر سترګو کیدي ،دجهادي مقاومت لورې خو لا له لومړې وهلت نه ورسره خپل پریکون اعلان کړ ،اودا سې جرګې یې په کلکو الفاظو وغندلې، چې دمقاومت نه حضور بخپله دلویې جرګې په نوم ناسته له

خپل اصلي پرستيژنه راوغورځوله او ددې جرګې ولسي او اسلامي اعتبار ته يې کلکه ضربه ورکړه او هم يې ددې جرګې پريکړې تر جدي سوال لاندې راوستلي ،همداسې پکې دغوڅ اکثريت ولس استازې نه وو بلل شوي ،هغه چې انځورونوکې ښکاريدل يا دهزاره جات يا دکمونست خونکار دوستم پلوه ښځې يا دباور خپلولوپاره داطرافو څو بې سواده او نالوستې دګوتوپه شمار داسې پښتانه چې آن بيچاره ګان لا دېګړې دتړلو په چل هم نه پوهيدل، بس صرف دصبغت الله مجددې خبروته به يې دهوکې هوکې !!سرونه خوځول نه نور په تحليل او ترازو پوهيدل اونه دخپلو پريکړو په عواقبو!!

خوبياهم امريکايانو ته دپوځي هډو دمشروعيت دپريکړې لپاره راغوښتل شوي ووا و دافغانستان ديوه ستراسلامي هيواد برخليک کې دپريکړې واک ورکړل شوی و((چې البته دداسې خاينانه پلانونودعملي کولو لپاره همداسې بې استعداده او بې ضميره ککرۍ دوخت ضرورت وي)) .... ،داسې مطبوعاتي راپورنه هم شته، چې آن دغرب دحلقه بګوش غلام ډاکتر سپنتا پرې خوله خوځولې ،چې امريکايانوسره دپوځي هډوسند لا واردمخه واشنګټن کې دکابل سفير(اکليل حکيمي) لخوا له خپلو امريکايي بادارانو سره لاسليک شوی او دا اوسنۍ جرګه صرف ديوه مشروعيت ورکولو لپاره راغوښتل شوي ،دايوه غولونکې هڅه ده، چې له امله يې دافغان مسلمان ولس دقهر ،بغاوت او عمومي پاڅون مخه ونيول شي که نه خبره لا ډيره مخکې خلاصه شوي اوداسې نام نهاده جرګوته نده ځنډيدلې .

باورلرو چې دافغانستان سوق الجيشي موقعيت ،مستته هوا ،اوبه ، دآسياپه زړه کې ددې خاورې ستراتيژيک اهميت اودافغانانوکلک اسلام او ديانت به هغه لاملونه وي ،چې تل يې دامريکا په څېردنړۍ زورواکي ياځان ته قهرولي او ياپې ددوئ هوس راپارولی وي ، خوداهم يوځمکنی واقعيت دی، چې دايمان په ځواک افغان مسلمان ولس دداسې نړيوالو زورواکيوسره ډغره وهلې اوپه خپلو زړوانګريزي اوشلخي ټوپکونويې پردوئ دا ارته ځمکه تنګه کړې ده .

مشهورامپراتور(سکندررومي)چې کله دنړۍ نيونې په تکل له آموسينده راپوريوت اوډير کلونه پس يې هم افغان ولس له بغاوته منصرف نکړای شو ،نوخپل فيلوسوف استاذ(سقراط)ته چې دنړۍ نيونې مشورې به يې ترې اخستلې ،يوه ليک کې وغوښتل ،چې افغانان ترهرډول فشاراو وژنو وروسته هم زماله مخالفته نه اوړي، مشوره راکړه! چې قتل عام پکې وکړم او موجوده نسل يې ټول له نيغه تيرکړم !

(سقراط)چې دافغانستان طبعي جغرافيه مطالعه کړې اوددې خاورې طبعي ځانګړتياوې ورته څرګندې وې ،سکندر رومي ته په ځواب کې داسې وليکل :چې ترکومه ځايه چې ما ددې اقليم او خاورې مطالعه کړې ،نو راته جوته شوې ،چې دې خاوره کې چې هر نسل پيداکيږي ،نوپه خلقي او فطري لحاظ به دپرديوسلطه اوحاکميت نه مني ،نوکه ته داموجوده توکم هم ووژنې ،نوی نسل به هم ستاغوندې دخارجيانوحاکميت په وړاندې بغاوت کوي او ترپايه به يې ارام نکړای شې ،دتاريخي لاسوندونوله مخې همدې فيلسوفانه مشورې (سکندر)دې اړيست چې پوځي شاګرځ وکړی اوخپلې لښکرې ددې خاورې نه وباسي .

دافغان ولس له نظره به امريکايان هم دخپلو ماتو شويو نيکونوپه شان په برخليک اخته شي او پداسې شرميدلې ماتې به له هيواده ووځي ،چې نه به يې بيا داسې فرمايشي جرګې مخه ډب کړې اونه هم خپل مادي وسايل ،تکنالوژي او يا دپاپانو مشورې !!!

پیمان امنیتی با امریکا هیچ ارزش نه خواهد داشت

ذبیح الله مجاهد

درکشوری که مثل افغانستان دوازده سال تحت اشغال امریکا قرار دارد ، اکثریت مطلق مردم ان درگیر جنگ نامتوازن با اشغالگران اند ، بمباران ، تلاشی خانه ها ، کشتار مردم بی دفاع پیرمردان ، خانمها و اطفال ازطرف همین اشغالگران ادامه داشته باشد ، هر روز تعداد شهدا به دست اشغالگران زیاتر شده میرود ، پس چیطور ممکن هست که یک کتله وابسته به اشغال و بهتر است بگوییم زاده اشغال بر خیزد ، برخلاف ارشادات دینی ، نورم های بین المللی و فرهنگ افغانی با همان اشغالگران که زیاد تر از یک دهه خون مردم ما را میریزند پیمان امنیتی ببندند و آنهارا ناجی و محافظ کشور خود فکر کنند؟ بستن پیمان نظامی به نیروی اشغالگر ودشمن ، به معنی خود کشی و خود را درهلاکت انداختن است ، بلی پیمانها با کشور های جهان در عصر کنونی یکی از ضرورت های اجتماعی ، اقتصادی و رفا هر کشور دانسته میشود ، ولی اجرای پیمان ها در ذات خود تفاوت دارد ، جهت دوم پیمان نیز متفاوت است که ذیلا آنرا زیر بحث میگیریم.

مشارکت با کشور ها در امور اقتصادی ، معاملات تجاری ، بازسازی کشور ، جلب سرمایه ها و بعضی از ارزشهای انسانی، لازم و نیازمندی هر کشور در جهان کنونی است ، ولی روی اصول و پرنسیپ های قبول شده، بشری ، عنعنات سالم کشور ، اصول دینی و اعتقادی مردم کشور خود باید شریک دارای شرائطی باشد که پیامدهای پیمان در دراز مدت ذلت و شرمساری را عوض بهبود در زندگی مردم به بار نیاورد .

۱ـ کشور شریک معامله باید سابقه دشمنی با دین ،کشور و ارزشهای کشور اول نه داشته باشد .

۲ـ کشور شریک معامله باید أنقدر بالا دستی وتفوق نه داشته باشد که درصورت تخلف از مواد پیمان ازآن باز پرسی نه توان نمود .

۳ـ خصوصا در کشورهای اسلامی پیمان با کشورهای غیر اسلامی باید در امور نظامی نباشد ، به خصوص به داشتن نیروی نظامی کشور غیر اسلامی ، چون

اینگونه پیمان ها شرعا مجاز نیست ، و سبب تفوق غیر مسلمین به مسلمین میگردد ، و ارزشهای دینی خواهی نه خوای صدمه می بیند وصریحا با نصوص شرعی در تضاد قرار میگیرد.

۴ـ محدوده پیمان باید کاملا روشن ، برملا و بدون کدام هدف غیر مجاز ، ترتیب شود.

۵ـ بخاطر اجرای پیمان، کشور اول باید حمایت تمام مردم خود را روی ریفرندوم وهمه پرسی به دست آرد ، تا در صورت پیامد ناسالم پیمان، تمام مردم پاسخ گو و مسئول باشند ، چون ضرر آن را نیز همه متحمل میشوند.

اکنون روی همین پرنسیپ های سالم و لازم ، پیمان اداره کابل را با امریکا تحت برسی قرار میدهیم:

اصل اول:

شرکت در پیمان با امریکا در شرائط کنونی مجاز نیست ، چون امریکا دوازده سال است که ، به کشور ما افغانستان یورش آورده ، مردم ما را به شهادت رسانیده وهنوزهم به کشتن مردم بی دفاع ومظوم ما ادامه میدهد ، دشمنی امریکا به دین ، کشور و ارزشهای دینی ما به هرکس معلوم است ، در مدت زیادتر از یک دهه ما شاهد بسا واقعات بودیم که اصول دینی ما از طرف امریکایها مکررا زیرپا شده ، قران کریم به آتش کشیده شده ، مساجد و مدارس بمباران شده ، علماء دینی ما به شهادت رسیده اند ، به زندان انداخته شده اند و بي غزت شده اند ، حریم خانه های ما به گونه مستمر از طرف نیروهای امریکای هتک حرمت شده ،خانمهای افغانی بی عزت شدند ، تجاوز ها صورت گرفته ، مردم ملکی قصدا به شهادت رسیده اند وحتی به آتش سوختانده شده اند ، به اجساد شهداء استهزاء صورت گرفته که این تسلسل ظلم و ستم هنوز هم به شدت خود ادامه دارد که دو روز قبل بمبارد بالای جنازه درنورستان و به شهادت رسانیدن ۷ فرد ملکی ، همچنان ام شب حمله شب هنگام دربتی کوت ننگرهار وبه شهادت رسانیدن دو فرد ملکی درحالت خواب، مثالهای بسیار اشکار وزنده دشمنی امریکا به ملت و ارزشهای دینی ما محسوب میشود ، پس در این حالت چیطور ممکن است که ما امریکا را شریک معامله فکر کنیم و به آنها پیمان داشته باشیم؟

اصل دوم:

اینکه کشور دوم یا شریک معامله باید آنقدر تفوق نه داشته باشد که درصورت تخلف نه توان به آن محاسبه کرد.

اکنون امریکا در همچو قدرت و تفوق قرار دارد ، هیچ تضمین بین المللی ، اسلامی و بشری وجود ندارد که در صورت تخلف از مواد پیمان ، میتوان امریکا را مجازات کرد ویا از آن حق ستانی نمود ، ماشاهد بودیم که در چند دهه گذشته به مراتب ، قوانین بین المللی و سازمانهای مهم جهان، از طرف آمریکا پایمال شده، از حقوق بشر تخلف صورت گرفته، ولی هیچ نهادی نه بوده که از امریکا پرسش نماید که چرا این تخلفات را انجام میدهد؟ ما شاهد اوال جنگ وتجاوز امریکا بر افغانستان وعراق بودیم که به زندانیان جنگی چه ظلم های وحشتناک به دست امریکای ها در زندان های گوانتانامو ، ابوغریب عراق و بگرام صورت گرفت؟ زندانیان به گونه طاقت فرسا مجازات شدند ، حتی تحت شکنجه به شهادت رسیدند ، اعضای بدن ایشان در زندگی بریده شد ، به وسیله حیوانات دریده شدند و با خانمان تجاوز جنسی صورت گرفت ، مگر هیچ داعی حقوق انسان نه بود که از امریکا انتقاد کند ودست ظلم امریکا را کوتاه نماید ، همه به چشم روشن همه چیز را می دیدند و خاموش بودند ، این همه بخاطر نیرومندی بیرون از حد امریکا و تفوق آن بود ، سال گذشته امریکا به اداره کابل پیمان دیگری را بست که نیروهای امریکایی دیگر حق ندارند به خانه های مردم در افغانستان در شب داخل شوند و مردم را آزار و اذیت نمایند ، ولی در جریان یک سال هیچ سکتگی در حملات شب هنگام امریکایی به وجود نیامده ، هر روز ما شاهد مردم ازاری و کشت وخون هستیم که به بهانه های مختلف از طرف نیروهای امریکایی انجام میشود و مثال آنرا فوقا تذکر دادیم که امشب هم نیروهای امریکایی

بالای خانه های ملکی در بتی کوت ننگرهار حمله شب هنگام انجام داده اند و دوفرد ملکی را به شهادت رسانده اند .

اصل سوم:

ما گفتیم که کشورهای اسلامی شرعا حق نه دارند با کشورهای مقتدر غیر اسلامی وارد معامله نظامی شوند که در نتیجه آن حتی نیروه نظامی کشور غیر اسلامی در حریم کشور اسلامی حق زیست داشته باشد ، اولا حضور دراز مدت نیروهای کفری در کشور اسلامی حیثیت وابرو کشور اسلامی را زیر سوال قرار میدهد ، ثانیا موجودیت نیروهای کفری در کشور اسلامی سبب گسترش فعالیت های استخباراتی ، ضربه زدند به ارزشهای دینی و ترویج فحشاء در سرزمین اسلامی میشود ، ثالثابعضی از جرایم که در شرع اسلامی جرم پنداشته میشود ، ولی کشورهای کفری آن را جرم نه بلکی لازمه حق انسانی می دانند ، مثل زنا ، همجنس بازی ، توهین به مقدسات ، دعوت به کفر ،ترویج فرهنگ ناسالم کشورهای غربی در جوامع اسلامی که ماشاهد آن در تمام کشورهایکه با امریکا چنین پیمانی داشته اند هستیم ، زمان ارتکاب این جنایات عساکر کفری از مجازات شانه خالی خواهد کردند و انرا اصلاجرم نه خواهد شناختند ، در صورت تمام تخلفات فوق باز هم هیچ تضمین عملی یی وجود ندارد که جلو چنین فعالیت ها را در عمل بگیرد.

اصل چهارم:

محدوده پیمان امریکا به اداره کابل کاملا روشن نیست ، در ماده ها و متن پیمان صریحا گفته نه شده که امریکا بخاطر چه نیازمند این پیمان است ؟ هدف عمده و استراتیژیکی آنها از چه قرار است ؟ چرا امریکا حاضر است به اساس پیمان به اداره کابل پول گزاف به مصرف برساند ، مخالفت های مردم خود را تحمل کند و درحال که هنوز جنگ ادامه دارد زندگی عساکر خود را در مخاطره قرار دهد ؟آیا هدف قایم کردند سلطه بر منطقه نیست ؟آیا نه میخواهد نفوذ امریکا را از بام آسیا بر تمام اسیا گسترش دهد ؟آیا هدف جلوی گیری از نزدیک شدن کشورهای منطقه با هم نیست ،که مبادا اتحاد منطقوی در آسیا به وجود بیاید و منافع نامشروع امریکا زیر سوال قرار گیرد ؟آیا حضور امریکا بخاطر آن نیست که از خانه ما تمام کشورهای نیرومند منطقه را تحت شعاع داشته باشد و پیشرفت منطقه را به چالش کشد ؟این همه سوالها در متن پیمان با امریکا پاسخ ندارد ، که طبعا ما را با کشورهای همسایه و منطقه در بدبینی قرار میدهد و افغانستان را به نقطه کش وگیر فعالیت های ضد ونقیض استخباراتی منطقوی و امریکامبدل می سازد ، کاری که زیاتر از سه دهه عامل اصلی همه بدبختی ها در افغانستان بوده است.

اصل پنجم:

اداره کابل سعی نمود که جرگه فرمایشی را همچو جرگه های زمان نجیب دایر نماید ، که اکثریت عمده آن افراد داخل در اداره کابل هستند و منافع شخصی اینها همه با امریکا گره خورده ، پول ، کرسی ، موتر ، نام ونشان شان همه مدیون اشغال امریکا اند ، این افراد معهود هرگز نه میتوانند از تمام ملت نمایندگی کرد ، زیرا همین اکنون اکثریت مردم ما با امریکا درگیر جنگ هستند ، قربانی میدهند و زجر اشغال را میکشند ، بلی یک تعداد شاید کسانی نیز به لوی جرگه فرمایشی اداره کابل راه یافته باشند که مخالف چنین پیمانها اند ، ولی انها قبلا مقهور گردیده اند ، تعداد انها به دلیل مخالفت با پیمان امریکا جاسوسان کشورهای همسایه دانسته شده اند و تعدادی هم که باقی مانده اند رایی شان روی فورمول دیموکراسی به اساس معتبر شمردن اکثریت آرا ولو که هرگونه باشد از اعتبار ساقط خواهد شد .

پس درعموم جرگه فرمایشی کابل یکی از جرگه های شخصی چند افراد دزد ، رشوه گیر ، مفسدین اخلاقی ، مزدوران دوازده ساله امریکا و غلامان معلوم الحال است که نزد شرع مبین اسلام ، مردم غیور افغان و اصول ازاد انسانی مردود است وهیچ معنی و ارزش نه خواهد داشت.

په امنيتي تړون کې د افغانانو کومې ګټې تضمين دي ؟

شاهد غزنيوال

د کرزي او امريکا ترمنځ د امنيتي تړون په اړه د مشورتي لويې جرګې له جوړيدو سره سم خبرونو او بحثونو زور اخيستی.

يو شمير هغه رسنۍ چې په افغانستان کې د امريکايي اشغال تر سيوري لاندې ايجاد شوي او د هغوئ په مالي مرستو تغذيه کيږي د دغه تړون په پلوي خپروني کوي، هغه د افغانانو لپاره ضرورت او د هغوئ په ګټه تړون بولي

مونږ غواړو دلته د امريکايانو د هغو استراتيژيکو اهدافو په اړه چې دوئ يې د همدې تړون په زريعه ترلاسه کول غواړي ليږ رڼا واچوو او همدارز د هغو اقتصادي لګښتونو په اړه چې دوئ په افغانستان کې د خپل اشغال د تحکيم لپاره د مالي مرستو ترعنوان لاندې کړي او يا يې له دې وروسته کوي يو ځغلنده نظر وکړو

د امريکا مالي مرستې او دهغوئ په نظر کې نيول شوي اهداف

سپينه ماڼۍ دنړۍ له هغو هيوادونو سره چې دامريکا ترحمايت لاندې او يا دهغوئ دمرستو اړدي د مالي مرستو ځانګړي اداره لري. دغه اداره د امريکا د نړيوالې ودې د پراختيايي آژانس United States Agency for International Development (USAID) نوميږي چې په کال ۱۹۶۱ کې د امريکې د هغه مهال ولس مشر جان کينيډي لخوا تاسيس شوې او هرکال له معينو هيوادونو سره خپلې تاکل شوې مرستې کوي.

دغه اداره که څه هم چې له تشکيلاتي اړخه يوه مستقله اداره ده خو د هغې هرډول مرستې په مستقيم ډول د امريکا د جمهوري رياست ، خارجه وزارت او کانګريس تر توجيه او لارښوونې لاندې د هغو هيوادونو لپاره په پام کې نيول کيږي چې همدغه دری واړه ياد شوي مراجع له هغوئ سره دمرستې پريکړه وکړي ، او دغه مرستې هم دهغو مشخصو اهدافو او پلانونو د ترسره کولو په غرض ترسره کيږي چې د امريک دجمهوري رياست ، کانګريس او وزارت خارجه لخوا پلان شوي وي.

له افغانستان سره د امريکا پخوانۍ مرستې چې امريکايان يې له افغانانو سره مرستې بولي خو په حقيقت کې هغه د دوئ د پوځي او استخباراتي فعاليتونو د عملي کولو لګښتونه دي د همدې اداري

(USAID) لخوا ترسره شوي او راتلونکي هغه به هم د دې امریکايي اداري د پلانونو اوتګلارې مطابق ترسره کېږي.

د افغانستان د اشغال له پیل نه تراوسه پورې د امریکا لخوا هرکال د افغانستان لپاره ۱۱۰ ملیارده ډالره کلني بودیجه ټاکل شوې چې د امریکايي ځواکونو لخوا دهغوئ د پلانونو مطابق په مصرف رسیدلې.

هغه لګښتونه هم په دغو مرستو کې شمیرل کېږي کوم چې د تیرو دولسو کلونو په جریان کې د امریکايي پوځي الوتکو د الوتنې او همداراز د هغوئ دپوځي نقلیه وسائطو په تیلو او ترمیمولو کې لګیدلي.

دا خو ښکاره خبره ده چې د افغانستان په فضاکې د امریکايي الوتکو پروازونه او د هغوئ د نقلیه وسائطو حرکات ټول د افغانانو د وژلو ، د هغوئ دکورونو د ورانولو او د هغوئ د پاتې اقتصادي زیربنا د تخریبولو په غرض ترسره شوي.

مانا دا چې امریکایان زمونږ د کلیو ورانول ، زمونږ د هیواد والو شهیدانول او د هغوئ بندیانول هم په مونږ باندې دمرستو په نامه حسابوي او اوس بیا بیا داخبره تکراروي چې که له هغوئ سره امنیتي ترون لاسلیک نشي نو هغوئ به خپلې مرستې !! اقطع کړي.

د امریکایانو لخوا چې په تیرو ۱۲ کلونوکې کومې مرستې په ملکي برخه کې شوې هم هغه د دوئ دپوځي چاروا کو (پي ،آر، تي) ترنظارت لاندې د هغوئ د پوځي پروګرامونو لپاره د زمینه سازي په خطر ترسره شوي.

دهمدغو مرستو ټوله برخه په پلاني ډول د اداري فساد ، اختلاس او نورو اجتماعي انحرافاتو د خپراوي لپاره لګیدلې او تراوسه پورې د ټول افغانستان په سطحه داسې بیلګه ځوک نشي وړاندې کولای چې یادې مرستې دې په اهمو زیربنایي پروژو په سمه توګه مصرف شوې وي.

افغانان او س هم حتی د کابل په ښارکې دژوند اساسي اړتیاوو ته لاس رسی نه لري ، د ارګ په څو کیلو متري کې د تګ راتګ عمومي واټونه ، خراب ، د کابل ښار په ډیره برخه کې بریښنا نامنظمه ، د ښکاک اوبه او دژوند نورې اساتیاوې ښاریانوته نه دي برابرې ، فقر ، بیکاري او نیستي خپل اوج ته رسیدلې.

داخو دکابل ښار وضعیت دی چې دامریکا په شمول دنړیوالې ټولنې د ۴۸ هیوادونو مالي مرستې ورته را روانې دي ، له کابل نه بهر کلیوالو سیمې په تیره جنوبي او جنوب لویدیځ ولایتونو خو د بیا رغونې او ابادي په نوم څه پیژني هم نه.

ښه نو کله چې د امریکایانو د سلګونو ملیاردونو ډالرو دترسره شویو مرستو په صورت کې د افغانستان دپلازمینې کابل دغه حال وي ، نو په راتلونکي کې چې د امریکایانو د مرستو ټول تمرکز دهمدغه امنیتي ترون له مخې یوا ځې په پوځي مرستو وي افغانانو ته به دهغوئ څه ګټه ورسیږي ؟

کوم نظام چې د امریکایانو په مرسته اوس ایجاد شوی او پاله دې وروسته د امریکايي انتخاباتو په ترځ کې راځي دهغه اساس په فساد ، اختلاس او بډو وضع شوی ، همدغه فاسد نظام خپله دا مریکایانو په اعتراف د نړۍ په کچه تر ټولو لومړی درجه فاسد نظام ګڼل کیږي ،تراوسه هم د امریکایانو په دستور د همدغه نظام دمافیايي شبکو لخوا له افغانستان سره په سلګونه میلیارده ترسره شوې مرستې غلا شوې له دې وروسته به هم کیږي ، ولس به ترې هیڅ ګټه نشي کولای .

د امنیتي تړون امنیتي زیانونه

مونږ مخکې وویل چې امریکایان اصلا په دې فکر کې نه دي چې د هغوئ په مرستو دې عام افغانان هوسا او د ښه ژوند څښتنان شي ، هغوئ چې تراوسه د مرستو په نامه له افغانانو سره څه کړي هغه په حقیقت کې د هغوئ د اشغال د ټینګښت لپاره اقتصادي لګښتونه دي چې په افغانستان کې په یو لړ داسې پروژو لګیدلي چې هغه په پوځي ، تبلیغاتي او فکري لحاظ دا امریکایانو په ګټه دي اوس چې هغوئ د امنیتي تړون په لاسلیکولو ټینګار کوي هم غرض یې خپل یو لړ خاص استراتیژیک اهداف دي چې هغه په هیڅ ډول د افغانانو په امنیت پورې اړه نه لري بلکې د هغوئ په وسیله د افغانانو امنیت لا تر تهدید لاندې راځي .

امریکایان غواړي د همدغه امنیتي تړون له لارې په افغانستان او سیمه کې امریکایي نفوذ ته لاره هواره کړي ، هغوئ غواړي په افغانستان کې د خپلو (۹) دائمي اډو په وسیله په افغانستان او منځنۍ آسیا کې د خپل اقتصادي او سیاسي رقیب چین د نفوذ مخنیوی او د ایران د هستوي ځواک د مراکزو څارنه وکړي ، چې دغه ټول اقدامات یواځې د امریکایي مصالحو د تحقق په غرض ترسره کیږي او افغاني لوري ته یې تر محتملې ګټې یقیني تاوان ډیر زیات دی ؛ ځکه په دې سره به د امریکا سیمییز مخالفین حتما په مقابل اقدام لاس پورې کوي او په نتیجه کې به یې افغانستان د سیالو قوتونو ترمنځ د پوځي سیالۍ ډګر ګرځي او د لسو کلونو لپاره به نورهم دلته د جګړې اور د افغانانو په سر بلیږي .

ترهرنامه لاندې چې وي په افغانستان کې د امریکایانو موجودیت په دغه هیواد کې د جګړې د اور دتازه ساتلو په معنادی ؛ ځکه نه افغانان دیته تیاردي چې په خپلو اک افغانستان کې دې بهرني یرغلګر ومني او نه د افغانستان ګاونډیان په خپل ګاونډ کې داسې ځواک زغملی شي چې هغه دې د دوئ حرکات او پوځي مراکز تر څارنې لاندې ولري.

بس نو له یوې خوا به افغانان له خپل هیواد څخه د دفاع په روحیه له امریکایانو سره په جګړه وي او له بلې خوا به ګاونډیان دخپلو حریفو امریکایانو دټکولو او تخریبولو لپاره په بالمثل اقدام لاس پورې کوي او په دې سره به دجګړې لمبې نورې هم ژیغرانده کیږي او ضرربه یې تربل هرچا زیات افغانانو ته رسیږي.

امریکایان غواړي د نړۍ د ترټولو شریرو خلګو په حیث د افغانستان او د هغوئ دګاونډیانو ترمنځ د نفرت او تصادم داسې فضا ایجاد کړي چې دوئ په آسانۍ سره وکولی شي له هغې لارې خپل نفوذ او بقاء ته زمینه مساعده کړي ، له تیرو ۲ کلونو راهیسې د افغانستان او پاکستان په ختیځو سرحدي سیمو کې مونږ د امریکایي شیطانت د دغسې تحرکاتو شاهد وه چې هغوئ به یې د جګړې له پیلو لو وروسته د سیل بینانو په توګه ننداره کوله.

خلاصه. امنیتي تړون په خپل مفهوم سره رینښتیاهم یواځې په افغانستان کې دامریکایي مصالحو د تأمینولو لپاره امنیتي شرائط برابروي او د افغانانو لپاره له تباهۍ ، بې امنۍ او بې ثباتۍ پرته بله هیڅ معنا نه لري ، په هیواد مین افغانان په هیڅ ډول د دغسې امریکایي امنیت تأمینونکی تړون منلو ته تیار نه دي او دهغه د شنډولو لپاره له امریکایانو سره د وسله وال جهاد تداوم تر ټولو غوره لار بولي.

داصول فقه او اجتهاد تاریخ

داسلامي نړۍ ثقه عالم ډاکټر محمد حمید الله رح
ژباړه شهاب منصور

لومړۍ برخه

دنن موضوع اصول فقه ده ، واقعاً دایوه داسې موضوع ده چې، وربانديې تنهٔ مسلمانان ویاړلی شي ، دقوانینو لړ کې دنړۍ مختلفو قومو څه نه څه زیاتونې کړي ، خو دمسلمانانو ترټولو لویه کارنامه "اصول فقه "ده !! له مسلمانانو وړاندې نړۍ کې قونینو شتون لاره ، لیکن "داصول فقه" پشان علم دنړۍ له هیڅ هېواد اوهیڅ قوم سره نه وه !! مونږ په جرئت وایو چې دقوانینوبرخه کې "اصول فقه" یوه داسې ځانګړې زیاتونه ده ، چې په سبب یې د قانون ترټولو لویه نیمګړتیا پوره شو !!تاسي ټول پوهېږئ چې دنړۍ په هر قوم او هر هېواد کې شته قوانین دوه ډوله دي؛

یو د نهایتې تاریکې دورې رانیولې ترننه په هرهېواد اوهر قوم کې یوډول نالیکلي قوانین مومو!کوم چې عبارت له رسمونو اورواجو دي !دا په هر هېواد اوهرقوم کې شته دي ، لیکن مونږیې دمصنف ،مؤلف اولیکوال په حیث څوک نه پیژنو.خو په مغوټول خلک ورباندې عمل لري !

دویم: هغه قوانین دي چې دکوم واکمن اوپاچا له لورې د تدوین وروسته نافذ کېږي ! عموماً دا ډول قوانین مونږ په لیکلي بڼه مومو! په هر صورت انسان خپلو فطري اساسي غوښتنوته په پام دځان لپاره قانون جوړوي ،او بیا په هغه عمل کوي، له دې وجې قانو دهري بشري ټولنې یوه اساسي اړتیا او خصوصیت دی.

تر کومه ځایه چې دقانون لیکلو خبره ده ، غالباً ترټولو پخوانی لیکل شوی قانون چې مونږ ته رسیدلی ، هغه د"حمورابي" پاچا قانون دی ،څوک چې دعراق پاچا و، دنویو غربې څېړنو په استناد؛دا هغه پاچا دی، کوم چې دابراهیم علیه السلام په مقابل کې په نمرود شهرت لري ، ددې راې دلیل دادی چې د دواړو زمانه یو ده ، (اټلس سوه پنځوس قبل مسیح)اوهېواد یې هم یو دی . د"حمورابي" قانون مونږ ته په لیکلي بڼه رسیدلی ، دایران "سوس" نوم ځای کې څه موده وړاندې دکندلو

پرمهال یوه تورزنګه ډېره ترلاسه شوي ، پرهغه دوه شکلونه کنبل شوي ، دڅېړونکو په وینا یو دحمورابي پاچادی او بل دخدای .داسي ښکارې چې حمورابي له خدای احکام اخلي ، ډېره یوې ستنې ته ورته ده . ور باندې په میخي رسم الخط قانون کنبل شوی . غربي څېړونکو چې هغه ډبرلیک لوستې او ژباړلې دنړۍ په زیاتړو لویو ژبو کې خپرې شوي . چې دیوه پخواني لیکلي قانون په توګه یې یادونه پکار ده . خوددې معنی دانده چې هغه غوره قانون دی . زه تاسو ته یومثال درکوم :ددغه قانون په مادو کې یوه ماده د قصاص اخستو ده . مثلاً که زه یو څوک ووژنم ، باید زه دمرګ په سزا محکوم شم . دې اتفاقي اصولو ته دحمورابي پاچا مشاورینو دومره ترقي ورکړې چې تر خندونکې حد یې بیولي :دهغه قانون له مخې که یو سړی دبل سړي ځاروی قتل کړ .په قصاص کې دې د قاتل ځاروی هم قتل شي . ممکن تاسي داومنئ! زه وایم د قاتل دځاروي قتلولو او دهغه ضایع کولو په ځای غوره داده چې محروم سړي ته دخپل ځاروي عوض ورکړي . یعنې دځاروي په بدل کې ځاروی ! هم دا راز پکې لیکلي :که یوتن دبل تن لور قتل کړه ، قصاص کې دې د قاتل هم لور ووژل شي !! اوس دهغې خوارې څه جرم دی ووژل شي ؟ . داندہ معلومه چې سزا ولې دقاتل په ځای دهغه لور ته ورکول شي ؟ لـه دې وجې مـونږ وایـو چـې دقصاص دغـه اصـول د"حمورابي" په زمانه کې په ډېره ناپوهۍ تر افراطیت رسول شوي وو ، نن زمونږ سالم عقلونه ندي تیار چې دانصاف په نوم دغه اصول اومني .لیکن څلورزره کاله وړاندې خلک به هم دومره پوهیدل چې دانصاف او ښه قانون دی . دخدای له لورې راغلي . ددې څخه علاوه نور قوانین هم مونږ ته رسیدلي دي . مثلاً په مصر کې د "هیرو غلیفي"(hiro glyphic) کوم ډبرلیکونه مندل شوي په هغو باندې هم قوانین لیکلي .رومي قانون هم ترلاسه شوی . یونانې قانون هم مونږ ته رسیدلی ، په دې علاوه چینایي ، اوهندوستاني قوانین هم مندل کېږي ، دامریکا دپخوانیو اوسیدونکو ریډ انډین (Red Indin) قوانین هم لاس ته راغلي . لنډه داچې دنړۍ په هرهېواد کې قانون موندل کېږي ، خو یواځې قانون !!! نه د قانون علم !!!

قوانینو ته دحکمونو یوه ټولګه ویل کېدای شي ، چې دا وکړه او هغه مه کړه ، خو دقوانینو دعلم او اصولو نشتوالي په هرهېواد کې شته ، یعني دابحث ،چې قانون څه ته وایي؟ ، قانون څه ډول جوړېږي؟ پکې بدلون څه ډول شوني دی ؟ څه ډول ښودل کېږ؟ کـه قانونکې ددوه حکمونو ترمنځ تضاد راشي ، په کوم حکم به عمل کېږي اوپه کوم نه ؟ غرض داچې دغه قانون پخپل مجردتصور سره نړۍ کې دهیچا ،هیڅ هېواد او هیڅ قوم سره نه وه ، څو چې اسلام نه و راغلی .داسلامي تاریخ په لومړیو دوه پیړیو کې فقهاوو نه و وړاندې کړی ! څنګه چې ما وړاندې تاسو ته عرض وکړ ، په دې یواځې مسلمانان دویاړلو حق لري ، په دې معنی چې قوانین دنړۍ په هر هېواد کې وو ، خو"علم القانون" پخپل مجرد تصور چا و نه وړاندې کړی ، اصول فقه هغه علم دی ، چې اطلاق یې نه یواځې په اسلامي قانون کېږي، بلکې دنړۍ په نورو قوانینو هم کیدای شي.

ماچې داصول فقه په اړه دکومو مسائلو یادونه وکړه، قانون څه ته وایي ؟ څه ډول جوړېږي ؟ اوداسې نور... څنګه چې داپوښتنې له یوه مسلمان کیدای شي ؟ .له رومیانو ،یونیانو او هندوانو هم کیدای شي، ستاسي په ذهن کې قانون څه مطلب لري ؟ قانون څنګه جوړېږي ؟ څوک یې جوړوي ؟ کله جوړېږي ؟پکې تغیر اوبدلون څه ډول راځي ؟ څ ډول منسوخیدای شي ؟ زیاتوني پکې څنګ راځي ؟ قانون په کوم اساس جوړېږي ؟ داپوښتنې دهر نظام له قانونه کیدای شي ؟ هو! ددې پوښتنو ځوابونه به مختلف وي . خو هغه علم (اصول فقه) چـې د پورتـه پوښتنو دمجردتصوراتو پـه اړه دی . پـه لـومړي ځـل مسلمانانو وړاندې کړی دی او په اصول فقه یې نومولی !

دا ماته نده معلومه چې ولې یې دانوم غوره کړی ؟ په اړه یې دا رایه لرم ، دعظیم الشان قرآن له یوه مشهور ایت اخستل شوي ، هغه ایت تاسو ټولو ته معلوم دی ﴿ مثل كلمة طيبة كشجرة طيبة اصلها ثابت وفرعها فى السماء ﴾(۱۴:۲۴)دښې خبرې مثال د ښې ونې په څېر دی ، چې دهغې ولې په زمکه کې کلکې وي ،اوښاخونه اسمان پورې خواره وي) دلته دوه خاص لفظونه راغلي " ولې" او"ښاخونه"زمونږ فقهاوو "اصول فقه" "اصل" ولې ګرځولي ،دقانونې مادي او حکمونه یې "فروع "ګرځولي ، یعنې "علم اصول اوعلم فروع " دا داصول لفظي معنی ده ، په هر صورت اصول څو هغه مهم لومړني تصورات دي چې په اساس یې نورمادي جوړ ولې شي .

دا (فن) په لومړۍ زمانه یعنې دنبوت اوراشده خلافت په دورو کې نه و ، وروسته په دې موضوع چې کله لومړي کتابونه لیکل شوي ،ټول مسلمانانو فقهاوو لیکلي ، دافن تیرې پیړۍ پورې د مسلمانانو پرته له بل هیڅ ملت سره نه و ، وروسته اروپایانو یاد کړ ، ماته یاددي څلویښت کاله وړاندې په کال ۱۹۲۸ز کې زه پوهنتون کې دحقوقو شاګرد وم، په دې مضوع یو کتاب چاپ شو، دهغه نوم (Angorah Reforms) دی ، دا په انګریزي ژبه یوه فرانسوي پروفیسر لیکلي ،هغه ته دلندن پوهنتون چارواکو دپوهنتون سل کلنې کلیزې لمانځلغونډې ته بلنه ورکړه ، نوموړي درې لیکچرونه ورکړل دلومړي لیکچر موضوع Anjorah Reforms وه ، اتاترک مصطفی کمال پاشا چې په ترکیه کې تازه پخواني قوانین منسوخ کړي وو ، په ځای یې نوي قوانین نافذ کړي وو ، لکه اتاترک دسویس او اټالیا قوانین په ترکیه کې پلي کړل ، اسلامي قوانین او مادې یې رد کړي اونور کوم څه چې په ترکیه کې نوي پېښ وو ،لکه دترکې خولۍ په ځای دهیټ خمخا استعمال اونور... دالیکچر تر ډېره دغو موضوعاتو ته ځانګړی و ، ځکه دا نوي موضوع وه ، په اړه یې هغه مهال غوغا اوډنډوره هم ډېره روانه وه ،ددویم مضمون عنوان Roots fo law و ، یعنې دقانون ولې ،(اصول) زه اعتراف کوم چې په لومړي ځل ددویمې مقالې په لوستو ماته پخپل ستر میراث علم راغی !! چې مسلمانانو دومره لویه کارنامه(contribution)سرته رسولې ! ولې کاؤنټ اوستروروګ (o strorog) څوک چې دیاد کتاب مصنف دی ، وویلي :دا علم له بل هیڅ ملت سره نشته ، دا نړۍ ته دمسلمانانو ستره ورکړه ده! دغه اسلامي کارنامه(con tributio)کومه چې په دونیاوي علم باندې رڼا اچوي ، ورته "اصول فقه" ویل کېږي ، داصول فقه مفهوم له بیانولو وړاندې زه په لنډ ډول غواړم خپلې پروني خبرې تکرار کړم .

داسلامي قانون پیل درسول الله (ﷺ) له نبوت وروسته شوی ، په لومړي سر کې دمکې په ځینو پخوانیو رسمونو اورواجو کې کرار ، کرار دقرآن اوحدیث له لارې د تغیر ،ترمیم او اصلاح لړۍ شروع شوه ، پخواني شرائع او تعاهدات هم په ځای پاته وو ، کله چې رسول الله (ﷺ) وفات شو ، دقانون سرچینه بنده شوه، یعنې دوحي له لارې دقانون جوړولو او تغیرولو هغه صلاحیت اوفرصت چې وه هغه پاته نشو ، موږ ګورو چې د رسول الله (ﷺ) دخپل وفات پر مهال یې کوم څه موږ ته پرې ایښي وو ، په هغو اکتفا وکړو ، په عامو حالاتو کې به موږ لپاره داخبره دستونزو باعث وه ، که د قانون دودې صورت پخپله موږ ته الله (ﷻ) اودهغه رسول الله (ﷺ) نه وای ښودلی ،دا درسول الله (ﷺ) دژوندوروستیو ورځو پورې اړه لري ، کله چې یمن ته یې یو تن د والي په حیث لیږه یعنې له حضرت معاذبن جبل (رضي الله عنه) رسول الله (ﷺ) وپوښتل :فبم تحکم (څنګه به حکمونه ورکوې ؟) ځواب یې ورکړ :بکتاب الله (دالله دکتاب سره موافق) رسول الله (ﷺ) وپوښتل :فان لم تجد (که ته په قرآن کې هغه مطلوبه حکم ونه مومې ، بیابه ؟) هغه ځواب ورکړ : فبسنة رسول الله (درسول الله ﷺ دسنت سره برابر به حکمونه کوم) رسو الله (ﷺ) بیا وپوښتل :فان لم تجد (که په سنت کې مطلوبه حکم ونه مومې ؟) هغه ځواب ورکړ : اجتهد برایی ولاآلو (زه به له خپلې راي سره برابر اجتهاد کوم اوپه دې کې به خپل ټول توان نه سپموم) رسول الله (ﷺ) ته داځواب دومره خوښ شو چې اسمان ته یې لاس پورته کړ ، وې ویل : الله تا چې د خپل رسول (ﷺ)؛ رسول ته کوم توفیق ورکړ ، ستا رسول په هغه راضي دی !!له دې زیاته ستاینه اوتعریف به بل څه وي ؟

دغه اصل (درسول الله ﷺ وینا) اسلامي قانون ته ژوند ښونکي اوپه هرځای کې په کار راځي ، دغه وجه ده چې یو بیطرفه شخص هم ویلای شي ، چې اسلامي قانون دځوارلس سوه کلو راهیسې روان دی ، په راتلونکي کې هم دحرکت ځواک لري ، که نه وای نویواځې دقرآن او حدیث دبسیا په صورت کې ممکن ځیني خلک دقرآن اوحدیث نه په استنباطولو کې حیران پاته وای چې موږ اوس څه وکړو ؟ واقعاً داصورت پیښ و ، چې یو څېز ځینو خلکو یوشان معلومه وه او دنورو نظر بیا هغه ځای ته نه وای رسیدلی ،هغه حیران پاته وای !

یوکوچنی مثال تاسو ته درکوم چې هغه د امام اعظم ابوحنیفه (رحمه الله) په اړه دی ، غرض مې دهغه ذهانت ښودل نه ، بلکې تاسوته یومثال وړاندې کوم چې څنګه یو څېز ځنې خلک پیژني اوځیني نه .: یوه ورځ یوه کور کې دمیرمنې اومیړه ترمنځ په څه خبره جنګ وشو ، شپې نا وخته اول خاوند قسم وکړ اوخپلې میرمنې ته یې وویل : دلمر راختو

څخه وړاندې که تاماسره خبرې ونکړې، په ماته طلاقه يې ! ميرمن يې هم زياته ژبوره او ضدي وه هغې هم په الله ﷻ سوګند وکړ چې دلمر راختو وړاندې به زه له تاسره خبرې ونکړم !بيا دواړه ويده شول يا نه؛ خو چوپ شول، سهار اذان وشو، دلمر راختو وخت راغی ، هغه تن لمونځ ته لاړ، بيا مشهور فقيه ابن سيرين ته ورغی ، کيسه يې ټوله له سره هغه ته تيره کړه، ابن سيرين وويل : وروره ! لاړ شه ميرمن دې په تا طلاقه شوې ... نور ګرځه مه ... هغه د نور سپيناوي لپاره په منډه ،منډه امام ابوحنيفه (رحمه الله) ته لاړ اوهغه ته يې خپله کيسه هم وکړه ، امام ابوحنيفه (رحمه الله) وويل : خير خفه کيږه مه، طلاق ندی واقع ، هغه حيران بيرته ابن سيرين ته راغی : ستانه وروسته ابوحنيفه ته لاړم ، هغه وويل : ميرمن دې نده طلاقه :ابن سيرن تعجب وکړ، طلاق څنګه ندی واقع ؟ سملاسي هغه سړي سره يوځای امام ابوحنيفه ته ورغی وي ويل : ابوحنيفه الله نه وډار شه ! دا څه وايې؟ په دې سړي ميرمن طلاقه ده اوتا ويلي نده ! که دا هغې سره يوځای شو نوزنا کوي؛ ددې اخروي مسؤليت په تا دی ؟، دخدای لپاره دا څنګه ځواب دی ؟ امام ابوحنيفه وويل : هو! زه پخپله خبره ولاړيم ! وروره ته دې کيسه بيا وکړه، هغه سړي کيسه وکړه ما مې خپلې ميرمنې ته وويل که تا ماسره ترلمر راختو خبرې ونکړې ، په ما طلاقه يې ،ځواب کې ميرمنې مې وويل : په خدای (ﷻ) سوګند زه به تاسره دسبا لمر ختو پورې خبرې نکوم ! امام ابو حنيفه ابن سيرين ته وويل : زه پخپله رايه ولاړيم ، چې طلاق ندی واقع ، ولې دې سړي داندې ويلي چې ميرمن يې ورسره کومه خبره وکړي ، کله چې هغې وويل :زه هم له تاسره خبرې نه کوم په دې صورت کې دا شرط که تا ماسره دسبا لمر ختو پورې خبرې ونکړې پيښن نشو ! اوس دلته څرګنده شوه چې يوه واقعه ده، يوه سړي يو ډول معلومه کړه ليکن دبل نظر هغه نکتې ته ندی رسيدلی .

غرض داچې داسلامي قانون دودې لړ کې که داجتهاد اجازت نه وای ،ټول خلک به اړ و چې ديوې جزي مسئلې په اړه هم صريح حکم په قران اوحديث کې ومومي ، شوني ده چې يو وخت لوی نه لوی فقيه اومجتهد هم د کومې مسئلې په اړه څرګندحکم نه په قرآن مجيد کې ومومي اونه په حديث کې ، تاسو به لوستي وي چې يو ځل کله حضرت عمر (رضي الله عنه) دخپلې يوې فيصلې په اړه حضرت علی (رضي الله عنه) متوجه کړ ، ناڅاپه دحضرت عمر (رضي الله عنه) له خولې ووتل : "لولا علی لهلک عمر" هغه اجازت چې معاذ بن جبل (رضي الله عنه) ته شوی و ، اجتهاد کوڅ ، په دې سره داجتهاد اصول په لاس راغلل اوټولې ستونزې لرې شوې .

دراشدينو خلفاوو په زمانه کې هم کله نه کله په اجتماعي توګه غوروفکر کيده ، خلکو خپل منځ کې بحثونه کول ، چې په دې اړه بايد څه وکړای شي ؟ يوه تن به که يو نظر ورکړ بل به دهغه په نظر نيوکه وکړه چې : محترمه ! داسې نشي کيدای ، په دې کې دا نيمګړتيا ده ، داسې کول ښه دي ، په دې خپل منځي بحث سره به خلک يوې نتيجې ته ورسيدل ، په هغه زمانه کې دا کار ډېر ګټور ثابت شو ، ولې چې درسول الله (ﷺ) کړې حکمونه نه و راغونډ شوي ، بخاري ، مسلم او شپږ صحاح کتابونه نه و ليکل شوي ، بلکې دخلکو په دماغو او حافظو کې خوندي وو ، کله به يې پخپل منځ کې سلا اومشوره کوله ، په ضمن کې به يې زيات هير شوي شيان هم په زړوشول ، رسول الله (ﷺ) يوه ورځ داسې فرمايلي و... ، په دې توګه داسلامي قانون په اړه هغه معلومات په حديث کې و ، په راغونډولو يې دقانوني حکمونو استنباط پيل شو

په هغو علمي مرکزونو کې چېرې چې ترنسلونو پورې دفقهي دتدريس لړۍ روانه وه ، دقانون په تدوين کې لوی پرمختګ راغی ، په دې لړ کې ترټولو ممتازه مدرسه په کوفه کې وه ، هغه کې داسلامي قانون تدريس کيده ، دکوفې ښار اوس هم په عراق کې دی ، هغه اګر که اوس يو کوچنی ښاردی ، خو دهغه تاريخي اهميت ډېر زيات دی ، ځينې ځانګړتياوې يې په برخه دي ، زه دانه وايم چې دهغو ځانګړتياوو په وجه امتياز لري ، که دايو اځي تش اتفاق دی ، هغه ځانګړتيوې دادې ؛ په پخوا زمانه کې ددې ښار په شاوخوا کې دحيره په نوم ښار هم شتون لاره ، چې دهغه ښار کنډوالې اوس هم شته ، حيره هغه ښاردی کوم چې دجاهيت په زمانه کې دتهذيب اوتمدن ستر مرکز کڼل کيده ، داښار اګر که دايرانيانو په قبضه کې و ، هلته يمنې عربان راغلي او ميشت وو ، په جزيره ډول عربو کې يمن ترټولو زيات ښکلی او شين وه ، ه پخوا زمانه کې دتهذيب اوتمدن زانګوه ، کله چې دهغه ځای خلک په حيره کې ميشت شول ، ورسره په شاوخوا خلکو کې ديمن تهذيب اوتمدن خپور شو ، دتاريخ داحيرانوونکې واقعه ده چې دايران شهنشاه خپل ولی عهد په کوچنيوالي کې دزد کړو اوروزنې لپاره حيره ته

لیږه ، هغه پوره باور درلود، چې دعربي واکمنو په څارنه کې څوی یې ښه روزل کیږي ،دهغه داخیال پر ځای وخوت ، هغه پاچا چې دبهرام ګور په نوم تیر شوی ،دهغه منندوی و، دهغه (پاچا) چې کوم انځورونه پیدا کیږي په کې هغه په بدوي لباس کې په یوه اوښ سپور لیدل کیږي په هر صورت حیره هغه سیمه ده چیرې چې په پخوانه زمانه کې یو ممتازعربي دولت تیر شوی دی ، دایراني یمنې تمدن او اقدارو یو نوی شکل لیدل کیږي ، دا دنورو سیمونه څخه ممتاز وه ، کله چې حضرت عمر (رض) په زمانه کې عراق فتح شو هغه دخپل سیاسي فراست په وجه هلته یو پوځي مرکز جوړ کړ عربان یې له عربو څخه ولیږل ، څو هغوئ هلته دمفتوحه سیمو دننه په یوه سیمه کې میشت شي ، چې دپوځي پلوه اهمیت ولري ، څو داړتیا په وخت کې مجاهدینو ته کومک ورکړي ، او داړتیا په وخت کې سملاسي د فتنې او فساد سیمو ته دځانونو په رسولو سره دښمن سرکوب کړئ ، حضرت عمر (رض) ته پخپل فراست دا هم جوته شوه ، چې په پخوانې ښار کې دمسلمانانو میشت کول مناسب ندي ، اوسنی ځای یې غوره کړه البته ښار یې غوره نکړ ددې لپاره یې حکم وکړ چې دښار په اطرافو کې دې نوی ښار ودان شي ، ،په دې نوي ښار کې به اجنبي خلک نه وي ، دهغوئ په سیمو کې به عربان نه اوسي ، داښار به یواځې دمسلمانانو لپاره وي ، دې ښار ته چې حضرت عمر (رض) کوم نوي مهاجرین ولیږل په هغوئ کې لوی شمیر یمنیان وو ، په دې سره دیمنیانو یو لوی سیلاب راغی او هلته میشت شول ، خو یواځې یمني نه بلکې اته پنځوس هغه صحابه هم راغلل میشت شول کوم چې په بدر جنګ کې له رسول الله (ﷺ) سره ملګري وو ، غرض دا چې په ټوله معنی نوي ودان اسلامي ښار کې دمسلمانانو یوه لویه ډله خلک میشت شول په دې توګه له پخوانیو دودونو سره نوي دودونه یوځای شول هر کله چې په زرګونو مسلمانان میشت شول نوښکاره ده چې هلته مسلمانانو ته داسلامي زدکړو اړتیا هم وه ، ددې لپاره حضرت عمر (رض) په جامع مسجد ته چې دوالي دکور جز و، یو لوی عالم صحابي ور ولیږه ، دا عبد الله بن مسعود (رض) و، دنوموړي دتقرر په فرمان کې حضرت عمر (رض) ولیکل :دکوفي خلکو ! تاسو ته مې په ځان ترجیح ورکړه ، او ایثار کوم چې داسي شخص تاسو ته درلیږم چې ور ته زه خپله زیات ضرورت لرم ، درسول الله (ﷺ) ډیر محترم صحابي عبد الله بن مسعود (رض) دمعلم په حیث تاسو ته درځي ، له هغه استفاده وکړئ غفلت مه کوئ

عبد الله (رض) فطرتاً دقانون لورته مایل و، په کوفه کې میشت شو ، خپلو شاګردانو ته یې دفقهي ښوونه کوله، په نوموړي کې دقانون نکته پوهنې او استدلال ځانګړې ملکه وه ، دهغه دوفات وروسته دهغه شاګرد د علقمه النخعي بیا دهغه شاګرد د ابراهیم نخعي ، بیا دهغه وروسته حما بن ابي سلیمان ، بیا دهغه وروسته امام ابو حنیفه هلته دفقهي تدریس لړۍ روانه وساتله

امام ابوحنیفه (رح) دهجرت په ۸۰ کال زیږیدلی و او په ۱۵۰ کال وفات شوی ، عباسي خلافت دهجرت په ۱۳۲ کال جوړ شو ، یعنې دبنو امیه وو په وروستي او دعباسیانو ددوري لومړي وختو نه د امام ابوحنیفه دستر ګو په وړاندې تیر دي اودلته داما ابو حنیفه (رح) ددویم یاد اړتیا په دې پیښه شوه چې دهغه په تالیفاتو کې یو تالیف "کتاب الرائی" دی څنګه چې تاسو ته معلومه ده چې که په قرآن او حدیث کې کوم حکم صراحتاً ونه موندل شي نو داجتهاد کولو اړتیا راځي ، اجتهاد دراې په زریعه کیږي ، ځکه دمعاذبن جبل (رض) الفاظ دا و "اجتهد برائي" (یعنې زه به پخپله رایه اجتهاد کوم) په دې اړه امام ابوحنیفه (رح) کتاب الرئی ولیکه یعنې سړی رایه څنګه ورکړي په مسایلو کې څه ډول رایه استعمال کړي ، له بده مرغه داکتاب ترمونږ ندی رسیدلی ، غالباً کله چې هلاکو په بغداد یرغل وکړ ، اوهلته په لکونو کتابو نه یې ددجلې سیند ته وغورځول ، ممکن ددې کتاب ګنې نسخې هم ضایع شوي وي ، زه په دې بحث نه کوم چې په هغه کتاب کې څه و؟ یواځې دومره وایم چې هغه ډیر پخوانی کتاب دی ، کوم ته چې زمونږ استادان اشاره کوي یعنې داصول فقه په موضوع ترټولو لومړی کتاب دی

نوربیا

د شهید حافظ بدرالدین حقاني ژوند او کارنامو ته کتنه

عبدالرؤف حکمت

زموږ ویاړلي تاریخ له پیریو راهیسې په هرپړاو کې همیشه خورا ویاړلي شخصیتونه درلودلي ، ددغو شخصیتونو او دتاریخ دتلپاتې ځیرو له جملې که څینو په علم ، تصوف ، تصنیف ، فرهنګ ، اجتماعي خدمت یا نورو برخو کې ستر کردارونه ترشاه پرې ایښي ، مګر ډیر بیا داسې دي چې دجهاد دلارې سرسپارلي اتلان او دهمدې برحقې لارې ګلګون کفن شهیدان دي ، چې تراوسه یې وروستي نسلونه په نوم او کردار افتخار کوي.

موږ لکه څرنګه چې په تیر تاریخ کې د ویاړلو شخصیتو غوندې ویاړلې کورنۍ هم درلودې ، اوسنۍ جهادي دوران مو هم له دې افتخاره بې برخې نه دی ، زموږ دهیواد په لراوبر کې ډیرې داسې جهادي کورنۍ شته ، چې ټول ځوانان یې دجهاد ، دین ساتنې او شهادت پالنې په روحیه روزل شوي ، او خپل ټول ژوند یې دالهي دین خدمت ته وقف کړی وي.

دداسې سترو ویاړمنو متدینو او جهادپالو کورنیو له جملې یوه هم دافغانستان په جنوب ختیځ زون پکتیا کې دستر مجاهد او دوو امپراطوریو دماتوونکي مولوي جلال الدین حقاني کورنۍ ده.

موږ که ددې مجاهدې او شهادت پالې کورنۍ پرونۍ او نننۍ تاریخ راوسپړو ، نو ددوی جهادي کارنامو او شهادتونو ته په پام سره دلوی شاعر خوشحال ختک ددې بیت نغد مصداق به راته ښکاره شي چې وایي:

لوی واره مې شهیدان وګور ته تللي
پُشت په پُشت مې دا هنر دی آل په آل

هو کې ، حقاني کورنۍ دافغان ملت یوه له هغو کورنیو څخه ده ، چې دشهادتونو مینار یې خورا دنګ او اسمانڅک دی ، ددې کورنۍ په اعضاءوو لکه څرنګه چې دشرقي زبرځواک وسلو ججوري تش کړل ، همداسې یې دغربي زبرځواک یرغل ته هم سینه سپروګرځوله او ګڼ شمیر شهیدان یې ورکړل ، راځئ دلته دهمدې غازي او شهیدې کورنۍ دیو رژیدلي ګل (حافظ بدرالدین حقاني) دژوند او کارنامو ننداره وکړو

، ترخو مو د شهادت په روح پالو خ طرو خپل خواطر سيراب کړي وي.

شهيد بدرالدين حقاني

هغه مهال چې افغانستان د روسي ښکيلاک تر يرغل لاندې وو ،او په وړاندې يې د افغان اولس ويارمنه مبارزه روانه وو ، هغه مهال چې د افغانستان د جنوب ختيځ غرونه او ځنګلونه د شوروي عسکرو په هديرو بدليدونکي وو ، هغه مهال چې د پکتيا ، پکتيکا او خوست په غرونو او درو کې د جلال الدين حقاني په نوم يوه غرني افغان د شوروي امپراطورۍ ځلوبنتم لښکر په لومړي ځل د شکست له ګواښ سره مخ کړی وو ، او د اسلامي نړۍ په سطحه يې د (جلال الدين حقاني ، قائد الميداني ، امام شامل ثاني) لقبونه ګټلي وو ، د جهاد په همدې تود مرحله کې د ۱۴۰۲ هـ ق د رمضان المبارک د مياشتې په لومړنۍ ورځ د جهاد د همدې ستر قائد په کور کې چې د غه وخت يې د شمالي وزيرستان په ميرانشاه کې د هجرت ژوند تيراوو يو هلک وزيږيد ، چې نوم يې ورباندې (بدرالدين) کيښود.

بدرالدين د خپل مجاهد او مبارز پلار جلال الدين حقاني په غيږ کې رالوی شو ، د ژوند کولو لومړني اداب ، اخلاق او عقائد ورته خپل پلار روښودل ، ډير کوچنی وو ، چې په ميرانشاه کې د حقاني صاحب دستري مدرسې منبع العلوم د انجمن القرآن په څانګه کې داخل شو ، او ورسره يې د عصري علومو ښوونځی لوستل هم پيل کړل ، نومړي ښوونځی تر شپږم ټولګي ولوست ، چې ورسره يې د قرانکريم حفظ هم کاوو ، د بدرالدين عمر يوازې لس کاله وو ، چې د قرانکريم حفظ يې سرته ورساوو ، او د کلام الله المجيد د يادولو په وياړ يې د فضيلت پګړۍ تر سر کړه.

ديني زده کړې

بدرالدين حقاني د قرانکريم د حفظ له سرته رسولو وروسته د ديني علومو په حصول پيل وکړ ، چې په دې لړ کې يې د ميرانشاه په جامعه منبع العلوم ، د پښتونخوا د صوابي په مدرسه تعليم القرآن ، د چارسدې مدرسه تعليم الاسلام او نورو مختلفو مدارسو کې د ديني علومو زده کړې ته دوام ورکړ ، د غه راز يې د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال په کابل کې په خصوصي ډول له خپل والد صاحب څخه ځيني کتابونه ولوستل تردې چې د علم سفر يې د وړې دورې (موقوف عليه) درجې تر بشپړلو ورساوو.

د بدرالدين حقاني په اړه ويل کيږي چې نومړی د حقاني صاحب په کورنۍ کې د ځانګړي علمي استعداد او قوي خاوند وو ، له همدې امله وو ، چې مشر حقاني صاحب هميشه کوښښ کاوو چې نومړی تر پايه ديني علوم ولولي او ديوه ديني عالم په صفت د ټولنې خدمت وکړي.

حقاني صاحب لکه څنګه چې په حضر کې نومړی علم ته تشويقاوو د سفر په مهال به يې هم په نومړي تاکيد کاوو چې په پوره مواظبت سره درسونه ووايي.

حقاني صاحب به ده ته هميشه ويل چې (زما په کورنۍ کې به له ما څخه وروسته د ديني علم ډيوه ته بله ساتې ، زما ستره کتابخانه به تا ته پاته کيږي او ته به يې پالنه کوې ، زما مدرسه به ته فعاله ساتې او ته به يې خدمت کوې)

خو دا زموږ په اسلامي هيواد افغانستان د امريکايي ښکيلاک يرغل وو ، چې د ډيرو نورو غونډې يې د بدرالدين حقاني علمي سفر هم ټکنی کړ ، جهادي ضرورت نومړی له ديني زده کړو راوګرځاوو ، او د جهاد د عاجل ضرورت له امله يې ديني زده کړې نيمګړې پاته شوې.

د امريکا په خلاف جهاد

هغه مهال چې امریکايي زبرځواک زموږ په کران هیواد افغانستان باندې یرغل وکړ، حافظ بدرالدین حقاني نوې دځوانۍ مرحلې ته رسیدلی وو، څرنګه چې نوموړی له جهادي خاندان سره تړاو درلود، او دخپل پلار لخوا په جهادي روحیه روزل شوی وو، نوځکه یې دژوند نور مصروفیتونه پریښودل او د جهاد په سرشاره مینه یې دحق او حقانیت سنګر ته ودانګل.

حافظ بدرالدین په لومړیو کې دیوه عادي مجاهد په صفت دپکتیا، پکتیکا او خوست په جنګي محاذونو کې ددښمن په خلاف جهادي فعالیت ته دوام ورکړ، لکه څرنګه چې ستر مجاهد مولوي جلال الدین حقاني دتیر جهاد دهغو قومندانانو او مشرانو له جملې ګڼل کیږي چې خپله یې دجګړې په ډګر کې ونډه درلوده، دبدرالدین په شمول دنوموړي زامن هم په خپله دنورو مجاهدینو سره یوځای دامریکايي یرغلګرو مقابلې ته وراندې شول او په دښمن یې بریدونه پیل کړل.

د چریکي جګړې په لیکو کې له څه مهال خدمت وروسته بدرالدین حقاني ته داستشهادي عملیاتو دیوه کنډک مشري وسپارل شوه، چې د شهادت ترنیټې یې همدغه وظیفه په پوره امانت داري، بریالیتوب او استقامت سره سرته ورسوله، دځانګړو فدايي بریدونو په انسجام سربیره نوموړي دجنوب ختیځ زون دتنظیمه ریاست دمرستیال او دخوست ولایت دنظامي مرستیال په حیث هم دندې اجراء کړي دي دغه راز یې ګڼ نور جهادي خدمات او مسؤلیتونه هم سرته رسولي دي.

کفر لړزوونکي فدايي بریدونه

بدرالدین حقاني داسلامي امارت په لیکو کې یو له هغو مبتکرو، مدبرو او فعالو نظامي څیرو څخه ګڼل کیږي، چې په تیر دوولس کلن جهاد کې یې دخپلو دقیقو او رسا بریدونو په توسط دښمن ته بیا بیا درانه تلفات اړولي او دښمن یې مکررا په ځان پورې حیران کړی دی.

دبدرالدین حقاني په ابتکار په کابل، بګرام، پکتیا، خوست، پکتیکا، میدان وردګ او دهیواد په نورو مختلفو سیمو کې په امریکايي حساسو اهدافو ترسره شوي بریدونه او په وړاندې یې ددښمن اعترافات او دشکست شواهد هغه څه دي چې زموږ لوړه ادعاء تائیدوي.

دشهید بدرالدین لخوا طرح شوي او دسرسپارلو فدايانو په توسط ترسره شوي همدا هدفمند بریدونه وو، چې دښمن یې څو ځله له سختو تلفاتو سره مخامخ کړ او سخته رسوايي یې ورواړوله، له همدې امله دښمن دحقاني صاحب دملګرو په خلاف ځانګړي تبلیغات پیل کړل، او هڅه یې وکړه چې دحقاني صاحب ملګري له اسلامي امارت څخه یوه جلا ډله وښيي، خو ددښمن دغه تبلیغات هم داسلامي امارت لخوا په مستنده توګه رد کړای شول.

حافظ بدرالدین حقاني دخپل مسؤلیت په مهال په دښمن ۷۵ مختلف النوع استشهادي بریدونه ترسره کړل، چې دبګرام، کابل او خوست دعملیاتو غوندې ځینې عملیات یې خورا ستر او خبر جوړوونکي وو.

په دې عملیاتو کې په خوست کې دصحراباغ په امریکايي مرکزلوی عملیات، دخوست ولایت په مقام عملیات، ددومنډو په ولسوالۍ برید دصبریو په امریکايي اډه برید، دغه راز دبګرام په هوايي ډګر لوی برید، په انترکنتیننتل هوټل برید او په پلازمینې کابل کې په ځینو نورو اهدافو لوی عملیات هغه څه وو، چې دشمن ته په کې ملاماتوونکي ځاني او مالي زیانونه واوښتل.

شهادت یې

بدرالدین حقاني چې پرغلګرو امریکایانو دخپل دښمن په نامه پېژاند له ډېره وخته دامریکایي غاصبانو تراهدف لاندې او له همدې امله یې نوم ددوی په تورلست کې شامل کړای شوی وو ، ترڅو بالاخره ددښمن له مکررو هڅو وروسته دبې پیلوټه طیارې په یوه برید کې له څو تنو فدایي مجاهدینو سره یوځای دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون

داسلامي امارت رهبري شورا د بدرالدین حقاني دشهادت په مناسبت په نشرکړې اعلامیه کې ویل (دافغانستان اسلامي امارت دحافظ القران بدرالدین حقاني دشهادت مبارکي دنوموړي محترم والد(نومیالي جهادي اوعلمي شخصیت مولوي جلال الدین حقاني صاحب حفظه الله) ددوی کورنۍ ،ملګرواودوستانوته وړاندې کوي.

شهیدبدرالدین (رح)دصلیبي یرغلګروپرضدروان جهادکې یونه هیریدونکی مبارز او اتل مجاهد وو چې دحق ددفاع په سنګر کې یې تاریخي خدمتونه ترسره کړي الله رب العزت دې دنوموړي جهادي خدمتونه قبول کړي او الله تعالی دې ورته لوړې درجې اوپه جنت الفردوس کې عالي مقامات وربه برخه کړي.

اسلامي امارت دشهید بدرالدین غونډي ځوانانو په خدمت او ایثار ویاړي چې ځوانۍ یې دالله عزوجل ددین خدمت ته وقف کړې اوداسلام اوهیواد دغلیمانو په وړاندې یې دجهاد ډګرغوره کړی وي ،الله تعالی دې ددوی دخدمتونو او پاکو وینو په برکت مسلمانانو ته بری او کفارو ته ذلت او شکست وربه برخه کړي.امین یا رب العالمین)

دبدرالدین حقاني دشخصیت ځانګړنې

په داډ سره ویلی شو چې حافظ بدرالدین حقاني دروان جهاد یوه کمساري هستي وه ، چې په شهادت سره یې دوستان غمجن او دښمنان د څو شیبو لپاره خوښ شول ، دنوموړي دشهادت په اړه بیلابیل غبرګونونه او نظرونه څرګند شول ، په لاندې څو کرښو کې دنوموړي دشخصیت په اړه د څو تنو نظریات ولولو.

خلیفه صاحب سراج الدین حقاني وایي: دشهادت په مهال دحافظ بدرالدین وجود دامریکایي توغندي دلګیدو له امله ذره ذره شوی وو ، خو یوازې سینه یې سالمه پاته وو ، چې مجاهدینو له سینې څخه وپېژاند ، چې داده دکرامت او دقران کریم داعجاز نښه وه ، ځکه دده په سینه کې قرانکریم محفوظ وو چې الله تعالی یې له ټول وجود څخه سینه سالمه پاته کړې وه.

دخوست ولایت نظامي مسؤل مولوي محمدجان دنوموړي په اړه وایي: حافظ بدرالدین په خبرو او تعبیر باندې حاکم سړی وو ، چې همیشه یې په مجالسو کې دګډونوالو توجه جلبوله ، نوموړي صبر او حوصله درلوده او په سړه سینه یې دخلکو مشورې او وړاندیزونه اوریدل ، حافظ صاحب ته الله تعالی ډیر څه ورکړی وو ، ښه اخلاق ، خاکساري ، تواضع ، تقوا ، ایثار ، دملګرو سره ښه تعامل او خوشطبعي دحافظ صاحب امتیازي صفات وو.

نوموړی ددښمن په لیکو کې دنفوذ لوړ استعداد درلود ، او ددښمن په لیکو کې دننه یې خلکو ته جهادي روحیه ورکړه ، هغوی یې استخدام کړل او په دښمن یې له دننه څخه کاري بریدونه وکړل ، دحافظ بدرالدین په استعداد او جهادي فعالیت باندې حتی دښمن اعتراف لري او انکار ترې نه شي کولای.

په حافظ صاحب کې داطاعت ماده هم خورا قوي وه ، او په ډیر دقت یې داسلامي امارت درهبرۍ

اوامر منل او تطبیقول، نوموړي خپل ملګري هم په داسې روحيه روزلي وو چې اسلامي امارت ته يې پوره وفاداري درلوده.

دپکتيکا ولايت پخواني نظامي مسؤل مولوي محمد سنګين فاتح وايي: حافظ بدرالدين يوه تکړه جنګي ستراتيژيست وو، ځکه په تير څو کلن جهاد کې موږ وليد چې دټولې نړۍ پرمختللې پوځونه له باتجربه جنرالانو سره زموږ هيواد ته راغلل، دخپلې دفاع لپاره يې مصئون مراکز جوړ کړل، مګر حافظ بدرالدين په خپلو بريالیو تاکتيکونو سره وتوانيد چې ددښمن دفاعي کمربندونه مات کړي او ددښمن په زړه باندې بريدونه ترسره کړي، نوموړي په داسې ځايونو بريدونه ترسره کړل چې تصور يې نه کيده.

داسلامي امارت درسمي ويب سايټ الاماره ويب پاڼې خبريال حبيب مجاهد دحافظ بدرالدين په اړه وايي: حافظ بدرالدين يوويښ، بادرکه او دجهادي بریاوو په مطبوعاتي اهميت پوه شخصيت وو، نوموړي لکه څومره چې نظامي عمليات په دقت تطبيقول همدومره له عملياتو وروسته دهغه مطبوعاتي انعکاس ته هم متوجه وو، نوموړي به دپيل شويو عملياتو په اړه په ډير دقت او سرعت سره داسلامي امارت ويډيويانو او نشراتي اداري ته معلومات ورکول، او ددقيقو معلوماتو دراټولولو کار يې په ډير دقت ترسره کاوو، نوموړي دجهادي عملياتو ژوندۍ صحنې عکاسي کولې ترڅو په مستنده توګه ليدونکو ته وړاندې شي، دنوموړي همدا ځانګړنه وه چې په ترسره شويو جهادي عملياتو يې دنظامي ډګر غوندې په مطبوعاتي ډګر کې هم نتيجه ترلاسه کيدله.

دبدرالدين حقاني له شهادت وروسته امريکايي مطبوعاتو نوموړی دامريکا ديوه خطرناک دښمن په توګه ياد کړ په دې لړ کې د THE LONG WAR ژورنال په نامه يوې امريکايي نشريې وليکل (امريکايي ځاګرو طيارو دبدرالدين حقاني په نامه دطالبانو يو مهم قومندان وواژه، بدرالدين حقاني په افغانستان کې په امريکايانو ترټولو سترا او خونړي بريدونه ترسره کړي وو، دامريکا مهمې ورځپاڼې واشنګټن پوسټ دشهيد بدرالدين حقاني په شهادت دتبصرې په لړ کې وليکل چې نوموړی په افغانستان کې دامريکا دبرياليتوب په وړاندې يو لوی خنډ وو، چې په تيرو څو کلونو کې يې په امريکايانو پرلپسې خونړي بريدونه ترسره کړي وو)

عرب وايي (والفضل ما شهدت به الاعداء) داچې امريکايي فرعوني چارواکي دخپل کبر او غرور په اوج کې اعتراف کوي چې بدرالدين حقاني ددوی په وړاندې يو لوی ګواښ او خطرناک دښمن وو، له دې څخه دنوموړي جهادي حيثيت ښه معلوميدلای شي.

بدرالدين حقاني يو له هغه مجاهدينو څخه وو چې له شهادت وروسته يې له امريکايي کفارو څخه خپل انتقام واخيست، ځکه نوموړي تر شهادت وړاندې دکابل په اريانا هوټل کې د CIA په مرکزي دفتر دبريد لپاره تياري بشپړه کړې وه، چې دنوموړي له شهادت وروسته په ډيره کاميابۍ دغه حمله ترسره شوه، او ددښمن استخباراتي چارواکو ته په کې دروند زيان واوښت.

الله تعالی دې دحافظ بدرالدين حقاني شهادت قبول کړي او دالله تعالی دې يې لاره ښيرازه ولري.

آمين يارب العلمين

دهرات ولایت له جهادي مسؤل سره مرکه

هرات ولایت دافغانستان په لویدیځ کې موقعیت لري ، چې شمال ته یې ګاونډی هیواد ترکمنستان ، لویدیځ ته یې ګاونډی ایران جنوب ته یې فراه او ختیځ ته یې غور او بادغیس ولایات پراته دي.

دهرات ولایت مساحت ۵۴۷۷۸ مربع کیلومتره او نفوس یې دوروستیو شمیرنو له مخې تر یونیم ملیون زیات اټکل شوی دی.

هرات ولایت چې دافغانستان له سترو ولایاتو څخه دی ،په مرکز سربیره پنځلس ولسوالۍ لري چې نومونه یې په لاندې ډول دي.

انجیل ، ګذره ، کرخ ، کشک کهنه ، رباط سنګي ، ګلران ، کوهسان ، غوریان ، زنده جان ، ادرسکن ، شینډنډ ، اوبې ، پښتون زرغون ، فارسي ، چشت شریف

داخل مو ددې ولایت له جهادي مسؤل حاجي عبدالرحمن سره مرکه کړې ده چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه

محترم حاجي صاحب که له هرڅه وړاندې زموږ لوستونکو ته ځان وروپیژنئ ؟

ځواب

زما نوم حاجي عبدالرحمن دی ، دفراه ولایت دبکوا ولسوالۍ اوسیدونکی یم ، د اسلامي امارت دواکمنۍ په دوران کې مې په مختلفو نظامي جبهاتو کې جهادي خدمت سرته رسولی ، کله چې امریکایي یرغلګرو په افغانستان یرغل وکړ او په نتیجه کې یې داسلامي امارت واکمني سقوط وکړ ، زه او دفراه ولایت تکړه مجاهد مولوي باز محمد لومړني کسان وو چې په فراه ولایت کې مو دیرغلګرو په خلاف جهاد پیل کړ او عملا مو په دښمن بریدونه پیل کړل ، دامریکا په خلاف په تیر دوولس کلن جهاد کې مې مختلف مسؤلیتونه سرته رسولي ، په دې لړ کې مې دفراه ولایت دولایتي کمیسیون دمشرتوب ، دبکوا جهادي مسؤلیت ، د بالابلوک ولسوالۍ مسؤلیت اودنیمروز ولایت دجهادي مسؤلیت وظایف سرته رسولي او له تیرو شپږو میاشتو راهیسې دهرات ولایت دجهادي مسؤل په حیث جهادي خدمت ترسره کوم.

پوښتنه

محترم حاجي صاحب ! که دهرات ولايت دجهادي حالاتو په اړه معلومات راسره شريک کړئ ؟

ځواب

په هرات ولايت کې لله الحمد جهادي کارونه له تمې سره سم پرمخ درومي ، سره له دې چې دښمن ډيره هڅه کړې ده او دمنفي تبليغاتو لړۍ يې هم روانه ساتلې ده ، خو له دې سره سره په هرات کې مجاهدين هره شيبه دقوت په حال کې دي.

دهرات په ټولو ولسواليو کې مجاهدين شتون لري ، زه خپله چې تيرې څو مياشتې دهرات په جبهاتو کې وم او دصحتو شاهد پاتـه شوی يم ، مجاهدين لله الحمد په ښه حالت کې وو ، دهرات دزياتره ولسواليو تر ۷۰ فيصده زياته اراضي دمجاهدينو تر کنترول لاندې ده ، يوازې د هرات ښار په ختيځو ولسواليو لکه ګذره ، پشتون زرغون او انجيل کې يو لړ مشکلات شته ، چې حکومت يو لړ اربکيان جوړ کړي دي ، نورې سيمې الحمد الله دمجاهدينو دقوت سيمې دي.

پوښتنه

په هرات ولايت کې يوه کليدي سيمه ددې ولايت شينډنډ ولسوالي دي ، چې هلته دامريکايانو خورا ستره هوايي پوځي اډه هم شته ، او امريکايانو ددې سيمې دکنترول لپاره په تيرو لسو کلونو کې خورا ډيرې هڅې او عمليات ترسره کړي دي ، که ددې سيمې په اړه معلومات راکړئ ، چې اوس په کې حالات څرنګه دي ؟

ځواب

شينډنډ رښتيا هم يوه مهمه سيمه ده ، نه يوازې داچې هلته دامريکايانو ستره هوايي اډه او روزنيز مراکز شته بلکې له دې ځايه دافغانستان دجنوب په خوا لويه لار هم تيره شوې ده.

په تيرو څو کلونو کې دشينډنډ د اشغال لپاره خارجيانو او داخلي غلامانو يې خورا ډيرهڅې او ظالمانه عمليات ترسره کړل ، چې څوځله خو يې دعزيزاباد دپيښې غوندې قتل عامونه هم ترسره کړل ، په وروستيو څو کلونو کې امريکايانو په دې سيمه کې خپل پوځي حضور خورا زيات کړ ، ګڼ شمير پوستې او قرارګاوې يې جوړې کړې او ګڼ شمير ټوپکوال يې داربکيانو په توګه وګمارل.

مګر لله الحمد له دې سيمې دامريکايانو له تيښتې وروسته سږکال دخالدبن وليد عملياتو په لړ کې يوځل بيا هرڅه بدل شوي دي او دامريکايانو خوارۍ په اوبو لاهو شوي دي.

شينډنډ چې پخوا يې ډيره برخه ددښمن ترسلطه لاندې راغلې وه اوس يې تر اتيا فيصده ډيره برخه دمجاهدينو تر واک لاندې ده ، ددښمن حضور يوازې دولسوالۍ مرکز او ميدان هوايي ته نږدې او دلويې لارې په سر راټول دی

دشينډنډ مرکزي او مهمه سيمه دزيرکوه ګڼ ميشته سيمه ده ، په دې سيمه کې پخوا داربکيانو ۲۴ پوستې موجودې وې ، مګر دخالد بن وليد عملياتو له پيل وروسته مجاهدينو ځيني اربکيان ددعوت له لارې را اړولي دي او ډيرې پوستې يې دجنګ په واسطه له منځه وړې دي ، چې اوس مجموعا ۲۲ پوستې له منځه تللې او يوازې دوه پاته دي ، دغه راز د پوليسو او اردو هم ډيرې پوستې له منځه تللې دي ، دغه سيمه چې يو وخت مجاهدينو په کې چريکي عمليات کول ، اوس دمجاهدينو په ستر مرکز بدله شوې ده او علنا په کې خپل جهادي کارونه ترسره کوي.

باید ووایو چې ددې سیمې په ازادولو کې دنظامي مجاهدینو ترڅنګ ددعوت او ارشاد کمیسیون هم ستر رول اداء کړی دی او ډیر شمیر هغه کسان چې پخوا یې ددښمن په صف کې وظیفه اجراء کوله دخپلې مؤثرې برنامې په توسط یې له مخالفت څخه اړولي دي.

پوښتنه

تاسو وویل چې دخارجي عسکرو له وتلو وروسته مجاهدینو هغه سیمې بیرته فتحه کړې چې پخوا دښمن نیولې وې ، آیا دداډول سیمې دبیرته نیولو لپاره دښمن کوم عملیات نه دي ترسره کړي ؟

ځواب

دښمن یو ځل بیا خپل زور کارولی دی خو نتیجه یې نه ده ورکړې ، دبیلګې په توګه دزیرکوه دبیرته نیولو لپاره دښمن دوه ځله خورا ستره عملیات ترسره کړل ، چې حتی چورلکې ، بې پیلوټه طیارې او جنګي جټ طیارې یې هم په کې وکارولې ، مګر پرته له دې چې دښمن ته زیان اوښتی بله نتیجه یې نه ده ورکړې ، په هغه عملیاتو کې چې دنومبر میاشتې په مابین کې ددښمن لخوا په دې سیمه ترسره شول ددښمن ۴ ټانګونه په ماینونو ختم شول ، یو ټانګ یې په راکټ وویشتل شو ، دغه راز یې پیاده عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته چې په نتیجه کې یې دښمن بیرته په تیښته اړ شو ، تردې وړاندې د ۲۰۱۳ م کال داکتوبر په میاشت کې ددښمن لخوا په دې سیمه درانه عملیات ترسره شوي وو چې دښمن ته په کې دروند زیان اوښتی وو.

پوښتنه

محترم حاجي صاحب که دسږ کال خالد بن ولید عملیاتو په اړه معلومات راکړئ چې په هرات ولایت کې ددې عملیاتو مهمې لاسته راوړنې څه وې ، یعني هغه کوم معلوم نظامي یا ملکي بریالیتوبونه دي چې ددې عملیاتو په لړ کې ترلاسه شوي دي ؟

ځواب

دخالد بن ولید عملیاتو له پیل راهیسې موږ ددرست افغانستان غوندې په هرات کې هم مهم بریالیتوبونه درلودل ، په دې کال کې دشینډنډ غونډې دهرات زیاتره هغه سیمې چې خارجي یرغلګرو په ډیر ظلم سره لاندې کړې وې او پخوا دمجاهدینو عملیات په کې کمزوري وو ، بیرته په جهادي سیمو اوښتې او ددښمن دواک لمن ورټوله شوې ده.

په دې لړ کې دهرات په لراوبر کې په لسګونو پوستې دمجاهدینو په بریدونو فتحه شوي او له منځه تللي دي ، ددښمن دپوستو دفتحه کولو پېښې دهرات په ټولو ولسوالیو کې ترسره شوي دي ، چې ډیر ځله مجاهدینو ته غنیمتونه هم په لاس ورغلي دي.

دهرات په لویو لارو ددښمن په اکمالاتي کتارونو باندې مکررا عملیات ترسره شوي دي ، چې دښمن ته په کې درانه تلفات اوښتي ، دغه راز لکه وړاندې چې وویل شول چې په شینډنډ کې دوه ځله ددښمن لوی عملیات په شا تمبول شوي او درنه تلفات ورته اړول شوي دي.

په هرات ولایت کې دسږ کال یوه لویه بریا داوه چې ګڼ شمیر هغه کسان چې ددښمن په لیکو کې ولاړ وو ، ددښمن له صف څخه راوتلي او خپلې وسلې یې مجاهدینو ته سپارلي دي ، په دې لړ کې هرات یو له هغه ولایاتو څخه دی چې دغه بهیر په کې ډیر ګړندی او مشهود دی.

په دې بهیر کې ځیني داسې پیښې هم شوي دي چې ددښمن افرادو دحقیقت په درک کولو سره خپل

دپوستي ملګري عسکر وژلي وي او بيا له وسلو سره مجاهدينو ته راغلي وي ، څه موده وړاندې دپهلوان په نامه يو عسکر خپل دپوستي ملګري ووژل۲ ثقيل ماشيندار او نوري سپکې وسلې يې له ځان سره راوړې او مجاهدينو ته وسپارلې ، همدا تيره اونۍ دشيندنډ په زيرکوه کې د رحمت الله په نامه يوه عسکر يو رينجر موټر ، ۲ ثقيلان ، ۳ کلاشينکوف او ۳ مخابرې له ځان سره راوړې او مجاهدينو ته يې وسپارلې ، دغه ډول پيښو ددښمن په ليکو کې بې اعتمادي او وارخطايي زياته کړې ده ، او اميد شته چې ددعوت او ارشاد کارونه په نورو هم مؤثر شي.

په هرات کې سږکال ددښمن يو شمير دمتوسطي کچې مشران هم له منځه تللي دي ، په دې لړ کې دکرخ په ولسوالۍ کې ددښمن يو استخباراتي فعال احمدلي چې دکرزي دامنيتي مشاور ډاکټر سپنتا ورور وو هم دمجاهدينو په چريکي بريد کې له منځه لاړ.

په هرات ولايت کې سږکال يوه بله جالبه پيښه او جهادي بريا ددشينډنډ ولسوالۍ په زاول سيمه کې پيښه شوه په دې علاقه کې چې امريکايي او داخلي عسکر پوځي روزنيز مرکز لري ، مرکز ته په نږدې سيمو کې تمرينات ترسره کوي ، دلته د تيخسر په نامه يو غر دی ، چې په سر يې هميشه دښمن چورلکې کينولې او عسکر به يې دتمريناتو لپاره پياده کول ، بالاخره مجاهدينو په ځانګړي تاکتيک سره همدغه دا چورلکو دکيناستلو ځای په په چاودېدونکو موادو فرش کړ ، او کله چې چورلکه ورباندې کيناستله درونند انفجار رامنځته شو ، چې په نتيجه کې چورلکه له سپرو عسکرو سره له منځه لاړه.

دا مې مختصرا هغه مهمې پيښې يادې کړې چې سږکال په هرات ولايت کې پيښې شوي دي دزيات تفصيل لپاره کولای شئ دالاماره ويب پاڼې خبري ارشيف وګورئ.

پوښتنه

محترم حاجي تاسو په وروستيو څو مياشتو کې دهرات په ولايت کې مهم مصروفيتونه او له مختلفو سيمو ليدني کتنې مو درلودلې ، که په دې اړه خپل معلومات راسره شريک کړئ؟

ځواب

په وروستيو دوو مياشتو کې زه دهرات ولايت له ټولو ولسواليو څخه په ليدنو کتنو بوخت وم ، په دې لړ کې ما دهرات ټولو ولسواليو ته سفرونه وکړل يوازې کرخ ولسوالۍ ته دمسافې داوږد والي له امله لا نه يم ، دغه راز مې دپښتون زرغون ولسوالۍ څخه ليدنه ونه شوه ، له دې دوو سيمو ماسوا په نورو سيمو وګرځيدلو ، له مجاهدينو او سيميزو مخورو سره مو ليدل کتل وشول ، او ددوی ستونزې مو واوريدې.

په هرات ولايت کې پخوا داسې تشويش موجود وو ، چې دتورن اسمعيل خان لخوا په ګڼ مقدار وسلې ويشل شوي دي او شايد په اطرافي سيمو کې مجاهدينو ته مشکلات جوړ کړي ، خو موږ چې په ټولو سيمو وګرځيدو ، جهاد او مجاهدينو ته هيڅ خطر موجود نه وو او نه هم دموضوع واقعيت داسې وو لکه پخوا چې اوازه وه ، دهرات اولس له مجاهدينو سره نږدې روابط او قوي ملاتړ درلود ، او په ټولو سيمو کې دمجاهدينو ولسي ملاتړ مخ په زياتيدو وو.

ـ محترم حاجي صاحب مننه چې له موږ سره مرکې ته حاضر شوئ

ـ له تاسو هم ډيره ډيره مننه

افواهات خپرول داسلام له نظره

ل. عبدالرحمن الصویان /ژ.خبیراحمدم

افواه یاشایعه دهغه خبر اوپیښې خپرولو ته وایي چې کوم اساس او بنسټ ونلري ، خو له یوه کس نه بل ته په داسې ډول خپره کړي او نقل کړل شي چې په پایله کې عمومي اذهان په جمود او تحریف کې وغورځوي اولوی کړاونه ترې راوټوکیږي .

ډیروخت یوشمیر فرصت طلبه او کم فکره خلک وړوکې خبره لویوي ، دخبرې اصلي ماهیت ته تغیرورکوي اویایه دروغو ولاړ خبرته داسې رنګ اوشکل ورکړي چې عام ذهنیت یې منلو ته پرته له کوم تحقیق او پوښتنې تیاریږي اوباور ورباندې کوي.

اوس پوښتنه داده چې ولې دغسې افواوې او شایعې دخلکو په منځ کې په ډیرې اسانۍ سره نشریږي او ځای نیسي ؟ ځواب دادی چې یو خو ټولنه دعلمي موازینو له کمښت سره مخ وي ، بل داچې دهغوخلکو چې صرف حقایق خپاره کړي او دټولنې ټول مصالح اوجوانب په نظر کې ولري دبې بندوبارواوبې سنجشه خلکوپه نسبت ډیرکم دي ، نو طبیعي ده چې دروغجن او شایعه خورونکي خلک له دغسې یوې خلا ځخه استفاده کوي دمستندو خبرو اوپیښو پرځای جعلي او بې بنسټه حکایتونه او خبرې زیات نشروي او دغه ناترسه خویونه او عادات ددې موجب ګرځي چې دمسلمانانو ترمنځ بې باوری ، تشطت اوآن دښمني منځ ته راوړي .

په ابتداکې معمولا شایعات ډیرواړه اوناچیزه وي خوچې سلسله په سلسله یوبل ته نقل شي اټکلونه او بې ځایه ګمانونه هم ورسره ملګري اوبالاخره ترینه دجعلي توب او درواغو لوی انبار جوړشي تور په سپین او سپین په تور اړوي .

انساني تکوین اوجوړښت هم په داسې ډول راغلی چې عجایب او غرایب ورته اهمیت لري اوکومه نادره پیښه او خبره چې واوري ډیرژ ورته متوجه کیږي اوغوږ ورته ږدي او هغه څوک چې دافواهاتو اوشایعو په نشراواشاعت کې تبحر او مهارت لري ، زیاته علاقه لري چې په خپل همدغه ناوړه عمل سره ځان شهرت ته ورسوي چې فلانی دومره باخبره کس دی چې له هرې پیښې او خبرې ځخه خبریږي ، خو دوی هیځکله هم په حقیقت کې باخبره او له شهرت ځخه برخمن کسان ندي ،بلکې دالهي شریعت په وړاندې سخت بې ارزښته او دتحقیروړبلل شوي .

دافواهاتو ډولونه :

۱- دداسې خبرې نشر چې هیڅ حقیقت ونلري.

۲- دداسې يوې خبرې نشر چې صرف يو جزئي سم اونور تحريف شوي وي.

۳- دداسې خبر نشر چې واقيعيت ولري خو مبالغه اميزه ټکي ورسره تومبل شوي وي

دتاريخ په اوږدو کې دشايعاتو بيلګې :

۱- دافک پيښه

داسلام په تاريخ کې نوموړې پيښه ډيره دردونکې وه ، چې ځينو تور زړو دحضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په اهل بيت (عايشه صديقه (رض) په حق کې افترا وتړله اويوشمير مسلمانانو دعدم تحقيق له وجې دهغه تايدو کړ ، خو الله تعالی په خپل محبوب پيغمبر صلی الله عليه وسلم او دهغه په نازولې ميرمن او دمسلمانانو په مور (عايشه صديقه رض) باندې لوی مرحمت وکړ اودالهي فرمان او مبارکو اياتونو په زريعه يې دحضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په زړه دملهم پټی کيښوده او خپرې شوې افواوې يې په نطفه کې خنثی او شنډې وګرځولې اوالله تعالی دخپل الهي کلام اووحی په زريعه د(النور) په سورت کې دلسوايتونه په زريعه دعايشه صديقه رضی الله تعالی عنها صفايي وکړه .

۲- دمکې دکفارو شايعې

ابن هشام له ابن اسحاق څخه نقل کوي چې دمسلمانانو يوې ډلې حبشې ته لدې امله هجرت کړی وو چې دمکې دمشرکينو له تيرو او اذيت څخه په امان پاتې شي ، دوی چې ډيروخت له خپل اصلي ټاټوبي ليرې پاتې شوی وو او په حبشې کې يې زړونه تنګ وو ، هغوی ته داشايعه اوافوا ورسيده چې ګواکې دمکې مشرکين مسلمانان شوي ، دوی پرته لدې چې په دې خبر کې تحقيق وکړي ، سمدلاسه دمکې په لور راروان شول او دسفر په سختيو ګاللويې ځانونه دمکې تر دروازو راورسول ، کله چې هلته راورسيدل موضوع برعکس وه اوپه هغه وخت کې دمشرکينو داپريکړه وه چې يابه ځان کوم سرکرده مشرک ته سپاري ، يابه مکې اوخپلو کورونو ته دمشرکينو له سترګو پټ داخليږي ؛ چې دادواړه کاره مسلمانانو ته ګران وو ، مطلب داچې يوې بې بنسټه شايعې چې حقيقت يې نه لاره آن له حبشې څخه مسلمانان مکې ته په يو عالم کړاوونو زغملو راورسول .

له افواهاتو ځان ژغورنه :

ډير نيک خلک هم چې دخبرې عمق او دقت ته نګوري اونه هم پلټنه کوي په خوش باورې باندې خبرې نقلوي او همدغه شايعه بيا دهمدغه نيک کس په حواله په ټولنه اودخلکو ترمنځ په سرعت خوريږي اوترڅو چې دموضوع اصلي ماهيت رابرسيره کيږي هغه دڅا خبره لاس له لاسه وتلې وي اولويه بربادي يې رامنځته کړې وي

داسلام مقدس دين مونږ ته درس راکوي چې دخبرې په محض اوريدو سره پرته لدې چې صدق او کذب يې معلوم کړل شي ، ژر بايد خپره او نشر نشي ، حضرت مغيره بن شعبه رض ، روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

انّ الله حرّم عليکم عقوق الأمّهات و وأد البنات و منعاً وهات و کرّه لکم قيل و قال و کثرة السؤال وإضاعة المال»[۱]

يعني الله تعالی دمورواوپلارنافرماني ، دلوريانوژل اودنوروپه حق خيته اچول اودهغه څه چې مستحق نه يې غوښتل اومطالبه دايې پرتاسې حرام ګرځولي اوبد يې ګڼلې چې (شايعې اوافواوې) خورې کړی اودنورو خلکو په خبرواو کارونو کې مداخله وکړی ، مال بې ځايه مصرف او ضايع کړی او (بې ځايه پوښتنې) کوي هم له نالايقو کارونو څخه دی

حضرت ابوهريره رض ، روايت کوي چې رسول صلی الله عليه وسلم وفرمايل : «کفی بالمرء إثماً أن يحدّث بکلّ ما سمع »[۲] په بل روايت کې «کفی بالمرء کذباً أن يحدّث بکلّ ما سمع» يعني داچې يو څوک ديوه مطلب په محض اوريدوسره

دهغه خورولو ته متي بدوهي (تحقيق تکوي) دغه کس ددروغجنو په کتار کې راځي، يعني ګنهګاريږي

عبدالله بن وهب (رح) وايي چې ماته امام مالک (رح) وويل: چې پوه او اګاه اوسه چې هرهغه کس چې دخبري له اوريدوسره سم دهغې په نشر لاس پورې کوي هغه به له (خطااولغزش) څخه په امان پاتي نشي اوترڅو چې په دغه عادت مبتلاوي دامامت او مشرى لايق او ورنشي ګرځيدلای..

عبدالرحمن بن يمان (رض) روايت کوي چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «بئس مطية الرّجل زعموا»[۳] زياته بده ده چې يوڅوک ديوې خبري په نقل اوروايت کې په ګمان اواټکل باندي استنادوکړي. خطابی د«زعموا»[۴] په تشريح کې وايي چې عرب دزعمو داسې تشريح کوي چې هغه خبره نه (مستند اومتيقنه نه وي) يعني صرف په اوريدولو اکتفاوکړي.

امام ابوحاتم بن حبان (رحمه الله)وايي: ژبه ديوه خطرناک درنده مثال لري چې که کنترول يې کړي په امان به پاتي شي او که دي سرپله پريښوده په لوی خطر کې ځان واچوي.

ابن حجر عسقلانی (رحمه الله) وايي: دحوادثو، اقوال او افعالو په ذکر او ثبت کې نه ښايي چې څوک په هغو خبرو باور وکړي چې افواوو او شايعي ته ورته وي، بلکې تحقيق او تفحص پکاردی په ځانګړي ډول چې ديوه چاپه حق کې دطعن اودهغه دشخصيت دپايمال کيدوموضوع وي په دې وخت کې هراړخيزاو ژورفکر او تحقيق ته ضرورت پيدا کيږي [۵]

علامه عبدالرحمن سعدی (رحمه الله) وايي :يوله سترو تيروتنو څخه داده چې يوڅوک انساني تولنه په محض يوه خبر او شايعي سره له خطراو بدګمانی سره مخ کوي په دې معنا چې ديو نقل قول په اوريدوسره چې صحت او کذب يې لامعلوم نوي پرهغه دتاييدمهرلګوي او همدغه نقل قول ددوستی او دوښمنی اساس اوسرچينه ګرځوي .[۶]

شايعه خورول لوی زيانونه شاته لري:

له شک پرته شايعه او افواه داقدرت لري چې منسجم صفونه متشتت اوپراګنده کړي، يعني چې کله يوځای ته افواه ورسيږي، يوشمير خلک په هغه کلک باور کوي او يوشمير نور يې تکذيب کوي، له همدې امله خلک په دو ډلو ويشل کيږي او هره ډله دخپلې همدغې نزاع اومدعاليپاره له يوبل سره مناقشي او حتی مقابلې ته رادانګي اونوري ناروا وي ورسره ګډوي، نوځکه يومسلمان ته نه ښايي چې له تأمل او پلټنې پرته هغه څه چې واوري پرهغه ځای پرځای باوروکړي او بيا دخلکو په منځ دنشر او تيتولو اراده وکړي، له دغه ناسم عمل او بې پروايي سره ارومرو دغه کس بې اعتماده او دنفرت وړ ګرځي اوهره کړنه ترپوښتنې لاندي راځي؟!

حضرت «ابو درداء» رحمه الله فرمايي: که يوڅوک په مسلمان پسي تهمت وتړي او يوداسې خبره په هغه پسي شايع کړي چې حقيقت ونلري هغه دسزا مستحق او الله دې په ورځ دقيامت کې هغه په تل پاتي عذاب کې اخته لري، ترڅو هغه څه يې چې ويلي او تړلي دي ثابت کړي .[۷]

سرچيني

[۱ –بخاری، کتاب «الاستقراض» باب «ما ينهی عن اضاعة المال» (۶۸/۵) و کتاب «الادب»

[۲] –سنن ابی داود، کتاب «الادب» باب «التشديد فی الکذب» (۲۹۸/۴)

[۳] –مقدمه کتاب مسلم، باب «النهی عن الحديث بکل ما سمع» (۱۰/۱).

[۴] عبدالله بن مبارک. «الزهد و الرقائق»، ۳۷۷ ابوداود، «الادب» باب «قول الرجل زعموا» ۴۹۷۲

[۵] "التبر المسبوک"، سخاوی، ص ۴.

[۶] –الرياض الناضره و الحدائق النيرة ابزهرة، ص (۲۷۲-۲۷۳).

[۷] –بهجة المجالس و أنس المجالس (۵۷۹/۲).

سیاسي مبصر ابوظهیر له (الاماره) سره په مرکه کې:

مونږ دامریکایي رژیم چارواکو په بې منطقه استدلال دومره تعجب نلرو! څومره چې، د دې مردودترون په دفاع کې دافغاني رسنیو په مجرمانه کردار او د سیاسي کتونکو په اسلام ضد ویناوو متعجب یو!!!

مرکیال عمران خلیل

د یک شنبې په ورځ (دنومبر ۲۴) له امریکا سره دامنیتي تړون پرسر په اصطلاح مشورتي لویه جرگه راوبلل شوه ترڅودافغانستان او امریکا ترمنځ دامنیتي تړون پر متن بحث وکړي ،لکه څرنگه چې له اوله سره داسې معلومیده چې دامریکا په خوښه او غوښتنه رابلل شوې جرگه او خرڅ شوي غړي به دهیواد پلورنې دا متن تائیدوي ، په همدې اړه الاماره ویب پاڼې دسیاسي مبصر اوشهامت مجلې د مسئول ښاغلي ابوظهیر سره دموضوع په ارتباط هراړخیزه ځانگړې مرکه کړې چې لوستلو ته یې تاسو درانه لوستونکې رابولو.(دالاماره ویب پاڼې اداره)

پوښتنه : په دې ورستیو کې د کابل اداري له امریکایانو سره د په اصطلاح امنیتي قرارداد په نامه تړون منلو لپاره نمایشي مشورتي جرگه دایره کړه پریکړه وشوه چې له امریکایانو سره تړون زمونږ دهیواد په گټه ده او باید لاس لیک شي ، تاسو د کرزي دغه اقدام او ورسره د جرگې د گډونوالو پریکړې ته په څه نظر گورئ او څرنگ یې ارزوئ ؟

منته !

ځواب : دجعلي اوپردي پالې جرگې له تالاره دهمدې پریکړې اوهوکړې تمه اوتوقع وه ، چې په پټو سترگو به له امریکا سره دراتلونکو لسو کلو لپاره دپوځي هډو جوړولو دتور اوکرغېړن سند متن پرته له کوم تغیر تصویب اوتوثیقوي. په دې توگه دلیندۍ ۳مه (نومبر ۲۴ مه) زمونږ دتاریخ یوه بله توره ورځ شوه، دخپلواکو افغانانو لپاره دا یو خواشینونکې اوځورونکی پیغام دی، چې ناوړه اغیزې به یې تر پیړیو پیړیو راتلونکو نسلونو ته پیغور پاته وي. امریکایان به زمونږ د ولس په سرنوشت ملنډې وهي، افغان ولس به له دې املـه

يومحكوم راتلونكي ولري ، په ټوله کې ويلای شو چې دا مردود تړون زمونږ دملت او هېواد لپاره ديوه بل کرکجن ناورين اغازدی.

او دا په حقيقت کې دامريکا دهغو استعماري پلانونو اوشومو ارادو تسلسل دی ، دکومو په غرض چې دامريکا وحشي لښکرې زمونږ خاورې ته راغلي ! امريکا هم ديته ليواله وه چې دسيمې اومنطقې دځار لپاره افغانستان کې له خپل موجوديت نه اعظمي ګټه پورته کړي او دتل لپاره دافرصت په لاس ورشي ، چې هرکله هم غواړي په سيمه اومنطقه کې دخپل رول اونفوذ دپياوړتيا لپاره له نظامي پايښت نه استفاده وکړای شي ! دکابل دغلام رژيم او نمايشي جرګې پريکړه له افغانستان سره ، دافغانستان دملت سره يونه بښونکي ملي خيانت اوجنايت دی !! دافغاني ملي عنعناتو ،تاريخي وياړونو سپکاوی دی ، داسلامي حکمونو اواقدارو علني توهين دی

دامريکا په ډالرو مست او اجهل خلک دجرګې دا مردود ګام په سياسي او امنيتي ملګرتيا تعبيروي !! حقيقت دادی چې ددې عواقب اوپايلي به افغانستان او افغان ملت له نه توجيه کيدونکو بدمرغيو سره مخ کړي !

پردي پال تحليلګران په زياته بې شرمۍ تيرو دولس کلو کې دامريکا پر وحشيانه کردارونو ، ، بربندو جنايتونو او ښکاره ظلمونو ستر ګې پټوي او دخپلو کمزورو او بې اثره دلايلو پر مټ د خپل شيطاني بادار له لخوا دا ورکړل شوي وظيفه ګردانوي چې : " افغانستان دګاونډيانو داحتمالي خطره قوي ملاتړ او ملګرتيا ته ضرورت لري !! حال داچې افغانستان له قرنو نو راهيسي په منطقه کې يو ازاد او خپلواک هېواد پاته دی ،دتاريخ په هيڅ يوه دوره کې يې په حريم تيری دګاونډيانولخوا نه ، بلکې هميش افغانستان دنړۍ زبرځواکو اولويو قدرتونو د خپلمنځي سياليو ډګر ګرځولی، نو که افغانستان په راتلونکي کې دکوم احتمالي خطر يا ګواښ سره واقعاً مخ هم شي؛ هغه به دګاونډيو له لوري نه؛ دنړۍ دلويو ځواکونو لخوا بل يرغليز جسارت وي.

او ډېر افسوس! چې دا بې شعوره خلک افغانانوته د خپل داسي بې شعوره استدلال په ژبه دقناعت ورکولو هڅې کوي اوله امريکا سره دکرزي خيلو نوی محکومانه تعاهد دافغانستان او افغانانو لپاره ګټور توجيه کوي ، خو مونږ دامريکايي رژيم چارواکو په داسي بې منطقه استدلال اوځر ګندونو دومره حيرانتيا اوتعجب نلرو! ځومره چې د دې مردود تړون په دفاع کې دافغاني رسنيو په مجرمانه کردار او د سياسي کتونکو په جاهلانه نظرونو اودهغوئ په اسلام ضد ويناوو متعجب يو !!

له هغوئ پوښتنه کوو ! جنابانو !هغه امريکا چې په يويشتمه پيړۍ کې دخپل دين (مسحيت) ترټولو غوره خدمت دزمکې له مخ نه ديو نيم مليار د مسلمانانو ورکيدل بولي !هغه امريکا چې د هغه پخواني مسيحي وصيت(هر هغه دښمن چې ځما واک نه مني ، هغه راولئ ځما په پښو کې يې ذبح کړئ ،انجيل لوقا ٢٩) په تبليغ اوتکميل لګياده ، کوم چې دسينټ لوقا(دامن شهزاده مسيح) په ژبه نړۍ ته رسيد لی: " هغه امريکا چې عملاً په نړۍ او افغانستان کې دمسلمانانو په ټولوژنه يې لاسونه سره دي ، دمسلمانانو او افغانانو په مقابل کې قوي محارب فريق دی! اوسره ددې چې دافغان مسلمان ملت ټولې وړاندېنۍ او وروستۍ نيکمرغۍ ، وياړنې او افتخارات داسلام مرهون منت دي ايا امريکاته دافغان خاورې په سوغات کې ورکول! ورسره په دې منظور کرغيړن سند لاسليکول شرعي وبال او مسؤليت نلري ؟

یقین وکړئ! په کومو شیبو کې چې دغلامي لویې جرګې دتالار دننه ددغه تور او کرغیړن سند په ملاتړ لاسونه او غړونه پورته شول!! په ګډون والو اوملاتړو یې الله (ﷻ) او دهغه ملایکو لعنتونه ویل!! باور وکړئ افغانستان پخپل ټول تاریخ کې دومره له خجالت اوشرم ډکې شیبې ! وړاندې نه وي لیدلې! کومې یې چې دغه مهال ولیدې!!

هم داشان دجرګو هغه درونه عظمت چې له مودو مودو راهیسې په افغاني ټولنه کې شته ،هغه ته درنه صدمه ورسیده ، دیمکراتانو دافغانانو ازادي خرڅه کړه ،دافغانانو له تاریخ او استقلال سره یې خیانت اوجفا وکړه.

او داسې ښکارې چې امریکا زمونږ په خاوره کې دیوې سترې لوبې پیلولو شوم عزائم لري ، دسیمې دسیاسی چارو خپلواکو کتونکو په اند : کابل کې دمشورتې لویې جر ګې رابلل ، اوددې سره هم مهال په ژنیو کې دایران د اټومي لانجې دحل په منظور دنړۍ دشپږو هېوادو او ایران ترمنځ په مؤقتې هوکړه اتفاق کیدل که څه هم دواړه جلا، جلا قضیې دي لیکن که په ژور لرلید ورته وکتل شي ددواړو لپاره یو هم مهال وخت ټاکل په دې حقیقت باندې له پوهاوي سره مرسته کوي چې دغه دواړه هوکړې داسلامي نړۍ په اړه دنړیوالو قدرتونو دنویو شومو ارادو او استعماري پلانونو ښکارندوي کوي او د دواړو تړونو ترشا دپټو موخو اوغرضونو دیو والي روحیه شتون لري .بناءً په هرصورت امریکا غواړي اسلامي نړۍ ته ځنې منسوب کړۍ دخپلو استعماري اهدافو په وړاندې دختنړ اومزاحمو لورو سره وجنګوي ، چې په دې سره به په سیمه او اسلامي هېوادو کې کورني جنګونه تریخوا نور هم وغځیږي .

که افغانان دامریکایانو ددې تازه اقدام په وړاندې غلي اولاس ترزنې ناست پاته شول او په مقابل کې یې پورته نشول راتلونکی تاریخ به یې ونه ښني ، راتلونکې نسلونه به دویاړلو پرځای وربانـدې شرم محسوسوي همـدا راز لـه سیاسي ، اقتصادي ، اوپوځې پلوه به افغانستان تل په نړیوال ډګر کې دیوه مستعمره هېواد موقف لري ، له رواني او اخلاقي پلوه به د خبیث امریکایې تهذیب ترویج اوپراختیا بې شمېره بداخلاقۍ اوبې لارۍ وزیږوي ... خدای دې نکړي چې امریکا پخپلو دې شیطانې ارادو اوعزایمو کې د برې ترمنزله ورسي ! .

پوښتنه : په اصطلاح مشورتي جرګې دتړون متن تائید کړاو دلاسلیک لپاره یې وړاندې کړ ،اوس دکابل اداري مشرحامد کرزي په مطبوعاتي کانفرانسونو او غونډو کې راځر ګندیږي او په دې ټینګار کوي چې دامتن باید له راتلونکو انتخاباتو وروسته نوې اداره لاسلیک کړي له بلې خوا امریکا یې چارواکي لنډ ضرب الاجلونه ورکوي چې که دتړون متن ژر لاسلیک نشي دوئ به خپل ټول پوځونه له افغانستانه وباسي، امریکا یې ځواکونو دا هم ویلي که لاسلیک ونشي کیدای شي هغه ژمنه چې ملیاردونه ډالر مرسته به افغانستان تهورکوي پرځای نه کړي، تاسو دې لوبې ته په څه نظر ګورئ؟

ځواب : هو! کرزی کوښښ کوي څو پخپلو نمایش اوشیطاني کر کتړونو خلک تیرباسي او ځان خپلواک اوآزاد وښیي، خو دا هر څه په تصنعي بڼه ځرګندوي ، کله له امریکا سره اړیکې ناڅاپه ترینګلي اوپیچلي کړي که امریکا دا کار نکوي ... زه هم ... !خولږ شیبه پس بیا چورلټ په هغه دریځ اوموقف ولاړ نه وي ، داچنه بازي دامعنی نلري چې هغه رښتیا د افغانستان په غم او درد خفه دی

البته کرزی دا اندیښنه ضرور لري ، هغه په ځای هم ده ، چې هسې نه دده دلویو جنایتونو په ضد ملت عمومي

پاڅون وکړي ! هغه څوک چې دافغانانو له مزاج سره اشناوي، پوهېږي چې افغانان په پوځي لباس کې دبهرنیو له شتون کرکه لري ، پخپل هېواد کې ورته دشک په نظر ګوري، کرزی هلي ځلي کوي چې په جعلي ویناوو او نمایشي اداګانو دملت دننه شته خفګان او ناراضایت روحیه کمه کړي.

خو ملت د کرزي داټول نمایشي څوځښتونه څاري، ولې ملت مسلمان دی ، شعور لري ،جهاد ونه یې کړي ،ددې خاورې لویشت لویشت یې تل پخپلو وینو اوقربانیو د پردیو تیرې کوونکو له مونګلو ساتلې ،اوس چې کرزي داخاوره امریکایانو ته دسوغات په ډول اوبښله ،حتمي ده چې ملت نور چوپ پاتـه نشي ،ولې امریکایانوته دقانوني اوقضائي مصؤنیت ببښلو وروسته امریکا یې سر تیري به دومره سپین ستر ګې شي ،چې له هر ډار اوبیم پرته دافغانانو ملي ارزښتونه او دیني مقداسات تر پښو لاندې کړي! دافغانانو په ننګ ناموس اوحیا ووبه د تیریو جسارتونه کړي ، دمخالفت په صورت کې افغانان به نیسي ، تړلې لاس اوپښې به یې خپلو نظامي هډوته وړي ، ورته ډول ډول اذیتونه اوتعذیبونه به ورکوي ، تور سري به یې بې پته اوبې ابرو کوي ، ولې کرزي خان ور سره قضائي مصؤنیت منلی ، کرزی او دهغه لاسپوځي کابینه اوحکومت غواړي پخپلو تشو لفاظیو ځان دملت له هغه سترې محاکمې او محاسبې وژغوري ، دکومې راتلو اولیدو ته چې دا ملت په ورخطایې سره دانتظارشیبې لنډوي .

بل دډېرو په نظر کرزي غوښته ددې تړون په عوض کې تر د۲۰۱۷ پورې ولسمشر پاته وي ، خو امریکا یې ستراتیژي پوهانولخوا په نوي ستراتیژۍ کې دولسمشرۍ څوکۍ ډېر چانس دشمال ټلوالې په نوم شوی، دې کې دناکامۍ وروسته کرزی ارزو لري چې امریکا دده دخوښې کاندید پلوۍ ډاډ ورکړي لیکن بریښي

داسې چې دامریکا په راتلونکې ستراتیژۍ کې کرزي اودهغه هم خیال به ډېر څرګند موقف ونلري.

هرچې دتړون دنه لاسلیکیدو په صورت کې دعسکرو دایستلو دګواښ پوښتنه ده ،، امریکاغواړي په عین حال کې له ځینو فشارونو هم کار واخلي څو عامه ذهنیت په دې تیر باسي چې امریکا ګواکې افغانستان کې دهډو جوړولو سره ډېره علاقه نلري بلکې ددوئ پاته کیدل دافغانانو ضرورت دی حال داچې دافغانان ولس دننه قاطع اکثریت دامریکا یې هډو مخالف دی، هغوئ کرزی خپلواک او ازاد ولسمشر نشي منلی له دې وجې پریکړو او ارادو ته یې د یرغمال شویو پریکړو او ارادو په سترګه ګوري ،په راتلونکې کې هم دهغه لخوا شویو پریکړو او تعاهدونو درناوي ته ځان مکلف نه بولي!

پوښتنه : داسې ګنګوسې دي چې کیداي شي امریکایان دکرزي پرځاي دکابل اداري له کوم بل چارواکي سره دا سند لاسلیک کړي

ځواب : ګومان نه کېږي چې دکرزي لخوا دننه لاسلیک لافي شاپي تصنعي اوجعلي نه وي ، تردېره باور کېږي چې ددې ترشا دامریکا خپل ځنې عزائم هم شاید شتون ولري ، کرزی ټول پېژني چې څومره خپلواک ولسمشر دی؟ هغه دامریکا بسته حکومت خو څه دیوه ادني امریکایې عسکر په وړاندې هم داحترام مراتبو په ادا کولو عار اوشرم نه محسوسوي بلکې پرې ویاړي ! نو څه داچې دامریکا ددولت یوه جدي غوښتنه هغه له پامه وغورځوي ، کرزی په تمامه معنی دامریکا لپاره مخلص نوکر دی هیڅکله دامریکا دګټو مخالف عکس العمل نه ښیې اونه یې دښودو توان لري.

اصلا دامریکا خپله اراده او ستراتیژي مهمه ده ، هغه تردېره ښکاره ده چې د۲۰۱۴ ز کال وروسته هم افغانستان کې دنورو لسو کلو لپاره د پوځي اشغال غځولو اراده لري ،

امریکا ته دا دومره اهمیت نلري چې کوم نوکر دې ورسره لاسلیک کړي کرزی که بل؟ له دې وجې دکرزي وروستۍ ویناوې اوخبرې دامریکا په اراده اوستراتیژي څه تاثیر نلري اونه دا باور اوتضمین شته چې کرزی به سبا بل سبا له خپل دریځ په شانشي په تېرو دولس کلو کې په کراتو مراتو کرزي ددې لپاره چې دافغانانو قهر او غوصه سړه کړي په مؤقت او نمایشي ډول امریکایان پړه اوملامت بللي خو لږ وخت پس بیا هرڅه یې له یاد وتلي اوس هم کرزی کوښښ کوي چې دافغان ولس عامه ذهنیت دسملاسي غبر ګون شودو څخه کینوي او خلکوته پخپلو جذباتي اوله قهره ډکو ویناوو دوکه ور کوي له دې پرته بل هیڅ هدف او پلان نلري باید افغانان یې په خبرو پسي لاړ نشي اونه پرې باور او اعتبار وکړي

هو! باید وایو چې افغان مسلمان ولس ته نه دکرزي لخوا دامریکا سره ددغه تور اوکرغیړن سند لاسلیک له قانوني اوحقوقي پلوه کوم اعتبار او ارزښت لري، نه دهغه پشان دکوم بل امریکا یې غلام لخوا لاسلیکول یې، په هیڅ صورت دافغان ولس قاطع اکثریت ته دغه پریکړه له منلو نده، نه راتلونکې کې افغان مسلمان ملت له حقوقي اړخه دبې ۵۲ د سیورې او ۴۶ هېوادونو دبیرغونو لاندې لاسلیک شوي سند په منلو ته درناوی به وکړي.

پوښتنه: که دامریکایې چارواکو څرګندونو ته ځیر شو ډیرې سره متضادې دي ځینې وخت افغانانو ته دا فکر ورکوي چې ګني دوی پښې سپکوي او له ځینې څرګندونو یې داسې فهمیږي چې دوی تړون ته لیواله دي ددې بل څه لامل کیدای شي او که دا یوازې دیوې فکري جګړې له مخې غواړي افغانان په تشویش کې واچوي؟

ځواب: امریکا یان دخپلو ګټو په حصول کې دټولو شیطاني او ابلیسانه حربو کارول نه دریغوي، امریکا دملتونو ازادۍ، ناپیلیتوب، انصاف اوعدالت ته ژمنتیا نلري، دامریکا ټول تاریخ په مغرضانه سیاستونو شاهددی، دغه وجه ده چې امریکا اوس په نړیواله کچه دریښتنولۍ موقف له لاسه ورکړی، هیڅ ملت دیوه خپلواک ملت په حیث له امریکایانو سره په هیڅ معامله او راکړه ورکړه کې دمتقابل اعتماد روحیه نه حسوي، له شک پرته دامریکا یې چارواکو په کړو وړو او څرګندونو کې تل په لویه پیمانه تضادات لیدل کیږي، بلکې امریکا په نړیوال ډګر کې هم دتضادونو ډکه دیپلوماسي کاروي مثلاً: امریکا افغانستان ته دټانګ په سر دیمکراسي را وړي، په زوره دیمکراسي پلې کوي، خوبل پلوه په نوره نړۍ کې شاهي رژیمو نه پالي، په مصر کې ددې لپاره چې ددیمکراسي له لارې داسلامي افکارو لرونکي تنظیم واک ته رسیدلی و، امریکا هلته دهغه په مقابل کې په رڼه ورځ دشوي سپیني پوځې کودتا څخه نه تنها ملاتړ کوي بلکې هغه په شاتپوي چې په مصر کې دیمکراسي درنه پلي نشي ،ځو بیا داسلامي فکر خاوندان واک ته ونه رسي ... دلته امریکا هم دتضادونو څخه ډک کردار لري ژوندی مثال یې دامریکایانو لومړی هغه اعلان دی چې د۲۰۱۴ ز تر پایه خپل ټول عسکر له افغانستانه باسي! خو اوس وایي لس کاله نور هم غواړي افغانستان کې خپل عسکر په یو شمېر ستراتیژکو نقاطو کې پاته کړي.

پوښتنه: په واقعیت کې د افغانستان دملت غوښتونو او د سیمې ایجاباتو ته په کتو، څومره ممکنه ده چې له امریکایا سره به دغه راز تړونونه په ریښتیا هم سوله راوستلی شي او دافغانستان په امن کې به رول ولري؟

ځواب: امریکا ته دافغانستان دننه او دسیمې دامنیت مسئله مطرح نده اونه په دې اړه کومه ستراتیژي او اراده لري، څنګه ترې افغانان او دسیمې نور هېوادونه دسولې او امنیت راوستلو خوشبیني لرلی شي؟ مثلاً: کله چې امریکا په افغانستان یرغل نه وکړی، هغه مهال دافغانستان په ۹۵ سلنه خاوره کې بشپړ امنیت تامین و، د

امریکا یې یرغل وروسته دافغانستان په ۵ سلنه خاوره کې هم امنیت اوسوله نشته ،هم دا راز دګاونډي هېواد پاکستان دننه یوه لویه برخه کې دخلکو ژوند دامریکایانو دمو جودیت له امله د ننګونو اوستونزو سره مخ دی، که امریکا یان دنورو لسو کلو لپاره پاته شول نودافغانستان په ګډون به دټولې سیمې په سطحه ډېرې لوې ناامنۍ رامنځته شي .

پوښتنه :. دکابل اداره او ورپورې تړلي کسان چې دامریکا سره په تړون ټینګار لري ، استدلال کوي، د دې لپاره چې د ګاونډیو هیوادو په اصطلاح د تیریو مخه ونیول شي، نو اړینه ده چې افغانستان له امریکا سره دغه رازیو تړون ولري، په داسې حال کې چې امریکاته له افغانستان نه په ډیرو وجوهاتو زموږ ګاونډي هیوادونه خصوصا پاکستان ډیر مهم ده او له هغو سره هم امریکا ورته تړونونه لري، نو آیا دضرورت په وخت کې به ریښتیا هم امریکا د افغانستان پلو ونیسئ او زموږ هیواد ته په ترجیح ورکړي؟

ځواب : مونږ باید دیته متوجه اووسو چې افغانستان دسیمې یوتاریخي اومشهور هېواد دی ، په نړیواله توګه خپلواک ،آزاد اوناپیيلی حیثیت یې منلی دی او افغانستان د یوه ژوندي هېواد نوم دی ، نه د کوم مړه هېواد؟ ددې هېواد خلک تربل هرچا دخپل وطن په ساتنه ښه پوهیږي، افغانان پخپل چم او ګاونډ کې له هیڅ ګاونډي هېواد سره ددښمنۍ دکه ماضي نلري ، ددغه تړون دملاتړو دا دلیل چې افغانستان دګاونډیانو له لورې په راتلونکې کې له ګواښونو سره مخ نه وي! مردود دی ! دافغانستان ګاونډیانو ته دشوروي او امریکایانو انجام ښه یا ددی ، په دې پوهیږي چې افغانان هرڅه منلی شي خو دبل باداري نه مني ، دیته په پام به هیڅ ګاونډی پر افغانستان دمخامخ یرغل تیروتنه ونکړي ، که بالفرض هریو داتیر وتنه وکړه له بد انجام پرته به بل څه ترلاسه نکړي ، څنګه چې انګریزي او سرې لښکرې له افغانستانه زړوند سرونه وتلو ته اړشوې، دامریکا په مشرۍ دنیمې نړۍ عصري اومجهز ځواکو مات شول هم داسې به تیرېګر ګاونډیان به هم پخپلو تندیو د ناکامۍ توړداغ وړې ، افغانانو له خپل هېواده تل دخپلو متو په زور ننګه او دفاع کړې ، دا دافغانانې ملي غرور توهین دی چې دمیړنیو افغانانو اولادونه د خپل هېوا د دفاع لپاره دمتعصبو مسیحیانو ملاتړ ته اړدي !!

که واقعاً افغان ولس دیوه ولس په حیث له ګاونډیانو دومره ډارېږي چې دخپلې بقا دتضمین لپاره د پنځلس زره صلیبې عسکرو شتون ته غاړه ږدې ، نو هیڅکله دومره بزدله اوډارن ولس دخدای(ﷻ) په زمکه دژوند حق نلري! ایا دا ربښتیا ده هغه ولس چې یووخت په ټوله سیمه یې دزړورتیا اوقهرمانۍ راج لاره نن د ګاونډیانو له ډاره د یوه محارب مسیحې هېواد په عسکرو دځان ساتلو ارزولري؟ لعنت دي وي په داسې ژوندیو اودهغوئ دژوندانه په هیلو !

لیکن مونږ بشپړ ډاډ لرو چې داسې نده ، خدای دي هغه ورځ نه راولي چې قهرمان افغان ولس دومره بې ننګه او بې همته شي چې د ګاونډیو له ډاره په خپله خاوره کې دیوه متعصب عیسوي هېواد دعسکرو شتون هم ګناه ونه بولي !! افغانان نن هم په هم هغه ایماني روحیه اومورال دهر تیري ګر په وړاندې دجنګ او دهېواد دلویشت لویشت خاوري نه په میړانه دفاع اوجهاد ستره نیکمرغي اوثواب بولي په کومه یې چې چنګیز ، انګریز ، شوروي او امریکا ته شکست ورکړ ... هو! ضرور یوشمېر دهوس مزدوران دڅو پیسو په بدل کې دافغانانو دننګ او ارزښتونو خرڅول نه دریغوي ،خو هغوئ دي پوه شي چې ډېر ژر به دهغوئ باداره امریکا دخپلو بدو ارادو تراخه وڅکې ، دلته پاته کیدونکو عسکرو لاشونه به یې ددوئ دمصلوب معبود پشان په لارو او واټونو کې زوړند ووینې چې تر یې ویت نام اوصومال دواړه به هیر شي

رازم ستا دې خبرې ته که بالفرض په افغانستان له بهره یرغل وشي امریکا به دکوم لورې په دفاع اوپلوۍ دریږي ؟ ښکاره ده چې امریکا هلته قدم نه ږدي چې خپله ګټه یې نه وي! په دغسې حالت کې به امریکا خپلو ګټو ته په پام پریکړه کوي نه دافغانستان ګټو ته په پام !خو داخبره باید له پام ونه غورځو که له ګاونډیو له لورې افغانستان ته هر خطر متوجه کېږي. هغه سره به دامریکا لمسون او اراده خامخا ملګري وي !! په دې صورت کې امریکا به خامخا دخپل ارادت مند لورې دفاع کوي نه دافغانستان له حریم ؟لنډه دا چې دا تش جاهلانه تخیل دی چې افغانستان دګاونډیو نه دخلاصون لپاره په امریکا تکیا کولو ته اړتیا لري داسمه ده چې افغانان بیوزله اوبیوسه دي خو بیغیرته اوبې همته ندي ، هیڅ افغان په پوځي لباس کې دبهرنیانو شتون پخپل هېواد کې نشي منلی ، اوبیا خاصکر کله چې هغوئ دا ووینې چې دین ، پت اوخپلواکې یې له تهدید اوتیري سره مخ ده

افغانان په دې هم ښه پوهېږي چې امریکایان په پیل کې معمولاً خوږې اوغوړې خبري کوي څو خپل شیطاني دامونه وغوړوي کله چې خپل هدف ته ورسي بیا هیڅ نه پیژني ، نه بشري کرامت ته درناوی لري نه اخلاقي او انساني ارزښتونه رعایتوي ، دګاونډیو له احتمالي بریدونو دافغانانو ډارول ، دروحي فشار اچولو پرته بل هیڅ واقعیت نلري.

پوښتنه : دامریکا سره دغه راز تړون به څومره قانونیت ولري؟ که مدلل او منطقي ځواب راکړئ چې د افغانستان لپاره له امریکا سره دا راز تړون لاسلیکول د افغانستان په ګټه دي او که په تاوان؟

ځواب :ګورئ! امریکا هرڅه دځواک اوزور په متو کوي ، هغه متل دی چې : دزورور اوبه په لوړه خیږي ! امریکا له نن دولس کاله وړاندې په افغانستان یرغل راوړ ، دکوم قانون اوکومو اصولو له مخې ؟ ښکاره ده امریکایان په نړۍ کې دهیڅ هېواد یا ولس قوانینو او مقدساتو ته احترام نلري ، هغه تنها دخپلو شیطاني ګټو خوندي کول مهم ګڼي ، کله چې هغه قانونیت ته درناوی او احترام نلري ، څنګه دامریکا استعماري جسارتونه په قانونیت توجیه کولی شو ؟ یا ترې دقانومندۍ توقع درلودلی شو؟ امریکا ته نړیوال قوانین اوتعاهدات داحترام وړندي اونه دکوم بهرني هېواد کورني اصول او اقدار ورته محترم دي ، په هیڅ شکل داشکالو دامنیتي قرار داد په نامه دکرزي لخوا کیدونکې هوکړه قانوني اوحقوقي بڼه نلري ، دا د غاصب یرغلګر اودکوربه محکوم ترمنځ تړون دی ، نه ددوه خپلواکو هېوادونو دچاراواکو ترمنځ !

هرچې دا خبره ده چې دافغانانو لپاره به ددغه تړون لاسلیکول په ګټه وي او که تاوان ؟

پرته له شک زه په کامل بصیرت ویلای شم چې ددغه تړون منل اولاسلیکول دافغانستان لپاره نیک شاګوم ندی ، دافغانستان او منطقې په ګډون دټولو لپاره به ناوړه عواقب پېښ کړي ، ورسره به افغانستان کې جنګونه نور طول ونیسي ، امریکا به دافغانستان له حریم نه په ناوړه ګټه اخیستنه په منطقه اوسیمه کې دبې امنیو اورونو ته لمن ووهي ! دافغانستان ګاونډیان به له افغانانو سره په اوږدو دښمنیو، تربګنیو او جنګونو کې ښکېل کړي ،دتهذیب اوتمدن په نوم به په افغانستان او منطقه ناوړه تاثیرات وشیندي.

پوښتنه : امریکا چې نن په نړۍ کې دیو مقتدر هیواد په توګه مطرح ده، څومره به دکرزي له اداري سره په خپلو کړو ژمنو وفا وکړي؟ او که احیانا وفا ونکړي لکه څرنګه چې نړیوالو تجربو هم ښودلې ده نو بیا به دا تړون د افغانانو لپاره لاڅومره په زیان تمام شي؟

ځواب :دامریکا ټول تاریخ دبشریت په وینو لړلی ، امریکا کرزی څه چې دنړۍ ډېرو لویو اوځواکمنو هېوادو سره په کړیو ژمنو وفا نه کړي ، کرزي خو ددوئ دلاس نیالگۍ دی ، که ددوئ مرستي او نظامي یرغل نه وای کرزی چا پیژانده ؟ ، داتمه اوخوشبیني لرل چې امریکا به له افغانستان اوکرزي سره په کړو ژمنو وفا وکړي دحماقت نه سیوا بل مفهوم اوتعبیر نلري ، داترون سل په سلو دافغانستان لپاره زیان دی ، گاونډیانو ته افغانستان کې دمداخلي فرصتونه برابروي ، افغانستان کې جگړې ته طول ورکوي ، امریکا غواړي دافغانستان له ټولو مهمو هوایې ډگرونو څخه دگاونډیو پر ضد جارحانه پلانونه پرمخ بوسي ، څه فکر کوو کله چې امریکا ستا له خاوري دگاونډیو دځملولو او ایل کولو لپاره ناوړه گټه اخلي ، کاونډیان به لاس ترزنې ناست وي؟ روښانه ده او هر سړی دپوهیدو ادراک لري چې امریکا به افغان ولس په داسي لویو جنجالونو کې ښکېل کړي چې هرڅومره هم ترې دځان خلاصون کوښښ به کوي خولار به نلري.

پوښتنه :که امریکا دترون له موادو نه سرغړوي او تخلف وکړي، نوآیا په نړۍ کې داسې کومه بله اداره یا دضمانت څه امکان شته چې امریکا دې ته اړه کړي چې باید دترون مواد ومني او عملي یې کړي؟

ځواب :کاشکې ! داپوښتنه څوک ددې مزدور رژیم له چارواکوهم وکړي ، چې آخر په کوم باور تاسو امریکا سره داعهد اوپیمان کوئ؟ دامریکایانولخوا له کړو ژمنو څخه تخلف حتمي دی ، دهلمند په گرمسیر ولسوالۍ کې دولسي خلکو په شهادت رسول تازه اوژوندۍ نمونه ده ، ترپرون پورې میډیا او دکرزي اداري هم داوظیفه زوتوله چې اوباما په لیک کې کرزي ته ډاډ ورکړی دی چې ولسي خلک به نه وژل کیږي ، کرزي دجرگې په وروستۍ ورځ دټولې نړۍ په مخ کې له امریکایانو په ډېر منت او زاریو غوښتنه وکړه چې دترون وروسته تاسې ټول عملیات بند کړئ ! مونږ به یې خپله کوو، خو امریکایان هغسي لگیادي دخلکو په کورونو داړې غورځوي اوباما اونورپرې باک قدري هم نه راوړي ، دلته کرزی خان دې وهي کوکاري! یو ځل نه سل واره خو ... څوک یې په خوله دچاخبره پیاز هم نه خوري.

که څوک دا انگیري چې دامریکایانو دتخلف په صورت کې به افغانستان دملگرو ملتونو دروازه وټکوي هلته به خپل فریاد ورسوي، ښکاره ده ملگري ملتونه دامریکا دسیاست او گټو ستیج دی ، نړیواله ټولنه په ټوله معنی دامریکا دمتحده ایالاتو ددولت ترلاس لاندې اداره ده، هیڅ ازادي او خپلواکي نلري دامریکا په گډون دنړۍ دپنځو لویو قصابانو دتجمع مرکزدی ،له دې پرته بل څوک شته چې دافغانانودشکایت په صورت کې ددوئ غږ واوري ؟ ورسره عادلانه برخورد وکړي ؟ ځرگنده ده نشته هو ! یوشي افغان ولس ته ددې مجرمانه اومحکومانه حالته دنجات ښښلو وروستۍ لار ده ... چې افغانان دخپلو میړنیو اسلافو په قدم لاړشي ، پورته شي ټول هېواد کې سرتاسري پاڅون وکړي له امریکایانو نه یواځې دتیرو ۱۳کلو غچ واخلي بلکې آن دپخوانیو صلیبي جنگونو انتقام هم ترې واخلي، څو په اینده کې بیا څوک افغانستان او افغانانو ته په خیرنو سترگو ونه گوري.

پوښتنه :تاسې خو دترون نه جبرانیدونکي بد عواقب او تاوانونه په گوته کړل او ورسره مو دامریکا له منافقت او دوه مخی څخه هم پرده پورته کړه که یو دوه ژوندي مثالونه راکړئ چې کوم هیوادونه تیروتلي اوله کفارو سره یې داډول ترونونه کړي هغوی اوس څه بایللي اوله کومو دیني او عصري انحطاطونو سره لاس او گریوان دي؟.

ځواب :امریکا دسوفاترون په نوم چې له ځومره هېوادونو سره دغه ډول تړونونه یا قراردادونه لري ، هغه ټول هېوادونه تري دومره تنګ راغلي چې هره ورځ خلک یې ددغو قراردادونو دلغوه کولو لپاره قهرجن لاریونونه کوي . دې لړ کې ترټولو ژوندی مثال دنړۍ دیوه ډېر معتبر اومشهور هېواد جاپان دی ، هلته د۱۹۵۲زکال راهیسي داوګیناوا په نوم جزیره کې دامریکا پوځي هډه شتون لري ، داوګیناوا خلک دومره دامریکایې عسکرو نه تنګ شوي چې له املہ یې هلته همیش خلک دامریکایي هډې دشتون په ضد احتجاجونه اوتظاهرات کوي ،امریکایي عسکر ددغه جزیرې په میرمنو ډلیز جنسي تیري کوي ،تردې چې ورپسي ساحلونو ، ښوونځیو ،لیسو اوپوهنتونو ته ځي ! په زور اوجبر ځواني انجونې نیسي ډلیز جنسي تیري وربانديې کوي ، دارقامو له مخې له ۱۹۵۲زک ځخه تر اوسه دامریکایانو له لورې دیرش زره جنسي ځورونې ثبت شوي ،داپه جاپان کې دومره لویه ستونزده چې دامریکایي عسکرو دتیریو په مخنیوي کې دپاته راتلو له املہ څو حکومتونه استعفا ته اړشول په ۲۰۱۰زکال کې یو صدراعظم له دې املہ چې دخپلي کړې ژمنې سره سم یې په واګیناوا کې دامریکا نظامي هډه ونشوای تړلی له خپلي دندي استعفا ورکړه سربیره په دې چې جاپان دنړۍ یوشتمن پرمختللی هېواد آن دنړۍ په لویو اقتصادونو کې دویم درېیم موقف لري ،ورته حال دجرمني هم دی خلک هلته له امریکایانو دوه سپوږموته راغلي دخلیج هېوادونو حال له چا پټ ندی.

پوښتنه :ـ دتړون په وړاندې افغاني حساسیت ته په کتو،له تړون سره به په روان جهادي بهیر څومره مثبت یا منفي اغیز پرېوزي؟

داحتمي اویقیني ده چې امریکا افغانستان کې روان جنګ بایللی ، دلته دشته عسکرو مورالونه یې پریوتي ، دتیښتي اومندې په حال کې دي ، دجنګ څخه دومره ستړي شوي چې جنګ کول څه چې دجګړې دنوم اوریدو نه هم کرکه ورزي ، بل که امریکا افغانستان ته دټولې نړۍ پوځونه راولي هم ، شته شکست به یې په بري بدل نشي ، دمجاهدو افغانانو میړانو اوسرښندنو ته په پام په دې سره به دجهاد او مقاومت سنګرونه نور هم دپولادو په څېر کلک شي ماوراندې وویل افغانان پخپل هېواد کې په پوځي یونیفورم کې دخارجیانو لیدلو سره حساسیت لري أمریکا که دافکر لري چې افغانانو ته به په دې چل اوهنر ماته ورکړي ، دلالچونو په ورکولو به یې ضمیرونه واخلي دا ناپوهي ده ، وحشي امریکایان دې دخپلو زړونو په غوړونو واوري چې ترڅو به دلته وحشتونه اوظلمونه کوئ دخدای په زمکه به دفساد راج چلوئ ترڅو به دانصاف رڼاوي وژنئ او دظلم اوبربریت تیارې به خوروئ؟ افغانستان کې به خپل داسي بد حشر ووینئ چې ټول لیدلي خوبونه به مو دروغ شي! ښه داده چې دافغانانو دغلامولو له ارادې کینئ!!

پوښتنه :ـ په داسې حال کې چې موږ ته په تاریخي لحاظ له انګریزانو سره د کندمک اوله روسانو سره دکارمل تړونونه یاد دي، نن څرنګ په افغانستان کې له تجربو سره سره بیا هم یو شمیر افراد دې ته تیار شول چې دغه راز تړون ومني او سر ورته ټیټ کړي؟ دوي ولي له تاریخي مواخذې ویره نه لري؟

ځواب :له شک پرته تاریخ دا هرڅه په زیر،اوزور سره کلک ثاري ! هغه خلک به ونه ښي چاچې دا نه ښنونکي خیانت وکړ ، راتلونکي نسلونه به هغوئ دشاشجاع ،ترکي ،امین ،ببرک نجیب اوکرزي سره یوځای دافغانستان دخاوري او ازادۍ دښمنانانو په تو ګه پیژني ، افسوس دغسي خلک له ازاد ضمیر او وجدانه دومره محروم شوي چې اسلامیت او افغانیت دواړه یې په ډالرو و پلورل !

څرګنده ده هغوئ به ځانونه دملت له محاسبې خلاص نکړای شي او هم به دتاریخ له محاکمې سرلوړي و نه وځي ؟ هغه ورځ به ضرور راځي چې د ملت دسرنوشت پلورونکو سره ملت حساب او کتاب ته کیني ، څنګه چې دایران رضا شاه او دهغه پلویان چې دخپل هېواد په مقابل کې یې دامریکا ګټو ته ترجیح ورکوله آن تردې چې خپل دفاع وزارت ته یې حکم کړی و، که هر کله زه په هېواد کې نه وم ، کوم بهرنې هېواد ته په سفر لاړوم ، راسره رابطه ناشونې وه تاسو دامریکا له پنټاګانه مخامخ هدایت غواړئ دهغوئ دهدایت سره سم خپل اجرآت پرمخ وړئ ! خو کله چې له هغه سره دایران دملت محاسبې وخت راغی ، له هېواد په تیښته الوتکه کې ووت غوښته یې امریکا ته پناه یوسي، خو امریکا په ډېره سپین سترګي ورته له پناه ورکولو انکار وکړ، تردې چې دنړۍ هیڅ هېواد یې الوتکې ته پخپله خاوره کې دناستې اجازه نه کوله داورځ په کرزي او پـه اېدیوالانو یې هم راتلونکې ده ، دایران دشاه په څېر به که خدای کول دی اوملګري یې په یوه هېواد کې هم دپښې ایښودو ځای نلري او ملت به ورسره د اني اني حساب کوي.

پوښتنه :ـ هغه په اصطلاح مشورتي جرګه چې د داسې تړونونو سره د موافقې په هیله راغوښتل شوې وه، څومره په ریښتیا هم له افغاني دود سره سمه جرګه ورته ویلای شو؟

ځواب: جرګه دامریکایانو په نوښت بلل شوي وه افغاني جرګه نه وه ،یوه تحمیلي اوپردۍ پالـه جرګه وه ، زیاتره ورته مجهوالهویه خلک بلل شوي وو، بې له شکه مونږ پخپل تاریخ کې دجرګو له عظمته ډک تاریخ لرو، چې هېواد ته یې ویاړنې او افتخارات بښلي، نه داچې هېواد اوخلکو تـه یې پیغورونه پریښودي ، دکابل اوسنۍ جرګې هېواد ته دافتخاراتو په ځای پیغورونه پریښودل ، دافغانستان دتاریخ ، دین او عنعناتو د سپکاوی ارتکاب یې وکړ، نو څنګه کولی شو چې داشغال سیوری لاندې اشغال تـه پایښت ښښونکې جرګـه دتاریخي اوملي جرګو تسلسل وګڼو ، داسې جرګې نه وړاندې افغان ولس داعتبار او اعتماد وړ ګڼلي نه یې په راتلونکې کې بولي، داسې مردودې جرګې خو د روسانو په نوښت هم هغوئ سره دتعاهدونو په موخه کارمل اونجیب جوړې کړې وې ، لیکن افغان مجاهد ولس هغه محکومې کړې او غندلې یې دې دهغوئ پریکړې یې محکومانه ګڼلې ، دمشورتې لویې جرګې، مشورې اوهوکړې هم دیو ي ازادۍ او خپلواکۍ جرګې هوکړې اوپرېکړې نه بلکې دیوې محکومۍ او غلامۍ جرګې هوکړې اوپریکړې دي چې افغان ولس ته به داعتبار وړ ونه ګرځي.

پوښتنه :ـ په داسې حال کې چې ویل کیږي په جرګه کې کاملا سانسور حاکم وو، اکثریت غړي یې دولتي کسان، او سیمیز زور واکان وو،له داسې جرګې نه څه طمعه کیدلای شوای؟

ځواب :دجرګې وړاندې او وروسته سل په سلو کې د همدې پریکړې باور اوتوقع وه ،؟ ځکه جرګه وال تنها دامریکا معاش خواره وو بل څوک نه وو ، له هغوئ نه دکومې بلې پریکړې توقع نه وه ،امریکایانو دمیډیا له لارې هم دومره پریمانه تبلیغات ورته وکړي وو چې هر افغان دجرګې دپریکړې جهت او استقامت پیژانده له دې وجې دجرګې لخوا دسند دمتن تصویب کومه نوې خبره نده .

پوښتنه :ـ له امریکا سره نظامي تړون درلودل زموږ هیواد ته په اوږده زمانه کې، په معنوي، اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او په ټوله کې په اسلامي لحاظ څومره سم او څومره زیانمن دي؟

مونږ دیوه مسلمان ملت په حیث له یوه داسي محارب کافر هېواد اوځواک سره داسلامي شریعت حکمونو او لارښوونو ته په پام دهرډول دوستۍ اوموالات حق نلرو ، چون امریکا هم هغه کافر هېواد دی چې محارب دی، دمسلمانانو افغانانو سره په جنګ لګیاده ، عام کافر ندی، په دې لړ کې که دامت دعلماوو ځېړنو او تصریحاتو ته لاړشو ، له مخې یې ددغه ډول تړون لاسلیکول ،مثل قطعاً حرام اوناروا کار دی ، ددې لپاره چې ستا پوښتنه بامعنا پوښتنه ده غواړم په دې اړه لږ تفصیل درکړم

دیوه مسلمان او کافرپه ژوند کې دځمکې اواسمان توپیردی ، مسلمان که فرددی او که حکومت دهغه دژوند اساسي غرض دالله (ﷻ) په بنده ګۍ اواطاعت کې ژوند تېرول دي ،ددې برعکس دیوه کافر دژوندغرض یقیناًدمسلمان دژوند له غرض جلا او ور سره توپیر لري ،له دې وجې هغه څوک چې واقعي مسلمان وي ،هیڅکله دیوه کافر سره قلبي محبت اودوستي نه غواړي ، عظیم الشان قرآن کې الله (ﷻ) فرمایي:

لایتخذ المؤمنون الکافرین أولیاء من دون المؤمنین ومن یفعل ذلک فلیس من الله فی شئ(آل عمران : ۲۸)

مومنانو دمسلمانانو په پرېښودو کافران ځانوسره مه ملګري کوئ،څوک چې داسي کوي ، الله سره دهغه هیڅ تعلق نشته.

دکافرانو سره داړیکو په اړه ګڼ ایتونه راغلي خو دلته په دې یوه اکتفاکوو، علماوو په دې موضوع جامع بحثونه لیکلي هغوته په پام په لنډډول وایم :

دعظیم الشان قرآن په ګڼو ایتونوکې دا مضمون مجمل اومفصل راغلی ، په ټولو کې مسلمانان له کافرانو سره د"موالات" دوستۍ،اومحبت نه په کلکه منع شوي ، په دې لړ کې دقران په حقیقي لارښوونو دغور وروسته علماوو لاندې درجې ښودلي چې کومه درجه رواده کومه نده روا؟چې کومه ناروا ده ولې اوپه کومو وجوهاتو سره ؟

ددوه اشخاصویا دوه ډلو ترمنځ داړیکو بېلا بېلي درجې څه دي ؟

• لومړۍ درجه دقلبي موالات یا دزړه دمحبت اومودت ده :، دایواځې دمؤمنانو پوري خاص ده ، له مؤمن پرته دغیرمؤمن سره دغه ډول تعلق په هیڅ صورت اوقطعاً جایزندی

• دویمه درجه دمواسات ده : معنی یې ده ، همدردي ،خیرخواهي ، اونفع رسول داد دارالحرب دکفارو پرته له نورو ټولو کافرانو سره جائزده، په ممتحنه سورة کې ددې تفصیل بیان شوی دی: لاینهاکم الله عن الذین لم یقاتلو کم فی الدین ولم یخرجوکم من دیارکم أن تبروهم وتقسطوا الیهم (۶۰۸) یعنی" الله (ﷻ) تاسي نه منع کوي دهغو سره چې تاسي سره په دین کې جنګیګې نه ؛اوایستلي نه یئ تاسي له خپلو کورونه ،چې تاسي دهغوئ سره احسان اوانصاف وکړئ

• درییمه درجه دمدارات ده : ددې معنی ده ظاهري" خوش خلقی " اودو ستانه برخوردکول ، داهم دټولو کافرانو سره کول جائزدي ، خوچې تري هدف هغوئ ته دیني ګټه رسول نه وي ، یاداچې هغه میلمه وي ، یا یې له شرنه دځان ساتلو په غرض څوک وکړي ، داسي کول جائزدي ، سورة ال عمران ددې ایت "إلأن تتقوا منهم تقة" نه هم دغه دمدارات درجه مرادده ، یعنی دکافرانو سره مولات روانده ، خو په داسي حالت کې چې کله ته ځان دهغوئ دشرنه خلاصوي بیا خیردی

• څلورمه درجه دمعاملاتو ده : چې دهغوئ سره تجارت ، یا اجرت ، یا ملازمت ، یا دصنعت اوحرفت معاملات کول ، داهم دټولو کافرانو سره کول روادي ، خو

پرته دهغه حالت نه چې يکې مسلمانانو تـه زيـان رسي ، درسول الله (٢) راشدينو خلفاوو ، صحابه وو تعامل په دي شاهد دی ، دامت فقهاوو د دارلحرب پـه کـافرانو بانـدي دوسلو پلورل ممنوع کړي ، باقي نور و سره يې دتجارت کولو اجازه ورکړي ، هغوئ دځان سره ملازم کول ياخپلـه دهغوئ په پابريکو کې اوادارو کې کار کول روادي

ددي پورته تفصيل راوړونه معلومه شوه چې قلبي دوستي اودزړه محبت دهـيڅ کافرسـره پـه هـيڅ حـال کـې هـم جائزنـدی ،لـه حربـي کـافرانو پرتـه دنـورو سـره احسـان اوهمدردي کوم باک نلري ، هم ظاهري مـدارات پـروانلـري ، خو دهغو کافرانو سره چې محارب وي دمسلمانانو سـره په جنګ کې ښکېل وي دغه ټول کارونـه حـرام او نـاروا دي نن ورځ امريکا علناً دمسلمانانو په وړاندې محارب فريق دی، په هيڅ صورت ورسره دمسلمانانو لپاره ددغـه ډول تړونونه روا اوجايز نـدي. هـم دکـافر سـره داسي دوسـتي اويارانـه چـې دمسـلمان اوکـافر تـرمنځ تـوپير پاتـه نشي حرامه ده بايد دهېواد علماء پـه دې برخـه کې پورتـه شي مسلمانان داسلامي مقرراتو څخه اګاه کړي.

پوښتنه :ـ که بالفرض موافقه وشي له هغه وروسته افغانان بايد کومه لاره اختيار کړي ، په دې اړه دملت افراد او غـړي چې له داسي کړنو سره مخالف دي څه مسئوليت لري؟

ځواب :ماوړاندې هم اشاره وکړه چې افغان ولس تـه يـوه لارپاتـه ده اوبـس هغـه جهـاد دی ، بايـد ټـول ولـس ددې حرام تړون پرضد پورته شي ، پاڅون وکـړي ترهغې پـه کرار نشي څو امريکايان تيښتي ته اړشوي نـه وي ، پـه دې اړه ګومان نه کوم چې دابهام ځای پاته وي ټول خلک پوهېږي ديني علماء بايـد دمسلمانانو پـه بيـدارولو کـې دېخوا پـه نسبت خپلـه پاملرنـه زياتـه کـړي اوټـول ولـس وهڅو ي چې دمجاهدينو او مقاومت له ليکو سره ملګرتيا وکړي

پوښـتنه : ــ څرنګـه چـې نـن ، نـن د بدخشـان پـه يمګـان ولسوالۍ کې يو پخواني جهادي قومندان محمدعاشور لـه خپلو ګڼو مسلحو کسانو سره په دې وجـه د اسلامي امـارت ليکوته راغلل چې ولې د کابل اداري له امريکا سره دغـه راز تړون وکړ ، دې اقدام ته په کتـو د کـرزي پـه اداره کې هغـه افـراد چـې لا تـراوسـه پـه تشـو خبـرو تيروتـي وو اوس بـه څرنګ دريځ غوره کوي او اسلامي امارت يې بايد پـه اړه څرنګ موقف خپل کړي؟

ځـواب :هـرو مروبايـد هغـوئ دا حقيقـت درک کـړي چـې نـور دکابـل امريکـايي رژيـم سـره ملګرتيـا دسـړي اسلاميت اوافغانيت تـر سوال لانـدې راولـي ، چـې هغـه مؤمن اومسلمان هم پاته کيدای شي کنه ؟

بې له شکه افغانستان ديوه صليبي هېواد له لورې په ظلم اوغصب سـره اشـغال شـوی ،اوس دادی دلسـو نـورو کلـو لپـاره دخپـل اشـغال دغځـولو پـه موخـه دافغانسـتان پـه مهمـو اوسـتراتژکو موقعيتونـو کـې لـوې پـوځـې هـډې جوړوي. دلسو کلو وروسته هم کوم تضمين نشته چې خامخا به امريکا لس کاله وروسته افغانستان کـې خپـل پـوځـي حضـور پـای تـه رسـوی او نـور بـه افغانسـتان تـه دامريکـا لـه لـورې کـوم تهديـد متوجـه نـه وي، پـه دې حالاتو کې واقعاً افغانانو تـه زياتـه بيداري او هوښياري پکارده.... پاته (٧٣) مخ

چې الله درسره مل نه وي ....

عبید تنویر

....

دکابل د فرمايشي او امريکايي جرگي گډونوالو او متدصيانوبالاخره له افغان مسلمان ولس او اتل ټاټوبي سره دهغې غداری او خيانت ثبوت وړاندې کړ چې دامريکايانواواسلام دښمنه قوتونوله ډيره وخته هغه پواځيني هيله او ترټولو ستره ارزو وه .

دتعجب ځای خو دادی چې له امريکاسره دتړون په مادو کې په صراحت دغه خبري ځای پرځای شوي چې امريکايان په افغانستان کې اوږد مهالی شتون غواړي ، دافغانستان په حساسو سيمو اوولايتونوکې پوځي اډې غواړي ، دهرډول اوپه هرځای کې دپوځي عملياتودترسره کولو اختياراو صلاحيت به ورسره وي اوامريکايي عسکردهرجرم اوجنايت په صورت کې له ځان سره قضايي مصؤنيت لري؛ خوپه دغو ټکو سربيره هم مجددي او هم يې غلامي جرگي دغه تړون تصويب او په پريکړه ليک يې وليکل چې تړون دافغانانو په گټه او امريکايان بايد دافغانستان داستقلال او حريت درناوي وکړي !!دتړون په متن کې داټکي په وضاحت راغلی چې امريکايي اتباع که هغه پوځي وي اوکه ملکي ، هغوی په دې مکلف ندي چې افغانستان ته دننوتلو او ياوتلو په مهال له افغان لوري او دولت څخه قانوني اجازه وغواړي اويادهغوی مشکوک حرکات تعقيب اوترپلټني لاندي راشي، همدارنگه به دبگرام ، خواجه رواش ، شينډنډ ، کندهار او نورو هوايي ډگرونو کې امريکايان پرته له کوم محدوديت اوتردد څخه دالوتکواعظمي استفاده کوي اوهيڅ حدودبه په پام کې نه ساتي : ولې داستعمار نوکرانو په دغوټولو غيري اسلامي او غيري انساني مادو سترگي پټې کړې او بيايې هم توقع ښکاره کړه چې نوموړی تړون دافغانستان او سيمې په خيراوفلاح ده .

ددغې جرگي دگوډاگيتوب اوامريکايتوب به بل لوی دليل او سند کوم وي چې دجرگي مشر (مجددي) له خپل جهادي ، روحاني ،فروفيسوري اوسپين ږيريتوب له دعوو اوناروسره سره په امريکادافغانستان دخرڅلاو په معامله اوتړون دومره مين او مجذوب دی چې وايي که ژرلاسليک نشي نوآن له افغانستان څخه کډې کولو ته تياردی ، نوچې دمجلس او جرگي دمشرپې دغسې حلقه بگوش اوذليل حالت اوموقف وي د نوروچاروا کو! او برخوالو به څه انداز اوله هغه به څه دغيرت اوايمانداری توقع اوهيله وشي !!؟

که يونيم کس اودجرگي غړي دڅه ويلواو په تړون کې دتعديل غوښتنه درلوده ، سرنوشت به يې خامخادهغې يوې باغروره ميرمنې (بلقيس بشري) په څير وو چې دکرزي دخبرو مهال پورته شوه اوڅوله غيرت ډکې خبري يې وکړې ، خووليدل شول چې خپله کرزي يې په مقابل کې له څومره ليونتوب او ذلالت نه ډک عکس العمل وښوداوبياسمدلاسه هغه ميرمن دجرگي له تالار څخه يې په زوره وويستل شوه.

دغه تاليځتي اجيران بايدپوه شي چې امريکايان په نړۍ کې دبشريت دټولو نورمونو پايمالونکي او دازاديو سلبونکي دي ،هغوی له ۱۹۴۵ميلادي کال راهيسې د۴۰ مستقلو هيوادونو تختي ددغسې پوځي مداخلو او تړونو په وسيله نسکوري کړي دي اودسوونو هيوادونو په ملي اوديني حاکميت او استقلال يې مخامخ پښې ايښې دي دوی څه فکر کوي چې دامريکايانوددومره پراخ صلاحيت اوشتون سربيره به دکابل هررژيم اواداري يې چې منځته راځي دارام اوډاډساه واخلي اوپرې به يې پرېدي چې خپله سياسي ، اقتصادي اوملي تگلاره پرمخ بوځي ؟.

یوځندنی تعدیل چې دجرګې له لوري ترسره شوهغه دادی چې امریکایي عسکروته قضایي مصؤنیت دسرپه سترګومني ! خو دامکان ترحده دې (دامریکایي عسکرو محاکمه دبګرام په اډه کې ترسره شي !!

اول خو امریکایان دغه قیدمني نه ، که یې ومني هم یوافغان چې ځانته په عین حال کې مسلمان هم وایي او دافغان ولس استاځی هم ځان معرفي کوي هغه څنګه تیاریږي چې هم دي یو کافراوپرغلګردیوه مسلمان او افغان په حق کې جرم او جنایت ترسره کړي اوهم دي بیاقضایي مصؤنیت ولري اوداسلامي محکمي په ځای دي په کفري محکمه کې محاکمه او سزاوار وګرځي ؟!

په داسې حال کې چې ډیرداسې موارد شته چې اسلامي قوانین له امریکایي قوانینو سره په جرم او مجرم بللو کې تفاوت لري ، یعني اسلام ورته جرم وایي اومجرم ته پرې سزا ورکوي ، ولې په امریکایي قوانینو کې هغه هیڅکله جرم نه ګڼل کیږي ، لکه هم جنس ګرایي ، قمار، شراب ،سوداوزنااونور ....

دامنیتي تړون ترنامه لاندې دامریکایي عسکرو لپاره دقضایي مصؤنیت منل او په افغانستان کې دامریکایي عسکرو ۹ مهمې پوځي اډې منظورول ، له شک پرته ددې معنا لري چې نور افغانستان هیڅکله دنړۍ په مخ د یو ازاد او مستقل هیوادپه توګه وجود نلري ، بلکې لدې ورسته افغانستان دامریکا دمتحده ایالتونو ۵۳ ایالت شمیرل کیږي اوس پوښتنه داده چې دکابل اجیروجرګوالو ولې په یوغږ،پرته له کوم مهم تعدیل اوتغیرڅخه دومره سترې غداری اوخیانت ته ملاوتړله له امریکاسره یې امنیتي تړون ،وقضایي مصؤنیت اوپریکړه لیک تایداوله کرزي څخه یې په عاجل ډول وغوښتل چې هغه لاسلیک کړي ؟

ځواب دادی چې په دغه جرګه کې ټولې هغه څیرې وې چې ایمان ، وجدان اوافغاني غیرت یې لاله وړاندې دامریکایي ډالروپه بدل اویادامریکاداستخباراتي شبکي په جال کې دنوکری ترلاسه کولوپه قیمت بایللی اوخرڅ کړی ، څکه ټول یادکابل رژیم وزیران ، معینان ، سفیران ، وکیلان ، والیان اویاهغه څوک وو چې همدغو وزیرانو، والیانو او سفیرانوانتخاب اوپه ګوته کړي وو؛ نوددغه ډول بې ضمیره خلکوڅخه دغیرت اوخیر توقع سل په سله کې ناشوني ده .

له بل لوري دوی په دې ټکي پوهیږي چې که یوه ورځ هم امریکایي عسکراو ډالرنه وي دوي په افغانستان کې یوه شپه هم نشي سباکولای ، څکه دوی دومره جرمونه او غداری دافغانانو او مجاهدتاټوبي په حق کې سرته رسولي چې که أسلامي نظام اوحقپالونکي عدالت قایم شي هغوی به ارومرو دخپلو کرغیړنو اعمالو سزا ویني اوپه أشدمجازات به محکومیږي !

همدغه وجه ده چې دجرګې برخوالو او متدصیانوپه یوغږ اعلان وکړ چې که هرڅومره ژردغه تړون لاسلیک شي ددوی لپاره حیاتي ارزښت لري اودمزواوچړچو ورځي اوشپې یې اوږدوي ، کنه خپله دمجددي کوکاري اوفریادخوهرچااوریده چې که تړون ژر لاسلیک نشي (بیامجبوردی کډه اوبستره نورله افغانستان څخه ټوله کړي او وتښتي) !!!

خودغه تالیڅتي بایدپوه وي چې دغه خاوره اوولس به مقتدررب جل جلاله ساتي ، دهغوددعزت ، ابرو ، دین او حرمت ساتندوی به هماغه ذات وي ، دوی که دخپلو ځانونو او شیطاني خواهشاتو دخوندیتوب لپاره دغه مسلمان ټاټوبی په امریکایانوپلوره اوقباله یې ورکړه اوټوله تکیه اوبروسه یې په امریکااوداوباماپه یوشیطاني لیک اوډاډوکړه ؛ ولې الله تعالی ډیرغیرتي ذات اولوی قدرت دی ، هغه به دهمدغواتلومجاهدوطالبانواو فدایانوپه زریعه ددې ننګیالي ولس اوغیرتمن هیواد دفاع اوپالنه کوي ، که ۲سوه تړونونه هم له امریکایانوسره تصویب اولاسلیک کړل شي داځای یادوساتی چې هغه به هیڅ ارزښت ،وپایښت ونلري ، لکه چې رحمان بابا ډیرښه فرمایلي

جې الله درسره مل نه وي رحمانه

که لښکري درسره وي یکتنهایي

نوې ډرامه جوړوي

"الهام"

داقاتلان بیادمقتول کورکي جرګه جوړوي
که داسلام وختمېدوته بهانه جوړوي

خبربه نه یاست وطنوالولدې نوې پېښې
څوګوډاګیان واشغالګروته باغچه جوړوي

شرم ُحیادسخت دریځویودرونددپېتي بولي
ډیمکراسي ده له هرکاره ډرامه جوړوي

داسلامي قانون پرضدګمراه ته ستوری وايي
کفاردهرمؤمن په نیک عمل تانه جوړوي

دغلوجرګه ده جوړوغوبل دی هریومنډي وهي
نوی پتلون اخلي ویښته دسرچپه جوړوي

پرې دسروسوداګرډیرډیرمصرفونه کوي
بیاپه زړولوبغاړو نوی ډرامه جوړوي

شیطان پلوي شاعران بیاسندرغاړې پالي
بیافاسقانوته دفسق لوبه توبره جوړوي

الهام قلم په لاس کي ګرزي قاغذونوپسي
نوي بیتونه وغازیانوته تحفه جوړوي

د سړیو سرلوړي

سیداحسان الله "الهام"

څه ویرجن سوي آهونه موله زړوڅخه رابېل شول
څه بشاغلي پاک روحونه له سینوڅخه رابېل شول

پس له مرګه به ځلیږي لکه ستوري په آسمان کي
په ژوندون کي چي دکفرله تیاروڅخه رابېل شول

څه نفسونو دغفلت له توپدولوامان ومونند
څه بیاتورشول دایمان له سپینېدوڅخه رابېل شول

هغه وخت موړنامرادشوواوبختونه موکوته شول
چي مشران مودمکې له قسموڅخه رابېل شول

داموهم دغیرتي صف دسړیوسرلوړي ده
چي ناولي غلامان یې له صفوڅخه رابېل شول

دادپاکي میني کورموبیاغاصب نیولی نه شي
چي په ننګ یې قدمونه له کوروڅخه رابېل شول

دیرغل دسپلې زیان ته به حساب چاکړی نه وي
چي موځوغوټې ګلان له غوړېدوڅخه رابېل شول

سم په بریره لوی شاعروي په غزل کي داسي وايي
دمستۍ مست آوازونه له ډولوڅخه رابېل شول

الهي ستر قانون ستایه په شعرونوکي الهامه
که دي ځیني ناپوه وروڼه له جرګوڅخه رابېل شول

ګناه مې څه ده

درويش

بيــا مــي ولــي خرڅــوي ګنــا مــي څــه ده؟
پــه يهــودو مــي پلــوري ګنــا مــي څــه ده؟

زمــا وجــود خومــوهم تــول تــوتي تــوتي کــړ
نــور مــي ولــي ژړوي ګــنا مــي څــه ده؟

زماســـينه خـــو دي پخـــوا وه لا پلـــورلي
تـــن مـــي تـــول بربـــادوي ګنـــا مـــي څـــه ده؟

مـــاخو تـــل وو دغـــيرت غـــړ پورتـــه کـــړي
اوس مـــي ولـــي شـــرموي ګنـــا مـــي څـــه ده؟

ابـــدالي بـــه را خـــبرشي داســـي مـــه کـــړي
خپـــل بچـــي مـــي زوروي ګنـــا مـــي څـــه ده؟

اي درويـــــشه دا فـــــرياد مـــــي ورتـــــه وايـــــه!
داســـي ولـــي نـــن کـــوي ګنـــا مـــي څـــه ده؟

دافغان ولس پيغام جرګه والو ته!

" صابر"

تاسي بـه جـوړه کـړي جرګـه مـونږه منلي نـه ده
د دي سـپين سـترګو فيصـله مـونږه منلـي نـه ده

چـي پـه پيسـو ديـن اوايمـان هيـواد نـاموس خرڅـوي
د دلالانـــو معاملـــه مـونـــږه مـنلـــي نـــه ده

چـي اسـلامي غـرور دسـره کـافر ترپښـو لانـدي وي
داسـي تـاريخ تـوره صـفحه مـونږه منلـي نـه ده

هرڅـه بـه خـرڅ کـړي خـو غيـرت مـو خرڅـولئ نشـي
دالجهـاد دپرېښـودو کيسـه مـونږه منلـي نـه ده

صـابره خلـک يـو درويشـه تـل مـو صـبر کـړي
خـو دي تـړون تـه حوصـيله مـونږه منلـي نـه ده

راته دوران ګودر چينار وژړل

نظام کندهاري

راتـــه دوران ګـــودر چينـــار وژړل
د څوانيمـــرګي پيغـــلي هـــار وژړل

بمبـــاري پـــي تـــول بـــاغ وو پـــه اور ســـوځلی
پـــه دېـــر افســـوس راتـــه ماليـــار وژړل

زانـــي غمجنـــي وې خفـــه بشـــکاريدې
څـــکه خـــو تولـــو پـــه يـــووار وژړل

داسدي ملېشو له لوري د محاصره شويو مسلمانانو څه حال دی؟



شهيدزوی

په شام کې دحاکمې نصيري فرقې له لورې دکابو څلويښتو کلونو راهيسې پرمسلمانانو دظلمونو او وحشتونو دخورا اوږدې لړۍ د ودرولو په موخه د ۲۰۱۱ کال په مارچ کې ددې هېواد مسلمانانو له لورې ددولت پرضد درامنځته شويو دلاريونو په نتيجه کې دبشارالاسد دفوځ او خلکو ترمنځ پيل شوې جګړه نه يوازې دا چې تر اوسه ونه درېدله بلکې ۳۰ مياشتې پس دا جګړه خورا خطرناک حالت ته ورداخله شويده او حقيقت دادی چې دسورې مسلمان ولس ته يې دومره ستر تاوانونه ورسېدل چې شايد ترپېړيو به جبران نه شي.

لويديځې نړۍ او ګاونډيو هېوادونو لکه ترکې، لبنان ، اردن او عراق ته دکډه شويو مسلمانانو شمېر د درې نيم مليونو نه اوړېدلی دی او دخپلو کورونو نه دبې ځايه شويو شمېر ۷ نيم ميليونو ته رسېږي ، شام چې ټول نفوس يې کابو ۲۳ ميليونه دی پکې د ۲ ميليونو کوچنيانو په شمول ۹ ميليونه او ۳ سوه زره وګړي ياني دهېواد ۴۰ سلنه نفوس دخوراکي موادو اودوګانو مرستو ته سخته اړتيا لري په دوئ کې دنيمو نه زيات تنان هغه دي چې دخپلو کورونو پرېښودو ته اړشوي او دجنګ دساحو نه لرې دښتو او ځنګلونو کې شپې ورځې تېروي.

دجنګ په ساحو کې چې کوم مسلمانان راګېر دي هغوئ ټول دمرګ دستر خطر سره مخامخ دي، دمرګ دا خطر دحکومتي ملېشو اوازادي غوښتونکو جنګيالو ترمنځ په روان جنګ کې دحکومتي ملېشو له لورې ددرندو وسلو دکارولو او بمباريو له اړخه هم دی خو دبمباريو او جنګي وسلو په پرتله خورا ډېره مهلکه او خطرناکه وسله مسلمانانو ته ددوا او خوراکي موادو درسد مخنيوي دی،دبشارالاسد اداره دخپلو مخاليفينو دنفوذ سيمو کې راګېرو مسلمانانو ته دمخاليفينو په نظر ګوري باغيان يې بولي او هغوئ ته ددوا او خوراکي موادو درسد ټولې لارې يې تړلي دي چې له امله يې دا مسلمانان دولګې دډېر لوي بحران سره مخامخ دي.

دملګرو ملتونو داداري له لورې دنويو خپرو شويو اعدادو اوارقامو له مخې دوه نيم ميليونه شاميان دجګړو په سيمو کې راګېر دي چې پرمخ يې د سون او خوراکي موادو او طبي مرستو رسولو ټولې لارې تړل شوي او داسيمې دخورا ډېرې بدې محاصرې لاندې دي.

دجنګ په سيمو کې دمعضميه نومې يوې سيمې نه په راوتلو دبريالی شوې يوې مېرمنې مرکه په رسنيو

کې خپره شوه چې ویل یې ۹ ،، میاشتې دجنګ په سیمه کې محاصره وو چې پدې ۹ میاشتو کې مو ددوړی یوه توته هم چرته په سترګو نه وه لیدلې یوازې دونو په پاڼو او واښو مو خپلې ساګانې ساتلې وې،،

ددمشق په اطرافو کې چې ګڼې سیمې دمخالیفینو ترکنټرول لاندې دي دتېرو ۷ میاشتو راهیسې ورته دولت دغذائی موادو یوه حبه هم نده ورپرېښې ،محاصره شوې تولې سیمې په بد حالت کې دي خو دمشق ته څېرمه دفلسطیني مسلمانانو یرموک نومې کمپ کې محاصره شوي مسلمانان ترټولو زیات اغېزمن شویدي؛ ددې کمپ نه ۱۵۰ زره فلسطیني مهاجرین دهېواد مختلفو سیمو ،لبنان ،اردن عراق ، او څنې اروپائی هېوادونو ته کډه شویدي خو کوم کم نصیبه چې پکې پاتې دي هغوئ ترټولو دبد حالت سره مخامخ دي.

ددولت له لورې په محاصره شویو زیاتره سیمو کې دمرګ نه دځان ژغورلو په موخه دحرامو حیواناتو خوړلو ته اړشویدي چې ځایې علماو ورته دمخمصې پدې حالت کې دجواز فتوی هم ورکړیده ؛ پوهان وایې چې ۱۵۹۰ کې فرانسویان دداسې حالت سره مخامخ شوي وو بیا په راوروسته څه دپاسه ۴ پېړیو کې هیڅکله هم انسانان د ولګې دداسې بدحالت سره نه وو مخامخ شوي لکه دسوریې مسلمانان چې ورسره نن مخامخ دي.

دتشویش وړ خبره داده چې په محاصره شویو سیمو کې دولږې دا حالت رامنځته کول دبشارالاسد دولت دمخالفینو پرضد دوسلې په توګه استعمالوي؛ څو ورځې وړاندې دسورې فوځ ګوتځندنه وکړه چې دمخالفینو ترکنټرول لاندې سیمو کې دي خلک وسلې په څمکې کېږدي ګینې دخوراکې موادو قحط او ولږې ته دې ځانونه تیار کړي.

داسدي ملېشو له لورې محاصره شویو ملیونونو مسلمانانو ته دا ګوت څنډنه دکیمیاوي وسلې په پرتله په ډېرې خطرناکې وسلې دوژلو ډېر سترګوانې و خو عجیبه دا ده چې ټوله نړۍ یې ننداره کوي او څوک پرې غوږ هم نه ګروي.

په کیمیاوي موادو دځو سوه انسانانو پروژل کېدو بشر دوسته امریکا او متحدین یې ډېر غمجن وو او دمظلومو انسانانو غم او ورسره خوا خوږی دې حد ته رارسېدلې وه چې ددې مظلومو انسانانو د انتقام په موخه یې داسد دولت دله منځه وړلو لپاره په سورې حمله کول هم ضروري ګڼل خو اوس چې دکوچنیانو او مېرمنو په شمول په زرونو انسانان دولګې راواستلو په خطرناکې وسلې ووژل شول او سونو زره په همدې وسلې دمرګ دخطر سره مخامخ دي نو اروپائی اتحادي ،ناټو دملګرو ملتونو

اداره ، اسلامي نړۍ ،اسلامي کانفرانس ،عرب لیګ ،امریکا او متحدین یې ټول چپه خوله دي او ددې ستر ظلم دمخنیوي لپاره خو څه کول ډېره لرې خبره پرضد یې دحق اواز هم نه پورته کوي.

دبشارالاسد پرضد چې امریکا دحملې کولو چمتووالی نهائی کړ نو دروسې په منځګریتوب دبشارالاسد اداره دکیمیاوي موادو تلف کولو او امریکا دحملې نه کولو ته تیاره شوه ؛ دروسې دا منځګریتوب او دامریکا دحملې دخطر له منځه تلل په نړۍ کې یو مثبت پرمختګ وګڼل شو خو په نړۍ کې هیچا هم دا خبره راپورته نکړه چې که کیمیاوي مواد دانسانانو لپاره احتمالي خطر دي او له منځه وړل یې ضروري دي ترڅو په راتلونکې کې انسانان ددې احتمالي خطر نه په امن کې شي نو داسد دظالم او جابر دولت په لاس چې دخوارو ، بې ګناه انسانانو کوم قتل عام روان دی او دجګړې په سیمو کې چې داسدي ملېشو له لورې محاصره شویو سونو زرو انسانانو ته کوم ستر خطر متوجې دی ددې خطر دله منځه وړلو او دروان قتل عام ودرول ولې ددې ترون برخه ونه ګرځول شوه؟ کومو خلکو سره چې په کیمیاوي موادو دانسانانو دعامه وژنې غم و دروان قتل عام دودرولو غم ورسره ولې نشته؟ دنړۍ سترقدرتونه چې دخپلو اهدافو دحصول لپاره پرنورو خپله هرډول غوښتنه تحمیلوي

،مذاکرات کوي او دترونونو لپاره وختونه هم وي نو د غربیو انسانانو دبې ګناه وینې ،مظلومو اوښکو ،معصومو آهونو او غمجنو چغو په اړه ولې نړۍ بې تفاوته پاتې ده او هیڅ غم یې نه خوري ؟

دا ځکه چې داسدي نصیري ملېشو په لاس بې کوره شوي ، بې عزته شوي او وژل شوي ټول خلک بل څوک نه بلکې مسلمانان دي ؛ امریکا چې دمسلمانانو دذلیله کولو او وژلو لپاره پلمې جوړوي ، جنګونه ورته رامنځته کوي او دملیاردونو ډالرو دلګولو ترڅنګ دخپلو فوځیانو دقیمتي نفوسو ضیاع ته تیاریږي نو اسدي ملېشې ددوئ دزړونو داټول ارمانونه په مفتو کې پوره کوي امریکا او متحدین به یې خوښ نه وي ؟

نن چې ټول کفر دمسلمانانو پرضد یو شوي دي نو دشام په اړه دروسې او امریکا ترمنځ رامنځته شوي تړون یواځې ددې لپاره و چې روسې دبشارالاسد په لاس دامریکا نه دلازیاتو مسلمانانو دوژلو وخت وغوښت او امریکا نه یواځې دا چې داسد دولت ته یې دلازیاتو مسلمانانو دوژلو موکه ورکړه بلکې دمسلمانانو دقتل عام سند یې هم ورکړ ؛ دمسلمانانو دقتل عام په اړه که داسد اداري دنړیوالو نه کومه

وېره محسوسوله هغه وېره یې ورختمه کړه او قانوني مصئونیت یې هم ورکړ نو ځکه خو دبشر دحقوقو په نوم فعالې نړیوالې اداري چې دانسان دښمنو وحشي ځناورو دحقوقو ساتنه هم خپل مسئولیت ګڼي او پرهمدې وحشي ځناورو دترسره شوي کوچني زیاتي په سر ټوله نړۍ اخلي په شام کې دروان ټول وحشت په اړه چپه خوله دي او ټولو مجرمانه چوپتیا غوره کړېده.

دملګرو ملتونو اداري دمهاجرینو څانګه او یونیسف وایي چې په سوریې کې له خپلو کورونو بې ځایه شویو کوچنیانو کې یواځې دڅلورمې برخې عمرونه د ۱۱ او ۵ ۱ کلونو په منځ کې دي دنورو ټولو یاتې ۷۵ سلنې عمرونه د ۱۱ کلونو نه کم دي.

له خپلو کورونو بې ځایه شوي ټول مهاجرین دنورو سختو تکلیفونو ترڅنګ دخوراکي موادو او دواګانو دډېر قلت سره مخامخ دي خو کوم مهاجرین چې دبشارالاسد ملېشو محاصره کړېدي هغوئ ته خو دخوراکي موادو او دواګانو په ورلو بېښي بندېږدي نو ځکه هغوئ ټول او کوچنیان په ځانګړې توګه دمرګ دډېر لوي خطر سره مخامخ دي ،او دخوا شینۍ ځای دادی چې ددوا او خوراکي مواد دنشتوالې یا شدید قلت له امله تراوسه په زرونو کوچنیان مړه شویدي.

دملګرو ملتونو اداري کې دمهاجرینو څانګې او یونیسف ښه په جهرویلي دي چې دخپلو کورونو نه دبې ځایه شویو ټولو کوچنیانو مرسته کول یې دتوان نه بېرون ده.

په شام کې روان جنګ هغه حالت ته رسېدلی دی چې یوارخ پکې هم کمزورۍ نه ښکاري او په جنګ کې دلازیات شدت امکان دی خو دجنګ له امله داغېزمنو شویو انسانانو په اړه دملګرو ملتونو او نړیوالو غبرګون دېر زیات مایوسه کونکی دی.

که نړیوالو او دملګرو ملتونو اداري په وخت مداخله کړای وی نو دډېرو ورانیو او سونو زرو انسانانو دقتل عام مخه نیول کېدای شوه خو له بده مرغه چې دا اداره دسورې په روانې لانجې کې هم دخپل مسئولیت دادا کولو په اړه پاتې راغله او دخپلو اکۍ او ناپیلتوب دعوی یې یوځل بیا دروغجنې شوې.

نو اوس دیو داسې منځګړي ته اړتیا ده چې دسورې ددولت او ولس ترمنځ منځګړیتوب وکړي ترڅو جاري جنګ تم او ولس دروان ظلم نه نجات ومومي.

امریکایي لیلام

حبیب مجاهد

لیلام دی لیلام... ټن په دوه سوه ډالره... دټانګونو پرزې... دچورلکو ټوټې... زاړه پتلونان او دریشي... شلیدلي بوټان او نیمه سوځلي چاټې... مات شوي ټوپکونه... دموټرو او ټانګونو ماشینونه او سپیرپارټ... جنراتورونه، ټانبوګان، لرګیني کوټنۍ، پوځي چپرکټونه او ویلچیرونه، او نور رنګارنګ امریکایي پوځي اموال... که پیسې درسره وي صرفه مه پرې کوئ. .. امریکیي پوځي جالونه واخلئ او خپلو چرګانو ته ترې ښایسته مرغانچې جوړې کړئ... هرڅه داوسپنې په بیه دي...هلئ واخلئ اصلي امریکایي اوسپنه ده... لیلام شو په تاوان شو... ټن په دوه سوه ډالره...

دا کومه خیالي افسانه نه ده، بلکې دامریکایي فرعونیت دزوال او لیلام ریښتیني کیسه ده چې له تیرو څو میاشتو راهیسې دافغانستان په جنوبي ښارونه کې پیل شوې ده، دلته دامریکا پوځي څواک کبار شوي وسائل او وسایط کټ مټ داسې لیلامیږي لکه دوه لسیزې وړاندې چې دشوروي دځلویښتم لښکر زراد خانه لیلام شوې وه.

د ۲۰۱۳م کال دنومبر ۲۰ مه ورځ ده، له غزني څخه مې دکندهار پخوا دتګ اراده وه، په غزني ښار کې دکندهار دموټرو اډه چې امریکایي پې آر ټي ته څېرمه پرته ده، له همدې اډې څخه دوه تنه په موټر کې راسره ملګري شول، دوی ویل چې دزابل ولایت دکلات اوسیدونکي یو او دلته دامریکایي کباړ په اخیستو پسې راغلي یو، یو تن یې راته وویل چې ماښام مو دغزني له PRT څخه ۹۰ ټنه سودا وکړه، دوی خوښ ښکاریدل چې ګټه یې کړې، له دوی سره مجلس او دامریکایي لیلام کیسه راته جالبه وایسېده، نوځکه مې په دې اړه مجلس ورسره اوږد شو.

دشکست رابربنډیدونکي شواهد

په تیرو دوولسو کلونو کې سره له دې چې امریکایانو ته دافغانستان په جنګ کې روزانه خورا درانه تلفات اوښتل، خو امریکایي یرغلګرو دخپلې یکه تازې میډیا په توسط هڅه کوله، خپل دشکست او هزیمت شواهد پټ وساتي، ددې لپاره امریکایانو که له یوې خوا پراخ میډیایي سانسور نافذ کړی وو، له بلې خوا یې خپل تخریب شوي وسایط او مخروبه اموال په

ډیر دقت سره دجګړې له میدانه ټولول او دعامو خلکو له نظره یې غایبول.

له امریکایانو سره دافغانانو په لومړني مخامخ جنګ (دشاهیکوټ جنګ) کې دامریکایانو ګڼ شمیر چورلکې او وسایط له منځه لاړل، خو امریکایانو په دې غرنۍ سیمه کې تخریب شوې چورلکې ټولې دشپې په تیاره کې بګرام ته انتقال کړلې، ترڅو یې دلارې په اوږدو کې خلک ونه ویني.

وروسته چې په چریکي جګړو او ځمکنیو ماینونو کې دامریکایي ټانګونو، پوځي موټرو او اکمالاتي کتارونو سوزیدل او له منځه تلل، دورځې کیسه وګرځیده، امریکایانو ته دخپلو تلفاتو د ستر او اخفاء مسئله دیوې مهمې پوځي چارې په توګه رادمخه شوه

.

دغه مهال امریکایانو دبګرام، کندهار، لوګر او شینډنډ له پوځي اډو سره نږدې دخپلو مخروبه وسایطو دښخولو لپاره دژورو کندو په ایستلو پیل وکړ، چې دې چارې دجورج بوش فرعوني غرور لا پوته په پام سره سړې ته دمصردفرعون دقضای حاجت د پټولو ستونزه وریادوله چې دنوموړي دخدایي دعوا یې له چیلنج سره

مخ کړې وه.

په دې مرحله کې چې دامریکایي پرغلګرو تلفات په منځنۍ کچه کې وو، په ګڼ شمیر افغان حفاره چلوونکي او بیلدوزر چلوونکي دامریکایي اډو دننه دژورو کندو په ایستلو بوخت وو، چې امریکایي مخروبه ټانګونه، سوزیدلي کانتینرونه او تخریب شوي اکمالاتي موټر چې دجګړې له سیمو راټولیدل، دلته ترځمکه لاندې ښخیدل او ترخاورو لاندې کیدل.

په دې چارې سره امریکایانو هڅه کوله، خپل دشکست شواهد او دافغان جګړې حقائق ترخاورو لاندې پټ کړي، مګر خلک وایي حقیقت هیڅوک نه شي پټولای، همدا لامل وو چې کرارکرار دامریکایانو دتلفاتو کچه دومره زیاته شو چې نور یې امریکایانو ته دپټولو چاره ناممکنه شوه، نوځکه یې یوازې دخپلو پوځي مخروبه ټانګونو راټولولو او انبارولو ته کار واېو، او په هره اډه کې یې دتخریب شویو ټانګونو دنیمه پاته کالبوتونو خرې او انبارونه جوړ شول.

په دې مرحله کې څرنګه چې دامریکایانو تلفات وروستۍ کچې ته پورته شوي وو، امریکایانو نه شوای کولای خپل ټول تخریب شوي او ماین وهلي ټانګونه دجګړې له میدانه وباسي، نوځکه سوزیدلي اکمالاتي موټر او دداخلي عسکرو تخریب شوي وسایط دجګړې په میدان پاته کیدل، چې وروسته د هرې سیمې دخلکو لخوا داوسپنې په بیه دکباړ په شکل خرڅیدل.

دا مهال چې عامو خلکو دلارو په اوږدو کې داکمالاتي موټرو او داخلي عسکرو دوسایطو هدیرې لیدلې داسې فکر یې کاوو، چې په جګړه کې ډیر زیان داخلي عسکرو ته پیښیږي، خو خبر نه وو چې امریکایانو خپل تخریب شوي ټانګونه له سیمې ایستلي دي، څرنګه چې حقیقت نه شي پټیدلای، بالاخره دادی دامریکایي مخروبه وسائلو او د شکست

دنغدو شواهدو رابښکاره کيدل هم پيل شوي، امريکايان چې له افغانستانه تښتي، دخپلو تخريب شويو ټانګونو، چورلکو او نورو مستهلکو پوځي وسائلو لپاره له دې پرته بله لار نهويني، چې داوسپنې په بيه يې خرڅ کړي.

زما دسفر ملګري چې دامريکايي پوځي وسائلو کباړ اخيستونکي وو، راته ويې ويل چې دامريکايي ليلام زياتره برخه دپوځي ټانګونه پرزې، سوزيدلې ټوټې او ماشينونه دي، دوى وويل دامريکايي وسايلو ليلام په ټولو ولاياتو کې پيل شوى دى، چې په زرګونو محلي خلک په کې اخته دي، هره ورځ په ټنونو وسائل له امريکايي اډو رايستل کيږي او داوسپنې په بيه خرڅيږي، زياتره وسايل په کانتينرونو کې ځاى په ځاى شوي دي او سرپټي خرڅيږي.

زما ازار دې ليونى کړى اشنا!!

څو کاله وړاندې افغان ملي شاعر سميع الله ترون يرغلګرو ته داسې ښيرا کړې وه چې:

زما ازار دې ليونى کړه اشنا

چې په سوکانو باندې ځان وژنې

داسې ښکاري لکه ددې شاعر ښيرا چې قبوله شوې وي، ځکه امريکايان چې باروت يې افغانستان ته ددې هيواد دورانولو او تخريب لپاره راوړي وو، اوس وړاندې خپل پوځي وسايط الوزوي، دامريکايي ليلام يوه جالبه جزئيه داده، چې په دې کې يوازې دجګړې دميدان تخريب شوي ټانګونه نه خرڅيږي، بلکې په زرګونو روغ ټانګونه چې امريکايان يې بيرته له ځانه نه شي وړلاى، هم امريکايان په خپل لاس تخريبوي او بيا يې دکباړ په کانتينرونو کې اچوي.

دروان کال دجون په مياشت کې امريکايي چارواکو وويل چې په دې لړ کې دوى د ۷ مليارډو ډالرو په قيمت روغ ټانګونه او پوځي وسايل په خپل لاس تخريب کړي او دا لړۍ لا هم روانه ده.

د امريکايي کباړ سوداګرو راته وويل چې دوى خپله ليدلي چې روغ جوړ جنراتورونه، بيلابيل ماشينونه او نور وسائل امريکايانو دليزر په واسطه برمه کړي او له کاره غورځولي وي، او بيا يې داوسپنې په بيه ليلام کړي وي، دوى ويل زياتره دا ډول وسائل کارتن بند او يو مخ نوي دي، چې استعمال شوي نه دي، خو امريکايانو ددې لپاره چې څوک يې استعمال نه کړي يوازې خراب کړي او بيا ليلام ته وړاندې کړي دي.

له دې جريان څخه لوستونکي اټکلولاى شي چې يرغلګر په دې جګړه کې له څنګه ذلت او هزيمت سره مخ شوي دي، چې حتى په خپل لاس دخپلو امکاناتو له منځه وړلو ته مجبور دي.

امريکا څومره تاوان کړى

معمولاً لیلام په تاوان خرخولو ته ویل کیږي ، خو دغه تاوان همیشه نسبي وي ، یعني لیلاموونکی هڅه کوي دیو څه گټې په ترلاسه کولو سره دیو مخیز تاوان څخه ځان وژغوري.

خو که دامریکایي لیلام بیې ته وگورو واضحا راته ښکاري چې امریکایانو له مالي اړخه خورا ستر تاوان کړی دی ، دوی خپل پوځي وسایط او وسایل په دومره تخفیف بازار ته وړاندې کوی چې ښایي ستاسو دحیرانی سبب وگرځي.

دبیلگې په توگه د m۱ ابرامز په نامه امریکایي ټانک را اخلو چې دامریکا دزغروال ځواک دملاتیر جوړوي ، دغه ټانک شاوخوا ۱۰ ملیون ډالره قیمت لري او که افغانستان ته درارسولو مصرف یې ورسره حساب شي شاید قیمت یې نور هم لوړ شي.

مگر دغه ټانک چې څه باندې شپیته ټنه وزن لري که او سنی بیې ته یې چې دامریکا لخوا ټن په ۲۰۰ ډالر ټاکل شوي حساب وکړو ، نو دلیلام بیه یې ۱۲ زره ډالر جوړیږي ، لکه وړاندې چې وویل شوي امریکایان نه یوازې خپل تخریب شوي ټانکونه په دې بیه خرڅوي بلکې خپل راوستي روغ ټانکونه یې په همدې بیه بازار ته وړاندې کړي دي ، کله چې د ۱۰ ملیونو شی به ۱۲ زره ورکول کیږي ، نو سړی پوهیږي چې امریکایان له خورا ستر او ملاماتوونکي تاوان سره مخامخ دي.

دغه راز نور ډیر پوځي تخنیکي وسائل چې د وزن یې کم خو قیمت یې خورا زیات دی ، اوس داوسپنې به بیه بازار ته عرضه شوي دي چې دا بهیر که له یوې خوا یرغلگرو ته ورپیښ له مالي زیان څخه پرته پورته کوي ، له بلې خوا په مجموع دامریکایي شکست او ذلت بار حالت ننداره هم د نړیوالو مخې ته ږدي.

ځواني دانې څه شی دی؟

ډاکتر همنوا

ځواني دانې د پوستکي یوه التهابي ناروغي ده چې د پوستکي د داغونو لامل گرځي. دغه داغونه د پوستکي د مړو حجرو او د پوستکي د غوړوالي د راټولیدو په پایله کې منځته راځي چې د پوستکي د سطحې د وړو سوریو او وېښتانو د ریښو د بندېدو لامل گرځي. ډېری دا ډول داغونه پر مخ او د پراوږو لیدل کیږي.

دا ناروغي ساري نده او د ناپاکۍ سره هم تړاو نلري. هورموني بدلونونه په ځانگړې توگه هغه هورمونونه د ناروغی په منځته راتگ کې رول لوبوي چې د بلوغ، میاشتني عادت او امیدوارۍ سره تړاو لري.

ځیني درمل د ناروغی د شدت لامل گرځي لکه د حاملگۍ ضد درمل او ستېرایدونه.

کوم کسان پدې ناروغۍ اخته کیږي؟

ډېری وگړی د ځوانی په دوره کې په ناروغی اخته کیږي. په انجونو کې ځواني دانې تر ډیره د ۱۷-۱۴ کلنی په عمر کې پیدا کیږي حال دا چې په هلکانو کې د ۱۹-۱۲ کلنی. کې لیدل کېږي او کېدای سي چې تر دېرش کلنی دوام وکړي.

درملنه

درملیزه نسخه:لمړی باید هغه یا یونه په Acnix سابون ومینځي او بیا لاندې کریمونه وکاروي لمړی کریم (Benzoyl peroxide) دوه ځله په ورځ کې او بیل Clindamycine کریم دوه ځله په ورځ کې وسره Doxycyline ۱۰۰mg ټابلیت دې دوه وځله په ورځ کې.

لیکوال: داسلامي نړۍ مفکرعالم مولاناسید ابوالحسن علی "ندوي" رح - ژباړه: ابوظهیر

اسلامي هیوادوکې

اسلامي نړۍ کې دجدید یت اومغربیت ملاتړي اوناقدین

لسمه برخه

دکمال اتاتر ک فکري روزنه! اودهغه دذهنیت اومزاج طبعي ځانګړنې:

دې حالاتو ترکیه دتجدد اومغربیت تراماموت ورسوله، داسلامي نړۍ حکومتونو، ترقي خوښو زعماوو ته دتقلید ورنمونه جوړه شوه، پخپله کمال اتاترک داسلامي نړۍ دترقي خوښو ټولنو اودنوي ازادۍ مینوالو هیوادود سیاستوالو اومفکرانو لپاره دیو اتل او لاربښود په توګه څرګند شو، آن تردې چې د خپلواکو اسلامي هیوادو په واکمنو اوسیاسي قیادتونو کې هیڅ رهبر اومشر په نظر نه راځي، چې هغه په دومره سطحي ذهنیت، کمه پوهه او اخلاقي کمزوریتاوو سربیره له ځانه دخلکو زړونه او دماغ داتاترک اومره مسحور اوله خپل شخصیت او کارنامو متاثر کړي وي، دخپلې پیروۍ او تقلید دومره قوي ارزو دې دخلکو د زړونو د ننه ځای کړي وي، څومره په وروستیو کې چې کمال اتاترک ځای وموند .

ددې لویه وجه ددې شهرت اوډنډوري غږول و، چې اتاترک په یوه ډېر نازک وخت کې ترکیه له یوه داسي خطره وژغورله، چې د ژوند اومرګ په پوله ولاړه وه، یو ځواکمن دولت یې جوړ کړ، دلویدیځ حکومتونه اودهغوئ سیاستوال یې دځان په وړاندې سرکوزي کړل، دختیځ مسلمانان چې په دغه زمانه کې دسیاسي ځواک لپاره تیار تږي او دعزت اوازادۍ

موندلو پسې سرګردان اولالهاند وو، په هرچا کې به یې دغه صفات وموندل هغه ورته ګران او قهرمان یې باله او سل ځله یې هغه ته له د رناوي لپاره سرونه ټیټول

کمال اتاترک سره هم داسي لوبه وشوه، په اړه یې دمسلمانانو په زړو کې له مبالغې ډکې ولولې را وتوکیدې.

،دویم دا چې دهغه (اتاترک) اصلاحات داسلامي هیوادو دملت پالو رهبرانو له امیدو سره موافق ثابت شول او دهغوئ داصلي آندونو او جذبو ترجماني پکې وه، دهغوئ په زړو کې دتغیر، بدلون اوله دین څخه دبیزارۍ او ازادۍ کومه لویه ارزو وه، دغربي تهذیب په قالبونو کې د ځانونو ځایولو کومه جذبه په څپو وه، هغه ددغو اصلاحاتو په راوستو وځلیده،له دې پلوه اتاترک دهغوئ لپاره یوه شانداره تجربه او کامیابه نمونه وړاندې کړه.

په هر صورت دهغه دبري چې هرڅه لاملونه وو خو نتیجه دا شوه چې کمال اتاترک ته په اسلامي ختیځ کې هغه مقام په برخه شو کوم چې دیوي اوږدې مودې راهیسې هیڅ خیتځوال رهبرته نه و په نصیب شوی،

دمسلمانو پرګنو په راپارېدلو رجحاناتو او دغربي تهذيب په اړه دختيځوالو په رويه او دريځ دترک انقلاب ژور اغيز پريوتل خامخا ولازمي وو.

هندوستان کې دمغربيت او مشرقيت ترمنځ کشمکش

داسلاميت او مغربيت ترمنځ دکشمکش دويم لوی ډګر هندوستان و، چېرته چې دمغرب او مشرق ترمنځ په مختلفو سياسي او کلتوري برخو کې رامنځته شوي وو، دغه مهال دهندي مسلمانانو په وړاندې يواځې دوه لارې وې، بله کومه دريېمه لاره نه وه پاته

١= اسلامي ژوند غوره کول دايمان او عقيدې له مخې.

٢ غربي ژوند انتخابول دمادي ځواک او ترقۍ له مخې.

هندوستان کې دانګرېزي واک (کوم چې ختيځ کې دلوېديځ استازی او وکيل و) ريښې غځېدلې وې، هغه د ځان سره نوي علوم، نوي ټولنې او دهغو پورې د اړوندو توکيو، مصنوعاتو، افکارو او اندونو قوي لښکرې راوړې وو، هندوستاني مسلمانان په دغه وخت کې زخم خوړلي، مضمحل او شکستو ځپلي وو، دکال ۱۸۵۷ز په هنګامو کې يې عزت او خپلواکۍ دروند ټکان خوړلی و، بل پلو دنوي فاتح له رعب، نويو حالاتو د وحشت، دناکامۍ، خجالت او مختلفو شکوکو، شبهو او تهمتونو سره مخ ول، دهغوئ په وړندې يو داسې ځوک فاتح ولاړ و، چې هغه له ځواک او هنر برخمن و، هغه ځان سره خپل کلتور او تهذيب چې دجدت، نشاط، او تخليقي صلاحيتونو برخمن و راوړی و، په دې سربېره له حساب وتلي نور ستونزمن مسائل هم و، کوم چې په سملاسي توګه په ژور لرليد او په حاکمانه فکر دځرګند دريځ او پاليسۍ غوښتونکي وو.

دارلعلوم ديوبند او ديني قيادت :

په دې ستونزمن چاپېريال پيچلي روحي کيفيت او نازک حالات کې دوه ډوله رهبري او قيادتونه رامنځ ته شول، لومړی ديني قيادت و، دکوم قيادت علمبرداران چې ديني عالمان وو، دويم قيادت دسرسيد احمد خان او دهغه حلقې دجديدپالو کاو.

ترکومه ځايه يې چې د علماوو پورې اړه درلوده، واقعاً دهندوستان علمي او ديني قيادت خپل "رسوخ فی الدين، زهد، تقوی، ايثار، اخلاص، ديني غيرت او حميت" ته په پام د جهاد او مقاومت په رهبري کولو کې د سترو قربانيو په ورکولو دهند اسلامي تاريخ ته بې شمېره وياړونه وبښل، له دې وجې هغوئ داسلامي نړۍ تر ټولو ځواکمن ديني عناصر او قوي شخصيتونه ګڼل پرځای دي، ولې دهغه ظالمانه، وحشيانه روې، سخت ډبرزړيتوب او بې رحمانه چلند له امله کوم چې انګرېز مسلمانانو سره غوره کړی و، دهغه پرضد د ۱۸۵۷ز کال جهاد يې پاڅون تنظيمولو په وجه دانګرېز په اصطلاح د "غدر سر مشران" او راصلي قايدين هم هغوئ (ديني عالمان) وو، هم دا راز دعيسويت د ترويج او دعوت په چارو کې دانګرېز حکومت ليوالتيا او په عامو خلکو کې دغربي تهذيب ناځايه مقبوليت، دمسلمانانو په عقايدو، اخلاقو او ټولنه کې داغيزمن نفوذ نښو ځرګندوالي ديته اړکړل چې دفاعي دريځ غوره کړي، هغوئ په دې فکر و کړ چې دديني ولولو، اسلامي روح، اسلامي ژوند پاته نښې او داسلامي تهذيب مات ګوډ اثار چې لا شته، څنګه خوندي او له فنا کيدو وژغوري؟ داسلامي تهذيب او کلتور دخوندي کولو لپاره څنګه کلاګانې ودانې شي! څو دهغو دننه (کومې چې په اسلامي مدرسو شهرت لري) مبلغان او داعيان پيدا کړي.

ددې ستر اصلاحي او اسلامي تحريک (چې په ۱۲۸۳ هق برابر ۱۸۶۶ پيل شوی) رهبر او مخکښ قايد

ددارلعلوم دیوبند بنسټ ایښودونکی مولانا محمد قاسم نانوتوي (رحمه الله) و.

مولانا سید مناظر احسن ګیلانی دمولانا محمد قاسم صاحب (رحمه الله) په سوانحو کې لیکلي:

د ۱۸۵۷ ز جنګ کې دناکامۍ وروسته مسلسل دنوموړي دماغ دقتال او جهاد لپاره د نویو محاذونو په جوړولو مصروف وو ، ددارلعلوم دیوبند تعلیمي نظام دهمدي عملي کړنلارې ښکارندوی ،مرکزي اوجوهري عنصر و.

مولانا ګیلانـي وړانـدې وايـي: دشـاملي میدان څخه دستنیدو وروسته فکرمند او دملت درد مند ، دملت لـه درده بـي پـروا پاتـه نشـو ، نـه لاس ترزنـې کېناستو ، دنوموړي دماغ پرلپسې داسلام دبقا او دیني علم دساتنې په چرتو نو اوفکرکې مصروف وو اوهم یې زړه دکایناتو له مرکزي قدرت سره نښتی او له هغه نه دغیبي لطیف ظهور (بري) لپاره منتظر و.

څېړنه :

شـاملي دهنـد ، سـهارنپور کـې دمظفـر نګـر ولسوالۍ اړوند دیو کلي نوم دی، دغلو اوخوراکې توکو لـوی بـا زار دی ، هلتـه پـه ۱۸۵۷ زکې د حضرت حاجي امداد الله مهاجر مکي او مولانا محمد قاسم نانوتوي ،دهغه ملګرو اوانګریزانو ترمنځ یولویه جنګړه شوي . په کومه کې چې دمولانا محمد قاسم نانوتوي نیږدې ملګری حافظ ضامن هم شهید شوی اومسـلمانانو پکـې دانګریزانـو پـه لاس شکسـت خوړی ، پـه پـورتني اقتباس کې مولانا ګیلاني هغه واقعې تـه پـه اشـاره لیکلي چې د شـاملي لـه جنـګ وروسـته مولانـا محمـد قاسـم نـانوتوي(رحمه الله) لاس ترزنې کراره ناسته غوره او مصلحت ونه ګڼله ، بلکې نومـوړي د هنـد پـه راتلـونکې کـې داسـلام دبقـا او ددیني علم دساتنې په موخه دبیرته شا تګ کولو پر ځای دوړاندې تګ استقامت غوره کړ اودهغه په لارو چارو یې غور پیل کړ.

دمولانا محمد قاسم نانوتوي (رحمه الله) نومیالي شاګرد اوځای ناستي "مولانا محمود الحسن صاحب دیوبندي" (شیخ الهند رحمه الله) یو ځل دسوانح قاسمي دمصنف (مناظر احسن ګیلاني) په پوښتنه وفرمایل :

ایـا حضـرت الاسـتاذ (مولانـا محمـد قاسـم نانوتوي رحمه الله) دا مدرسه (دارلعلوم دیوبند) ددرس وتدریس ،تعلیم اوتعلم لپاره جوړه کړې ؟ مدرسه څما په مخکې جوړه شوې ، څومره چې زه لـه دې راز خبریم د۱۸۵۷ ز په جنګ کې دشکست وروسته یې دا اداره (دارلعلوم دیوبند) ددې لپاره جوړه کړه ، څو یو داسې مرکز پیدا کړي ، چې هلته خلک وروزي اود۱۸۵۷ز پـه جنـګ کـې دناکـامۍ غـچ لـه انګریزانـو واخلـي (سوانح قاسمي ټوک ۲۲۳-۲۲۴)

دې تحریک او ددې تحریک مشرانو او رهبرانو دهندوستانې مسـلمانانو دننه دیني جذبه، لـه د ین سره محبت ، دشریعت احترام اوپه دې لار کې دقربانۍ ولـولې ، دغربـي تهـذیب پـه مقابـل کـې داسـتقامت وصلابت (چې پـه بـل هـیڅ داسې اسلامي هېواد کې چې هغـه دغربـي تهـذیب او لویـدیځ دواک مخـا مـخ نښه و، پـه نظر نـدی راغلـی) روحیه پیدا کړه !!، لنډه دا چې دیوبند ددغه لوی فکر علمبردار اوپه ټول هندوستان کې دپخوانې اسلامي ثقافت ،اسلامي تهذیب او اسلامي روزنو عظیم الشان مرکز و.

نوربیا

غرب چرا و چگونه نسل جوان ما را به بیراهه میکشاند؟

(عبدالهادی مجاهد)

حقیقت کشمکش بین غرب و اسلام :

کشمکش بین غرب و اسلام کدام افسانه ویا موضوع زادهٔ تخیل نیست ، بلکه یک حقیقت انکار ناپذیر است که درمراحل مختلف تاریخ اسلام به اشکال گوناگون تبلور نموده واثرات ناگواری را بر زندهگی امت اسلام گذاشته است.

کشمکش بین غرب و امت اسلام کشمکش بین اهل دوسرزمین معیّن نیست، بلکه این کشمکش بین دو نظریه وعقیده است که یکی از آنها (حق) متمثل در(دین اسلام) ودیگری هم (باطل) متمثل در(ادیان غیر اسلام) که دررأس آنها (یهودیت و نصرانیت) اند میباشد.

سره ددې چې دنړۍ یوشمېر هېوادو ددغه تړون هرکلی کړی اومثبت پرمختګ یې ګڼلی اوداسرایل لورې یې مخالفت شوی ،کنـاډا ، سعودي عربستان اوخلیجې هېوادو یې هم په اړه خپلې اندیښنې په ډاګه کړې داراز ځیني شنانډي په دې نظر دي:چې دغه تړونبه امریکاته فرصت په لاس ورکړي چې هغه ایران پخپلو لومو کې ښکېل کړي .اوپهراتلونکي کې ورباندې خپلې غوښتنې تحمیلې اومني، دهغوئ په اند بل به دې سره دایران اتومي پلان په بشپړه تو ګه خنثا اوله منځه ویوړل شي او په دې کې دبري وروسته امریکا شاید ګاونډي هېواد پاکستان باندې داخطارونو له لارې فشار ډېر کړي اوهغه هم په ورته تو ګه مجبور کړي چې خپل اتومي پلان محدودولو په اړه دامریکا غوښتنې اومني. که څه هم دپاکستان اټومي پلان منل شوی پلان دی اودغه هېواد په نړیوال تو ګه داټومي ځواک له صلاحیت

لرونکو هېوادو څخه يودی ، بل پاکستان ګومانه کېږي چې دامريکا دغسي فشارونوته په اسانه غاړه کېږدي .ولې پاکستان اوهند دوه قوي سيالان دي، چې ترمنځ څوځلې جنګونه هم شوي ، خامخابه هغه دامريکا دفشارپه صورت کې دهند اټومي صلاحيت ته په ګوته نيونه له ځانه دفاع وکړي چې دپاکستان لپاره اټومي پلان محدودول داسي دي لکه دهند په وړاندې شکست منل .اوداخبره دپاکستان لپاره دمرګ اوژوند سوال دی، چې شايد په اړه به يې هيڅ معامله ونکړي ، البته افغانستان کې دامريکا پوځي شتون څنګه چې دافغانستان په خيرندی، هم داسي افغانستان دګاونډيو هېوادو لپاره هم شايد په خير نشي تمام ، دهغوئ په اند :دايران لخوادغه تړون دايران داستقلال لپاره هم هيڅکله له قوي جټکې کم ندی، که څه هم ايرانيان باورلري چې دوئ خپلو ملي ګټوته په پام دغه هوکړه کړي

دتړون وروسته اوباما وويل : چې په دې تړون سره منځني ختيځ او ټوله سيمه خوندې شوه.

بې له شکه که څه هم ډېری کتونکي په دې باور دي چې په دې سره به ايران له يواځيتوب ووځي .اوله ګاونډيو سره به يې اړيکې پراخ اوهم قوي شي ، په سيمه کې داقتصادي ملګرتيا لپاره نور فرصتونه ورته لاس ورشي خو دا هم يقيني ده چې افغانستان کې دامريکا دنورولسو کلو لپاره پوځي شتون اوله ايران سره دامريکا نزديکت شايد خيله دايران افغانستان ، پاکستان ، اوسعودي عربستان لپاره ښه پال نشي ،بلکې وربانديې منفي اغيزې ولري.

امريکا اونور هېوادونه دپېټومذاکراتو وروسته ايران سره مؤقت جوړجاړي ته رسيدل، دايران داتومي پلان څخه دمحروميت معنالري . بل لورته په راتلونکي دکرزي وروسته داسي برېښي چې د شمال ټلوالې نوبت هم راغلی وي ، څودخپلو ډالروپر مټ هغه دخپلو نورو موخو لپاره وګوماري لنډه داچې که دسيمې اومنطقې ټولو هېوادو دامريکايانو دارادو مخنيوي لپاره يونشول افغانستان کې دامريکا پوځي موجوديت او دايران سره دامريکا نزديکت شايد ښه تمام نشي .

د(۳۹) مخ پاته

ولې امريکا غوړې دلته خپله مفکوره په زوره تحميل کړي، حال داچې افغانان سل په سلو کې ټول داسلام دمبين دين پيروان دي، مسلمانان دي، وورباندې داسلام دبقا لپاره شريعت ځنې مسؤليتونه لازم کړي چې خامخا دهغو سرته رسول فرض دي.

داسلام په حکمونو کې ددفاعي جهاد حکم دومره لوی اهميت لري، چې د دين دضروري عقايدو وروسته بل هيڅ حکم ،هيڅ فرض هيڅ رکن اوهيڅ عبادت هغومره مرتبه نلري. کومه چې دفاعي جهاد لري، په قرآن اوحديث کې ځای په ځای راغلي چې دمسلمانانو ژوند په همدې عمل پورې موقوف دی، ترڅو چې په مسلمانانو کې دجهاد جذبه پاته وه اوپه دې لار کې هر مسلمان خپل ټول ژوند او خپل مال قربانولو ته تيار وي، دنړۍ هيڅ قوم په مسلمانانو غلبه نشي موندلی، هر کله چې دمسلمانانو دننه دغه جذبه مړه شوه،له هم هغې ورځې څخه به دمسلمانانو زوال اوقومي مرګ شروع شي، په دې لړ کې قرآن پاک ديهودو مثال وړاندې کړی چې ترڅو په يهودو کې اعتقاداً اوعملاً دا جذبه ژوندۍ وه، حکومت او عزت دهغوئ په برخه و، کله چې هغوئ په عيشونو او راحتونو مبتلی شول، جهاد يې پرېښود ،له دايمي عزت اوغلبې څخه محروم شول، هم داسې که نن خدای مکړه افغانان دامريکا په وړاندې چوپ اوناست پاته شول،جهاد ته يې شاکړه، دوئ به نورهم ذليل اوخوار شي د عزت، خپلواکۍ،استقلال او ازادۍ پشان دلويو نعمتونو څخه به محروم شي، نن موږ وينو افغانان پخپل هيواد کې څوک خپلې خوښې او ارادې ته نه پرېږدې وربانديې تحميلې پرېکړې او ارادې تپي، خپل واک اوحکومت نلري، دهېواد دټولو کليدي چارو واک دامريکايانو سره دی، دهېواد ټول مهم هويې ډګرونه اوبندرونه دامريکايانو لاس کې دي دافغانستان هوايي فضا او دوتنو کرښې امريکا کنټرولوي ، افغانان ورته محتاج دي، دهغوئ دغلامانو دلاس لاندې دي . بايد ټول ولس ددې شته حالت په درکولو يوقوي عزم اوتصميم ونيسي د خپل ملي وقار او اسلامي ارزښتونو دخونديتوب لپاره دې دامريکايانو په ضد پورته شي ، دجهاد اودهېواد دازادۍ دعلمبردار اسلامي امارت ملتې دې مضبوطې کړي ،خدای مهربان دی دافغان ولس داشته محکومانه حالت به بدل کړي او ورته به په صليبي دښمن لويه فتحه اوغلبه نصيب کړي.

پای

دترکي پارلمان کي حجاب پر کمالیزم بل ملامتونکی گوزار

حسن مومند

دترکي پر کرغېږن سیکوړرزم نظام دگوزارونوپه لړ کې یو بل

گوزار هم رامنځته اوپه ډېر جرأت ۴ وکیلانې په حجاب کې پارلمان ته راننوتې اوپدې توگه یې کابو ۹۰ کلونه وړاندې پدې هېواد کې پرحجاب لگېدلی بندیز ددولت دټوونه په ستري اداري کې په عملي ډول مات کړ

دسیکولرزم معنا چې کله په لادینیت یا بی دینی وشي نو زموږ په اسلامي ټولنې کې ټول هغه افراد چې ځانونه سیکولر گڼي دنارضایت اظهار کوي او وایې چې دا دسیکولرزم معنی نده. دا معنی یې هغه څوک بیانوي چې دسیکولرزم په معنی نه پوهېږي .دسیکولرزم معنی داده چې دولت دخپلو وضع شویو اصولو له مخې په خپلوټولو چارو کې ازاد وي . مذهب په دولتي چارو کې هیڅ دمداخلې حق ونلري او نه هم دولت کوم مذهبي اصل. قانون یا لارښوونې ته جواب ورکونکی یامسئول وي ، همدا راز ددولت دحاکمیت ترلاندې ټول خلک به دعقیدې او فکر په خپلولو اوهم به دعبادتونو او خپلو مذهبي رسوماتو په اړه آزاد وي ، دولت به حق نلري چې دچا په شخصي عبادت او مذهبي رسوماتو کې مداخله وکړي ،،

په اسلامي هېوادونو کې چې څوک دغسې سیکولرزم غواړي نو په لادینیت یې تعبیرول أو بی دیني ویل ورته ځکه سمه خبره ده چې دا ددین په صفت داسلام له منلو څخه انکار او په بل عبارت دا ویل دي چې نه اسلامي نظام شته او نه دژوند په ټولو څانگو کې اسلامي لار ښوونې شته .بس اسلام یو مذهب دی او یواځې دعبادت طریقې ورښایي حال دا چې الله تعالی په خپل کتاب قرآن عظیم الشان کې اسلام دین گڼلی مسلمانانو ته یې ددین په صفت اسلام غوره کړی او ددین په صفت یې قبلول ددوئ مسئولیت گرځولی دی.

سیکولر طبقه چې دسیکولرزم کومه معنی بیانوي سره له دې چې دا دبی دینی مترادف دی خو په نامسلماني نړۍ کې دمېشتو مسلمانانو او داسلامي نړۍ هغو مسلمانو ولسونو ته چې پرې ظالم ، جابراو گمراه دیکتاتوران مسلط دي یا وو دغسې سیکولر نظام هم غنیمت دی ځکه چې لږ ترلږه په عباداتو او خپلو مذهبي رسوماتو کې خو به ازادي ولري خو متأسفانه چې په نړۍ کې د کوموهېوادونو نظامونه سیکولر گڼل کېږي ، حاکمان یې ځانونه سیکولربولي او دسیکولرزم پورته ذکر شوې تشریح کوي هغوئ په عمل کې هیڅکله هم دغسې سیکولرزم ته خپله وفداري نده ثابته کړې، په قول او عمل کې یې ډېر لوی تضاد دی او دډېرو لویو دروغو ښکار دي.

دأ موږ منو چې دنامسلمانو لپاره که اقلیت وي او که اکثریت عملاً داسې سیکولرزم په نا اسلامي اوسلامي نړۍ کې شتون لري او ورنه ښه په خلاص مټ مستفید کېږي خو ددې سیکولرزم نه چې دمسلمانانو دگټې پورته کولو خبره راشي نو دیک بام ودو هواء خبره شي او دسیکولرزم ټول اصول هم تر پښو لاندې شي او دظلم او جبر نه ډکو هغو پرېکړو ته مسلمانان اړایستلی شي چې پکې دسیکولرزم داصولو سره سراسر مخالفت وي .

دلویدیځ په ځینو هېوادونو کې مسلمانانو ته دجومات ډېر اشد ضرورت وي او بیا بیا ددولتونو نه د نویو جوماتونو جوړولو غوښتنې کوي خو دولتونه اول اجازه نه ورکوي او چې په ډېره مشکله اجازه ورکړي نو

پرې دمنارونه لګولو ترڅنګ په لسګونو داسې قیودچې له مخې یې دجومات جوړېدل کابو ناشوني شي ؛ په جوماتونو منارې یواځې ددې لپاره وي چې پرې دنورو ودانیوو نه دجومات امتیاز وشي او خلکو ته معلومه شي چې داعامه وداني نه بلکې دمسلمانانو عبادت خانه ده ،دا بې ساه کانکریټي شیان هیڅ کوم دولت ،ددولت کړنلارې دچاعقیدې اوفکر ته تهدید نه شي جوړېدای خو بیایې هم دمسلمانانو په جوماتونو نه پرېږدي اوپدې پلمه ونړول شوې چې داوچتو منارو په شتون کې دسیکولر لویدیځ افق په اسلام مشرف کېدونکی ښکاري.

په دولتي سطحه دمنارو دړنګولو داقداماتو سره سم کابو په ټولو غربي هېوادونو کې دمسلمانانو پرضد دنفرت او تشدد نوې څپه راپورته شوه ،دلویدیځ په ګڼو هېوادونو کې جوماتونو ته خطرونه متوجې دي ،وربانديې مسلسلې حملې کېږي ،سوځول کېږي ،په دیوالونو یې داسلام او مسلمانانو پسې بدې ردې لیکل کېږي او مسلمانانو ته دروانې تکلیف رسولو په موخه جوماتونو ته دخنزیر غوښې ورغورځول کېږي .

دمنارو ړنګولونه پس دفرانسې په شمول داروپا په ګڼو دسیکولر نظامونو نه برخمنوهېوادونو کې دمسلمانو مېرمنو ستر ،پرده یا سرونه پټول قانوني جرم ګرځول شویدی، کومې مېرمنې چې سرونه پټوي له دندو ګوښه کولای شي ، بازارونو کې یې سپکاوی کېږي او پرې دحملو کولو پېښې هم ورځ تربلې زیاتېږي .

لویدیځه نړۍ دبشري ازادۍ او مساوات ستري ستري دعوې کوي خو په عمل کې هورې مېشتو مسلمانانو ته دحال په ژبه داوایي چې دلته یواځې دغلامۍ په قبلولو کې ازاد یاست ،که دخپل مذهب ،کلتور ،تاریخ ،دژوند کولو دطرز او طریقو په ژوندي ساتلو اصرار کوئ نو لویدیځ به یې باغیان ګڼي او دلته به دژوند تېرولو حق نه لري اګر چې دا یې دپلرونو اونیکونو وطن وي.

نو لنډه دا چې لویدیځه نړۍ خو ځان سیکولر بولي او دسیکولرزم تعریف داسې کوي چې دولت به دخلکو په مذهبي چارو کې مداخله نه کوي ،خو داسلام او مسلمانانو په اړه بیا خبره برعکس ده،دولت دمسلمانانو په ټولو مذهبي چارو کې مداخلې کوي تردې چې مداخله یې دمسلمانو مېرمنو په مذهبي تشخص او دجوماتونو دتعمیر په ساخت او ډیزاین ته رارسېږي .

دانه دحقیقي سیکولرزم سلوک دی او نه هم تحریف شوی عیسویت خپل متبعین دېته هڅوي نو داوېل پرځای دي چې لویدیځوال نه عیسویان دي او نه هم په حقیقي معنو کې سیکولر دي بلکې دوئ ټول نسل پرستان طاقت پرستان او داسلام دښمنان دي او پر اسلامي نړۍ هم دسیکولرزم په نوم جابر او ظالم نظامونه مسلط کول غواړي چې ژوندۍ بېلګه یې ترکیه ،مصر اویو شمېر نور عربي هېوادونه دي .

دړومبي نړیوال جنګ نه پس چې په ۱۹۲۳م کې کمال اتاترک عثماني خلافت ړنګ او دهېواد دنظام په توګه یې سیکولرزم په ترکې مسلط کړ ، دسیکولرزم په نوم مسلط شوي نظام کې چې څرنګه په دولتي چارو کې دمذهبي لار ښوونو بوی هم جرم ګڼل کېدلو نو پکار وه چې ولس دخپلې اسلامي عقیدې لرلو او اسلامي تشخص ساتلو او په شخصي ژوند کې دخپلو دیني لار ښوونو ژوندي ساتلو کې ازاد پرېښودل شوي وای خو داسې ونه شوه،دکمال اتاترک دسیکولرزم ړومبۍ حمله په اسلام او داسلام په شعایرو وه، کمال اتاترک چې دنوې او مترقي ترکې دجوړولو په نوم دترکې تهذیب او ثقافت په څومره بې رحمۍ ترېښنو لاندې کړ هغه دترکې دتاریخ یو ډېر تور باب ګڼل کېږي ،داسلامي شعایرو پرضد داقداماتو لړۍ پر اذان دبندیز لګولو پورې او دمسلمانانو ددیني تشخص دله منځه وړلو په لړ کې خبره دسرو دسرونو نه دپګړیو ، خولیو او دمېرمنو له سرونو نه دټیکرو دلرې کولو ترحده راورسېده .

په ۳۰ او ۴۰ لسیزو کې دترکې دمسلمانو مېرمنو له سرونو جبراً ټیکري لرې کړای شول او هیڅ یوې مېرمنې په کومې دولتي اداري کې دسر پټولو حق نه لرلو .

دکمالیزم مسلط کېدو نه ترننه ړی پیلکن پیپلز پارټي نومي دسیکولرستانو ګوند او دمېرمنو دحقوقو دساتنې په نوم دغرب په ډالرو چلېدونکي این جي اوګانې وایي چې مېرمنو ته ټیکری یا بوکره ورپه سرول دمېرمنو استحصال او ددې نښه ده چې ګوا کې مېرمنې دسړو یانې پلار او ورور او مېړه ملکیت دی ،له حده زیات دجسم پټولو معنی داده

چې مېرمنې هر سړي ته ديو داسې جارح په نظر ګوري چې ورنه دټول ځان پټول ضروري وي،،

دنوموړي سيکولر ګوند او يادو اين جي اوګانو دا شعار ګرځېدلی و چې حجاب دپرمختګ په وړاندې لوی خنډ دی خو چې دکمال اتاترک دنوې ترکې دبنسټ اېښودلو او ددين نه لرې والي دترکې ټولنې ته هره خرابي او بدي ورداخله کړه ، شراب څښل ، سود، قمار، زنا، رشوت ، غبن ، بد امني ، اختلاس، او اداري فساد پکې اوج ته ورسېدلو چې له امله يې ترکيه په هرلحاظ دتنزل ښکار او ددې وړ وګرځېده چې دمر دبيمار اصطلاح ورته وکارول شي .

دترکې باشعوره ولس پدې پوهېدلو چې کماليزم ددې ترڅنګ چې ترکيه يې دخپل اسلامي او ملي تشخص نه بې برخې کړه دهر ډول تنزل سره يې هم مخامخ کړه نوځکه دې ولس په خپلې خوښې او خپلې ارادې اسلامې لار ښوونو ته دبېرته نږدې کولو سفر پيل کړ او سره دډېرو پرتو خنډونو دمنزل پرلور په ډېرې تېزۍ مخ په وړاندې ولاړل .

دترکې مسلمانې مېرمنې پدې حقيقت ښه پوهېدلې چې دبې سترۍ سره بدکارې ملګرې ده ، ځکه چې په قديم جاهلي دور کې دبې سترۍ له امله زنا دټولنې نه جلاکېدونکې برخه وه نو همدا راز نوی جاهليت هم دمېرمنو دبې ستره کولو له لارې ددوئ عصمت او عفت لوټ کړ ،او دحجاب پرېښودلو له امله دمېرمنو په حرمت او عزت کې ډېر زيات کموالی راغلو ، کورنی نظام ړنګ شو ،او مېرمنې دکور دمحفوظو او مصئونو چارديواليو نه په راوتلو دسړو دجنسي خواهشاتو دپوره کېدلو لپاره يو بې قدره او بې اهميته شي وګرځېد.

ځکه چې دلويديځ حق موندونکو او حق پالونکو مېرمنو ددې بدبختيو نه دنجات موندلو په موخه داسلام قبلولو لار غوره کړه او هره يوه يې چې مسلمانه شوه بيا يې ټيکری له سره کوز نکړ او ښه په جرأت وايې چې خپل ځان په حجاب کې ډېر مصئون او محفوظ محسوسوي ؛ نوهمدارنګه دترکې مسلمانو مېرمنوداحقيقت درک کړ چې حجاب يې دژونداصل متاع دی ، هغه متاع چې ورنه محروميت له هرڅه محرومې کړي نوځکه يې ترلاسه کولو لپاره هر ډول قربانۍ ورکړې .

هو! فطرت انسان خپل اصل ته ورګرځوي، په ۳۰ او ۴۰ لسيزو کې ترکيه کې تقريباً حجاب بيخي له منځه تللی وخو لږه موده پس يانې په ۶۰ مې لسيزې کې بېرته دترکې په ښارونو کې داسې مېرمنې ترسترګو شوې چې ټيکری به يې په سر وچې له نېکه مرغه فطرت ته دبېرته راستنېدو دا احساس ورځ تربلې قوي شو چې دقوت نښې يې نن په پارلمان کې هم راښکاره شوې .

په ترکې دمسلط شوي سيکولرزم په نتيجه کې درامنځته شويو ټولو بدبختيو او هرډول تنزل نه دنجات په موخه يواځې مېرمنو نه بلکې دترکې دمسلمانانو اکثريت اسلام ته دبيا نږدې کېدلو سفر پيل کړ په ډېر هوښيارتوب مخ په وړاندې ولاړل او هغه وخت راورسېد چې په ترکې کې په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ کې داسلام خوښو بنسټ کېښودل شو ، رفاه ګوند رامنځته شو او دترکې ولس چې دښي او کيڼ اړخو دواړو سيکولر ګوندونو دخيانتونو خودغرضيو ،لوټمار رشوتونو بداخلاقيو ،ظلمونو او اداري فساد نه ډېر سخت تنګ شوي و نو په مختلفو وختونو کې يې داسلام خوښو ګوندونو قدرت ته درسولو هڅې وکړې خو متأسفانه چې هرځل دترکې بې دينه فوځ نه يواځې دا چې اسلام خوښي يې قدرت ته رسېدلو ته نه وو پرېښي بلکې دا مشران يې زندانونو ته استولي او ددار په تختو يې رازړولي دي ،تردې چې دطيب اردګان او عبدالله ګل په لاس جوړ شوی ای پي کی يانې دعدل او پرمختګ ګوند د ۲۰۰۲ په عامو انتخاباتو کې واک ته ورسېدلو او چې تېر ټول حالات يې مخې ته وو نو دفوځ سره دښکرونو اړمولو نه يې ځان وساتلو ؛ داقتصادي مشکلاتو نه دهېوادراويستل ، دقامي خزانې ساتنه ، سم کارول او دولس خدمت يې خپل شعار وګرځاوه او دعمنې کولو لپاره يې په ډېر اخلاص متې راونغښتې چې پکې يې ډېر ستر برياليتوب هم په برخه شو.

دملي خزانې لوټمار او بې ځايه استعمال مکمل مخنيوی وشو ،بدامني چې دهېواد په مرکزي ښارونو او اطرافو کې ډېره زياته شوې وه مخه يې ونيول شوه ،دقماربازۍ ټولې اډې له منځه ولاړې ،دښارونو دپاکۍ ته ډېره توجو وشوه ،دناوړه اقتصادي حالت نه دهېواد دراويستلو لپاره جدي ګامونه پورته شول بې کاره شويو تنانو ته دکار موندنې په هيله سترې ګټورې پروژې پيل شوې چې په نتيجه کې يې دهېواد دکرنسۍ قيمت پورته شو ،پر ترکې دنړيوالو مالياتي ادارو ټول قرضونه

یې ورخلاص کړل تردې چې د آی ،ایم ،ایف زبېښاکګري یهودي اداري دېورونو نه یې هم ترکې ته نجات ورکړ ، ترکیه په خپلو پښو ودرېده او هغه ترکیه چې په اقتصادي لحاظ دنړۍ په وروسته پاتې هېوادونو کې شمېرل کېده دومره اقتصادي وده یې وکړه چې ړومبی یې دنړۍ د ۱۲ سترو اقتصادونو په لست کې نوم شامل شو او اوس دنړۍ د ۱۰ سترو اقتصادونو څخه یو دی.

طیب اردګان دمخالفینو انتقادونو او اعتراضونو ته په جوابونو ورکولو او ورسره بحثونو کې دوخت ضایع کولو نه ځان وساتلو خوددوۀ له لورې د ۲۰۰۸ او بیا د ۲۰۱۱ په عامو انتخاباتو کې دعدل او پرمختګ ګوند دکامیابولو له لارې دترکې ولس پدې ولسي محاکمو کې مخالفینو ته عملي جواب ورکړ .

ددې ترڅنګ چې طیب اردګان داسلامي نړۍ نه دېرې شوي ترکې بیا اسلامي نړۍ ته دنږدې کولو او په هېواد کې دننه داسلام نشأة ثانیه اواسلامي بیدارۍ لپاره کوم کوښښونه وکړل فهرست یې ډېر ستر او ګټې یې زموږ مخې ته دي چې بیانول یې یوه مستقله مقاله غواړي .

په هېواد کې دننه داسلامي نشأة ثانیه دهڅو نتیجه ده چې په کومې ترکې کې چې ۹۰ کلونه وړاندې په حجاب مکمل بندیز لګېدلی و نن په هماغه ترکې کې پارلمان ته ۴ وکیلانې په حجاب کې ورننوتې دا هماغه پارلمان دی چې ۱۴ کاله وړاندې ترې یوه وکیله له دې امله په زور ویستل شوې وه چې ټیکری یې په سر و ؛ دهغه مهال لومړي وزیر بلندایجوت ورته ویلي و چې دا دولت ته دچلنج ورکولو ځای ندی ،دا مېرمن باید خپل حدود وپېژني ،،

دا څلور واړه مېرمنې سږ کال دحج دمقدسې فریضې دادا کولو لپاره حجاز مقدس ته تللې وې چې ددې سپېڅلي سفر نه دراستنېدو نه پس یې حجاب له سرونو ندی کوز کړی ،په دوۀ کې یوې مېرمنې خبریالانو ته وویل :ځه به خپل ټیکری هیڅکله هم له سره کوز نکړم ځکه چې ټیکری په سرول اونور مذهبي رسومات ادا کول زما او زما درب ترمنځ معامله ده ، زه امید لرم چې ټول خلک به زما دپرېکړې احترام وکړي او خپل رب ته زما دعبادت کولو په وړاندې به خنډ نه شي ،،

دترکې لومړي وزیر طیب اردګان پدې هکله وویل : داسې هیڅ کوم قانون نشته چې پارلمان ته په حجاب کې دمېرمنو راتلل منع کوي ،موږ باید دخپلو خویندو دپرېکړ و احترام وکړو ځکه دوۀ هم دپارلمان غړي او ولسي نمایندګانې دي .

بل لور ته طیب اردګان دا اعلان هم کړی چې په پوهنتونونو کې به انجونې او هلکان یو ځای نه اوسېږي زموږ دولت دا هر څه په ډېرې سختۍ سره څاري.

دمخالف حزب ری پبلکن پیپلزپارټۍ مشر دطیب اردګان پدې فرمان دخفګان اظهار کړی او دطیب اردګان نه یې دخپلې وینا وضاحت طلب کړی.

د پارلمان یو سیکولر غړي ویلي دي چې دعدل او پرمختګ دګوند له لورې ترکیه دراسخ العقیده اسلامي هېواد جوړولو کوښښونه په ډېرې ملفوفې طریقې خو په تېزۍ سره روان دی ،،

اوس داسې ښکاري چې ترکیه دیو اسلامي فلاحي دولت دمنزل پرلور په ډېرې تېزۍ پړاو نه رالنډوي او پدې لار کې پراته ټول خنډونه دشګو دبندونو په څېر له منځه ځي .

څه نه داوایم اونه مې ویلي چې طیب اردګان ترکې کې اسلامي انقلاب راوستی اویایې ګینې سیکولر نظام اوقانون کې ډېر ستر بدلونونه رامنځته کړي ؛ موږ ټول پدې پوهېږو چې داساسي قانون له مخې سیکولرزم ته ژمنتیا دهر دولت مسئولیت دی اودتخلف په صورت کې فوځ ددولت پرنګولو اختیار لري ځکه خو طیب اردګان تل سیکولرزم ته ځان ژمن بولي ؛ څه یوا ځې دا وایم چې دترکې دتېرې څه دپاسه یوې لسیزې حالت دوړاندو ۷ کرغېړنو لسیزو په پرتله ډېر ښه دی او دا چې دجبر داساسي قانون اوپر سرېې دسیکولر فوځ دزوړندې توري ترسیوري لاندې چې کوم پرمختګونه وکړل نو دا ډېر څه دي .

...څو ۵۷ قیادتونه سالم نه وي...

فرهاد اتل

حقیقت دی چې دکایناتو خالق په مسلمانانو بې شمېره مهرباني کړي ،له اندونیزیا نیولې تر مراکش خواره غځېدلي ۵۷ اسلامي هېوادونه نه یواځي له مادي ،بشري اوپریمانه وسایلو برخمن دي ، بلکې دنړیوالې سوداګرۍ تر ټولو مهمې سمندري لارې هم په اسلامي هېوادو تېرېدې .

افسوس په دغو ۵۷ اسلامي هېوادو کې یو هم دکفرې ښکېلاک له منګلو ازاداو خپلواک ندی ، اوټول استعمار دخپلې غلامۍ په لومو کې تړلي دي.

دا وجه ده، چې نن سبا هر ځای کې مسلمانان دګڼو ستونزو او مشکلاتو سره مخ دي ، ظالمو کفرې قوتونو ظلمونو او ستمونو په مسلمانانو زمکه سورتنورکړې.

هغه مسلمانان چې دنیا کې دکفارو له لخوا دظلمونو اوبرېدو نښه دي ، دنورو هېوادو مسلمانان ځانونه دهغوئ په غم غمجن نه ګڼي، ترې بې پروا دي ، ور سره مرستې او کومکونه خو نه ،دهغوئ دنجات لپاره د دعاوو په غوښتو هم ستړي کېږي. دې چلند

ته پام دښمنان پرته له کوم ډار مسلمانان ځوروي اوخپلې فیصلې ورباندې په زور مني

ددې وجه داده نن سبا دمسلمانانو تعلق دخپل دین سره تش په نا مه پاتې دی ، دا مفکوره چې دژوند لپاره خدای یو نظام را استولی، مغلوبه شوې ، په زیاترو هېوادو کې مسلمانان د وطن ، ژبې او سمت تعصبونو تقسیم کړي، داسلام اومسلمانۍ دعوې باو جود په اسلام عمل نکوي .

که دمسلمانانو اجتماعي قوت ژوندی وای نه به افغانستان صلیبي عسکرو قبضه کړی و ،نه به فلسطین اوکشمیر کې په مسلمانانو ظلمونه کېدل دعراق اوشام مسلمانان به په اورونو کې نه و تړلي .برما کې به مسلمانان دبودایي درندګانو بربریت نه داړل، په مصر ،بنګال اونورو کې به بې دینان مسلمانانو ته عذاب نه ګرځېدل .

ددوسوه کلو راهیسي اسلامي هېوادوکې استعماري قوتونو مونګلې خښې کړي ، اګرکه په ظاهره هغوئ ازاد منل شوي خو په عمل کې ازادنه دي ، استعمار چیانو داسلامي ملکو څخه

داسلامي کلتور نښې باسي په ځای يې ورته خپل پليت کلتور راوړي دی.

له دې بدمرغيو نه دمسلمانانو دنجات لارداده چې ځانونه داستعمار له قبضې را وباسي اودايمان پر قوت خپل پلانونه خپله جوړ کړي.

بل لورته اسلامي حکومتونه دغربيانو قوي لاسو هنو په وجه د اقتصاد په ميدان کې ديته اړيستلي چې ټوله تکيا په غربيانو وکړي.

په ۲۰۱۲م کې دزمکې په کره دميشتو انسانانو شمېر ۷٪۵ مليار د حساب شوی ، په دې کې دمسلمانانو شمېر ۱٪۶۰ مليارد وو ، داد ټولې نړۍ دنفوسو ۲۳ فيصده جوړوي.

داحقيقت پخپل ځای شته ، چې په ټوليز ډول اسلامي هېوادونه دخارجې نړيوالو بانکونو نيږدي ۱۱۱۵ مليار ده پوروړي دي ، سره ددې چې ددې پيسو څو چنده زياتې پيسې داسلامي هېوادو او مسلمانو شتمنو دغربيانو په بانګونو کې ايښې.

دلويديځوالو چالاکۍ ګوره هم دغه پيسې بيرته اسلامي هېوادوته دلوړې کچې سودونو په مقابل کې يې پور ورکړي.

که په تيرو دوه لسيزو کې اسلامي هېوادو خپل مادي وسايل په صحيح تو ګه استعمال کړي وای. په ځانګړي توګه دتعليم ، روغتيا ، تحقيق او پرمختګ شعبو ته يې دنړيوالونو معيارونو سره برابر پيسې ځانګړې کړې وای اوپه ښه شفافيت يې مصرف کړي وای ، هم يې دنوې اعلی ټيکنالوجۍ موندلو اود لاسته راوړو هلې ځلې توندې کړي وای او اسلامي هېوادو پخپل منځ کې ملګرتيا ته وده ور کړي وای، نن ورځ به اسلامي هېوادو دترقۍ شرح فيصد په ټوليزشکل ۶۲۰۰ مليارده نه بلکې ۱۸۰۰۰ مليارد ډالر وه. په دې حالت کې به اسلامي هېوادونه خوشال اوله بهرنيو پورونو خلاص وو، خپلې سياسي ، اقتصادي ، اوبهرنۍ پاليسۍ به يې خپله جوړولې

که دمسلمانانو اجتماعي قوت ژوندی وای نه به افغانستان صليبي عسکرو قبضه کړی و ، نه به فلسطين اوکشمير کې په مسلمانانو ظلمونه کيدل دعراق اوشام مسلمانان به په اورونو کې نه وترل ، برما کې به مسلمانان دبودايي درندګانو بربريت نه داړل، په مصر ،بنګال اونورو کې به يې دينان مسلمانانو ته عذاب نه ګرځيدل .

اوس د اسلامي هېوادو اقتصادي ، سياسي اوبهرنۍ پاليسۍ خارجيان جوړوي، وجه داده چې مسلمانان دبهرنيو هېوادو پوروړي دي ، که هر هېواد دامريکا غوښتنې نه منې اوترې سرغړاوی کړي ، امريکا دهغه هېواد دخراب اقتصادي وضعيت او دبهرنيو پورونو په زور دهغه هېواد داقتصادي بحران سره لاس اوګريوان کوي ، داقتصادي اخطارونو په وجه هغه اړ کوي چې دامريکا غوښتنې ومنې.

دا راز داسلامي هيوادپېر مشران خپلو قدرتونو ته دطول ورکولو لپاره امريکا او غرب ته عرضونه کوي ، له هغوئ کومکونه غواړي ، دا ددې خبرې ثبوت دی چې اسلامي دنيا اکثر هېوادونه پوره ازادي او خپلواکي نلري ، او دامريکا دمفاداتو حفاظت کوي.

امريکا چې دا مهال مسلمانانو سره جنګيګي بيا ډېر اسلامي هېوادونه داقتصادي اوسياسي اخطرانو له ډاره امريکا سره ملګري دي اودا کار قطعاً حرام دی ، بياهم ډېر هېوادونه دمسلمانانو خلاف پکې شريک دي.

مونږ راپورونه اورو چې هر ورځ مسلمانانو دستونزو سره لاس اوګريوان کېږي ، ددښمنانو لخوا وهل کېږي ، ترکومې چې مسلمانانو خپلو هېوادو کې سالم قيادتونه نه وي غوره کړي ترهغه وخته به مسلمانان هم داسې وهل اوټکول د ستونزو اومشکلاتو سره به مخ او دکافرانو دسازشو به خلاص نه وي.

تکرار حوادث تاریخی در افغانستان!

لیکوال :میرعنایت الله آشفته

نگونبختی یک ملت زمانی تکرار می گردد که زمام داران، نخبگان و سیاست مدارانشاز تجارب گذشته چیزی نیا موخته باشند! پس ازهربار مبارزات جانبازانه وخونبار ملت افغانستان؛ به دلایلی اختلافات ذات البینی خانواده های امیرانکشور، والیان، شخصیت های پُر نفوذ مذهبی، سران اقوام، خوانین و ملکان؛ بااخذ پول از خارجیان به امید رسیدن به قدرت؛ اسلاف خود را وابسته خاین، دینفروش، خاک فروش، آب فروش، وطن فروش، اجیر و بیگانه خوانده، حکومت مرکزی رابیشتر از پیش زیر فشار کشور یا کشور های مداخله گر قرار داده اند.

صرف نظر از هدر رفتن خون شهدای گمنام وطن؛ بخش های بزرگ سرزمین ما ازمناطق سرحدی

کشور در اثربی اتفاقی ذعمای کشور و تفاهُمات بین روسیه تزاری وبریتانیا؛ از پیکر خاک ما جبراً جدا ساخته شده است.

بتأریخ ۸\۵\۱۸۷۹ امیر یقوب خان به اردوگاه سر ساموئل براون در « گند مک « حضور یافت، و در بیست و ششم همان ماه معاهدهٔ ننگین گند مک توسط یقوب خان با قابلیت سیاسی و حرفه ای لوئیس کیوناری به امضا رسید. و بخش اول جنگ دومافغان و انگلیس؛ بدین گونه پایان یافت. بنابر شرایط معاهده، یعقوب خان به جدایی قلمروی که از جانب بریتانیه لازمی پنداشته می شد توافق کرد و تعهدنمود در سیاست خارجی مطابق صواب دید دولت بریتانیا رفتار نماید؛در حالیکه از طرف بریتانیا تعهدی دایر بر حمایت امیر در برابر تجاوز خارجی داده شد.مزید برآن ترتیبی گرفته شد تا نمایندهٔ انگلیس با تعداد متناسب ملتزمین درکابل مقیم شوند، و در صورتی که امیر مایل باشد، به عین شکل اجنتی در درباروایسرا بفرستد؛ برای پاسداری از منافع هر دو کشورهر زمان ازجانب دولتبریتانیا لازم شمرده شود، نمایندگان بریتانیایی با محافظان متناسب بایستبرای باز دید از سرحدات افغانستان آزاد باشند. برای اتباع بریتانیایی جهتتجارت صلح آمیز در داخل قلمرو

امیر ممانعت در میان نباشد؛ تاجران (انگلیسی (یا بیست مورد حمایت قرار گیرند، تسهیلات ترانزیت اموال تجارتی فراهم گردد، و راه ها در وضع خوب نگهداری شود؛ و . . . و کمک نقدی برابر مبلغ شش لکروپیه به امیر و جانشینانش پرداخته شود . معاهدهٔ سه جانبه بین شاهشجاع، رنجیت سنگ و نماینده گورنر جنرال انگلستان در هند ۱۸۳۸. که به دلیلاگاهی هموطنان از تأریخ درد ناک کشور از تبصرهٔ اضافی؛ صرف نظر می گردد.

درسپتمبر ۱۸۹۳ امیرعبدالرحمان خان ونماینده هندبرتانوی معاهدهٔ ننگین ونام نهاد دیورند را به امضا رسانید. همچنین با سایر پیمان ها وعهد نامههای ظالمانه و تحمیلی کشور و ملت ما متضرر گردید.

این در حالیست که به هر سه امیر وعدهٔ همکاری، تهیه اسلحه، پرداخت پول، رابطه دوستانه و . . . داده شده بود، اما در نهایت، مخالفین هر سه امیر توسط دوستانشان حمایت گردیدند.

درسپتمبر ۱۸۹۳ امیرعبدالرحمان خان ونماینده هندبرتانوی معاهدهٔ ننگین ونام نهاد دیورند را به امضا رسانید. همچنین با سایر پیمان ها وعهد نامههای ظالمانه و تحمیلی کشور و ملت ما متضرر گردید.

این در حالیست که به هر سه امیر وعدهٔ همکاری، تهیه اسلحه، پرداخت پول، رابطه دوستانه و . . . داده شده بود، اما در نهایت، مخالفین هر سه امیر توسط دوستانشان حمایت گردیدند.

ادامه این وضعیت ناهنجار با تأسف طی چند قرن اخیر به شکلی از اشکال درهرم قدرت سیاسی کشور ما ادامه یافته و در هیچ مرحله " چه قدرت و حفظ آن دردست یک خاندان، یا احزاب خلق و پرچم و احزاب اسلامی یا صد در صد اسلامی، چه تحریک طالبان و چه ۱۲ سال اخیر حکومت غرق در فساد " سیاسیون ما از نتایجبازی های خطرناک گذشته، پند و عبرت لازم نگرفته از همان شیوه نا مطلوب) بی اتفاقی، خود خواهی و نا عاقبت اندیشی) پیروی نموده و بیگانه گان مداخلهگر(که اکثراً ما خود عامل بوده ایم) مورد ملامت و سر زنش قرار داده ایم.

رامسفیلد وزیر دفاع اسبق امریکا در کتاب خاطرات خود مینویسد که ماتوانستیم در بدل پرداخت دو ملیون دالربه آیت الله سیستانی رهبر پُر نفوذمذهبی عراق با صدور حکم تکفیر به نفع ما؛جلو آشوب های بزرگ علیه قوایامریکا را درعراق بگیریم. حال صرف نظر از اینکه آقای کرزی چه منظوری دارد وشما هموطن محترم چه موقفی درقبال پیمان امنیتی با امریکا دارید؟ اما حضرتمجددی می فرماید: اگرعاجل امضاء نشود در همین یکی دو روز من استعفاء دادهبه یک کشور دیگرهجرت نموده واز دولت شکایت مینمایم.

هموطنان اسیر و درد مند، جوانان آگاه، شجاع و آینده سازان کشور، بهعقیده من قبل از هر مورد دیگر؛ یگانه راه بیرون رفت از وضع موجود، با توجهبه نیاز مندی های کشور، رفع اختلافات بین الافغانی، تحمل پذیری همدیگر، ازمنافع عُلیای ملی ما پاسداری نموده و از هر گونه افراط گرایی پرهیز کنیم .در خانه اگر کس است، یک حرف بساست

در امضای پیمان با امریکا چرا باید عجله شود؟

داکتر نبی مصداق

بعضی نویسنده گان سایت افغان جرمن از ابتداء تا امروز در مقاله پشت مقاله طرفداری از پیمان با امریکا را دلیل خوف از همسایه ها و ضرورت رونق و پیشبرد اقتصاد افغانستان دانسته اند. از همه زیاد تر، خدمت به امریکا را آقایان ولی احمد نوری از فرانسه و سید عبد الله کاظم از کلیفورنیا انجام داده اند. من هم مانند هر افغان میهن دوست، بیش از ۳۰ سال زندگی خود را وقف خدمت به وطن و مردم ستمدیدهٔ خویش کرده ام. اما نمیدانم که چرا یک پیمانی را که امریکا حاضر نیست در مقابل حملات همسایه ها از افغانستان دفاع کند و نمی خواهد عساکرش وقتی مرتکب جرمی در افغانستان شوند در محاکمه های ما مانند مجرمین دیگر جواب گو باشند.

به سرعت امضاء نمود؟ حالا که اثری از القاعده به گفته خود شان در افغانستان نیست، چرا برای

ده سال دیگر هم زنها و اولاد های ما را مجبور بسازند که برای شب به کوه ها بروند و یا در خانه های خود اذیت، بندی و کشته شوند؟ من میدانم که حتی آقایان نوری و کاظم خبر دارند که پاکستان هفته چندین بار

کنرها و نورستان را زیر ضربات راکت های خود قرار میدهد. کجاست خصوصاً همین دو نویسندهٔ

"نامدار "سایت افغان جرمن که بگویند اگر امریکا امروز در مقابل تعرض پاکستان خاموش است وفردا که با ایران روابط اش اصلاح شود، شاید در صورت تعرضات ایران به افغانستان بیشتر سکوت اختیار نماید. پس چرا ما باید مشکلات خود را، خود حل نکنیم و از کسی دیگری توقع در این راه داشته باشیم؟ من چندین سفر به جاپان کرده وهم آکیناوا را به چشم باز دیده ام. هیچ امکان ندارد که عساکر امریکا جرایم را که در آنجا مرتکب میشوند در افغانستان هم تکرار نکنند. در آنوقت جواب آقایان نوری و کاظم برای ملت افغانستان چه خواهد بود؟ اگر افغانستان نتوانسته است که در ۱۲ سال گذشته به خاطر قتل هزارها زن و طفل معصوم در مقابل عساکر خارجی عملاً اقدامی نماید، چطور میتواند که با امضای این قرارداد مانع همچو اعمال شنیع و ضد بشری در ده سال آینده گردد؟ به ارتباط رشد اقتصادی افغانستان به کمک امریکا، آیا میتوان اعمار چند سرک برای

مقاصد نظامی و تعمیر چند ولسوالی را در ظرف ۱۲ سال در زمرهٔ رشد اقتصادی محسوب کرد؟ به قرار محاسبه دوست بنده، پروفیسور اشرف غنی، ۴۷ ملیارد دالر پول های بازسازی مملکت به خارج انتقال داده شده است. چه مقدار ازین پول ها در ایجاد فابریکه های تولیدی و یا فارم های زراعتی و یا بالای کدام منبع عایداتی دیگری مصرف شده تا برای یک عده از هم وطنان ما کار و منبع عایداتی خلق کرده باشد؟ چه ضمانتی موجود است که در دوران ده سال آینده، امریکا این پول گزاف را دوباره به افغانستان برگرداند و در سکتور های تولیدی از آن به نفع مردم ما استفاده گردد؟ نمی خواهم سخن به درازا بکشد. میدانم که مخالفین مسلح میتوانند به مجادله خود علیه قوای بیگانه ادامه بدهند، باوجود اینکه بناغلی کاظم همچو مجادله را دشمنی و خیانت تلقی می نماید. افغانستان خانه شریک کلیه باشندگان این سرزمین است. من عقیده دارم که در صورت عدم موجودیت قوای بیگانه و برحسب پیشنهادات صلح که افغانهای وطن دوست طرح کرده اند، هم میهنان ما حاضر خواهند شد که مخالفت های خود را به اساس مساوات اسلامی و وطن دوستی پشت سر گذاشته و با مخالفین خود موضوعات را از طریق صلح آمیز حل و فصل نمایند. آقای نوری که در مقابل مقاله های شان از طرف مجددی دعوت شده بودند با الفاظ نهایت احترامانه از او یادآور شده اما جرئت نکردند متذکر شوند که جناب حضرت صاحب در محضر افغانستان و همه دنیا دروغ گفتند که اگر رئیس جمهور کرزی پیمان را امضاء نکند به طور احتجاج وطن را ترک می نماید!! در حالیکه "جناب" ایشان مریض بوده و از چند ماه بدین سو برای تداوی خود قصد همچو سفر را داشته است. من در قسمت اتکاء به خداوند و توانی به خود افغانها در سایر جا ها هم نوشته ام و بطور خاص تکرار میکنم که ما میتوانیم از هر نقطه نظر به خود متکی شویم، خصوصاً بعد از این سالهای مهاجرت که تا چه اندازه به قدر وطن و امکانات آن پی برده ایم. ما می توانیم آب های خروشان خود را به همسایه بفروشیم، ما می توانیم از گمرکات خود سالانه میلیارد ها دالر عاید داشته باشیم، ما میتوانیم از سرک های خود که آسیای مرکزی را با جنوب آسیا و شرق میانه وصل می کند، عاید قابل ملاحظه ای داشته باشیم، ما می توانیم از طریق تیلیفون ومخابرات بودجه مملکت را تکمیل کنیم و ما می توانیم تریلیون دالر عاید از معادن، تیل و گاز خود بدست آوریم. برای استفاده از این منابع ما به اشخاص فنی و ماهر ضرورت داریم. این را باید بدانیم که ما امروز بیش از ۲۵۰ هزار افغان تحصیل یافته به درجه دوکتورا و ماستر که با تمام علوم دنیای غرب آشنا هستند در خارج و داخل افغانستان عزیز داریم. من بعضی این جوان ها را درس داده ام و اگر ما بتوانیم ده هزار آنها را به افغانستان بیاوریم، تحول شگرفی در افغانستان پدید خواهد آمد. من ضمانت جلب شان را در صورتیکه زمینه کار و فضای امنیت که موجود باشد، میکنم .امروز بدون همسایه های ما، تقریباً تمام دنیا طرفدار آرامی و امنیت در افغانستان اند. ما میتوانیم از حسن نیت کشور ها مختلف مستفید شده و با اکثر ممالک تجارت و روابط حسنه برقرار نمائیم. کشور های دوست در مجالس بین المللی تا حد امکان با ما میباشند. پس ما نه از نگاه پرسونل ورزیده، نه از طرفداری اکثریت بزرگ دنیا ونه هم از مدرک امکانات اقتصادی، بی بهره ایم. پس چرا از خود کفائی خود چشم بپوشیم؟

شهامت دارالافتاء

ډاکټر ذاکر نایک باره کې داسلامي نړۍ دستر علمي مرکز دارلعلوم دیوبند فتوی

ژباړه : سجاد

له هنده په وروستیو کلو کې یوه سړي ځان نړۍ ته دبرېښنایي او چاپي میډیا له لارې داسلامي عالم په توګه ښکاره کړ ، کرار کرار له ختیځه تر لویدیځ ویېژندل شو ، دنړۍ ځوژبو ته یې کتابونه وژباړل شول ، په مختلفو هېوادو کې یې په زیات شمېر مینوال پیداشو ل ، زموږ هېواد ته دپیکه دیمکراسي راتلو وروسته هم ځني لیکوالو پښتو اوفارسي ته دنوموړي کتابونو په ژباړلو لاس پورې کړ، حال داچې ددغه ښاغلي په ویناوو اوخبرو داسلامي نړۍ علماء کلکې نیوکې لري.

ولې هیڅ یو تن ته محض دمطالعې په مټ او په ذهانت اسلامي عالم او محقق نسبت دتأمل وړدی ، څو هغه دوخت لـه جیدو علماوو او استادنو زده کړه او استفاده و نکړي، ترهغې پورې د اسلامي علومو شرایط او اصول کماحقه نشي درک کولی، دغه ښاغلی ډاکټر ذاکر نایک نومیږي ، چې

زیاتره عقاید اومعلومات یې جمهور علماوو دمسلک اوعقایدو سره په تضاد اوټکر کې دي، ددې لپاره چې زموږ دهېواد هغه دوستان چې دعلم او کتاب سره مینه لري ، په دې اړه تیندک ونه خوري دلته دنوموړي ډاکټر صاحب د تیروتنو داګاهي لپاره داسلامي نړۍ دستري جامعې (دارلعلوم دیوبند) د هغه فتوا متن ژباړه نشرته سپارو، کومه چې هغوئ دنوموړي په اړه صادره کړې څو مسلمانان د کومې مغالطې ښکار ونه ګرځي.

دفتوا لمبر ۱۲۲=۴۴۸ دارلعلوم دیوبند

ددارلعلوم دیوبند درنو اومحترمو مفتیانو ! زیدت معالي کم السلام علیکم

څما پوښتنه داده چې ډاکټر ذاکر نایک صاحب څنګ سړی دی ؟ ایا دنوموړي عقاید داهل سنت والجماعت سره موافق دي ؟ په حدیث او دعظیم الشان قرآن په تفسیر کې دنوموړي رایه داعتبار وړده کنه ؟ هم دا راز په فقه کې نوموړي مسلک څه دی ؟ هغه دکوم امام مقلد دی ؟ موږ که دنوموړي خبرو ته غوږ ږدو ایا په هغو عمل کولي شو کنه ؟ مهرباني به مو وي که راته قناعت ښونکي ځواب ولیکئ !

ریاض احمد (اله آباد)

عالیه پرنټرس اترسوئیا(اله آباد) هند

(دډاکټر ذاکر نایک صاحب په اړه زیاتې پوښتنې راځي ، دغه استفتاء هم ددې لړۍ یوه برخه ده ، چې پکې دډاکټر صاحب دعقیدې ، دهغه دفقهي مسلک ، او دقرآن اوحدیث په اړه دهغه دتشریحاتو په اړه د تفصیلي ځواب غوښتنه شوي ، له دې وجې دډاکټر صاحب دځېلو تقریرونو اولیکنو په رڼا کې دغې استفتاء ته ځواب لیکل کېږي)

بسم الله الرحمان الرحیم

حامداً ومصلیاً مسلماً

الجواب وبا الله التوفیق والعصمة

دډاکټر ذاکر نایک په وېناوو کې له صحیح عقیدې انحراف ، دقرآن کریم په تفسیر کې خپله خوښه کارول، له ساینسي څېړنو څخه مرعوبیت. داسلام ضد غربي افکارو سره هم آهنګي، په فقهي مسایلو کې دسلفو صالحینو ، دامت جمهورو علماوو له لارې نه سرغړونې په څېر ګمراه کوونکې خبرې موندل کېږي، هم دا راز هغه دامت مسلمه دمجتهدینو ایمه وو له اتباع نه د ګرځولو ، دیني مدارسو او دیني علماوو په اړه دعامو خلکو بدګومانه کولو په څېر کوښښو کې مصروف دی، لاندې دنوموړي دځینو ګمراه کوونکو خبرو څومثالونه ولولئ :

۱۔عقیده :

عقیده یو ډېر نازک څېز دی، پکې لږ لغزش هم کله دایمان لپاره خطر ګرځیدای شي ، په اړه یې د ډاکټر صاحب خبرې په لاندې ډول دي :

الف = وشنو اوبرهما په زریعه دالله بلل جایزدي

ډاکټر صاحب په یوه وینا کې وایي :

الله تعالي دهندوانو دمعبودانو په نومونو بلل جایزدي، لکه" وشنو" درب په معنی او"برهما" دخالق په معني دی ،ددې شرط سره یوځای چې د"وشنو" باره کې داعقیده ولرې چې دهغه لاسونه څلور دي، او له یره مرغۍ وربانډې ناستې دي (اسلام اور عالمي اخوت ۳۳ مخ از ډاکټر ذاکر نایک)

حال داچې دعربې ژبې پرته په هغو الفاظو سره دالله بلل جایزدي، کوم چې تر الله پورې خاص اومختص دي ، له هغو پرته نور جایزندي ، نو "وشنو "او "برهما" چې دهندوانو شعار دی په هغو دالله (ﷻ) بلل څنګ روا کېدای شي ؟

(ب) دالله کلام کوم دی ؟ ددې معلومولو لپاره له ساینس اوټیکنالوجۍ استفاده ضروري ده.

ډاکټر وایي:

هرانسان په دې پوهېږي چې هغه مقدس کتاب یواځې دالله (ﷻ) کلام دی او که تاسې غواړئ معلومه کړئ چې کوم کتاب واقعي دالله کلام دی نوهغه له وروستۍ ازموینې یعني دنوي ساینس او ټیکنالوجۍ نه تیر کړئ که هغه دنوي ساینس سره برابر و نو پوښه چې هم غه دا دالله تعالی کلام دی.

الجواب علي ثلاثين جوابا علي ان ذاكر الهندی واصحاب فکرة منحرفون ضلالا للشیخ یحي الحجوری

ددې کلام نه دډاکټر صاحب ګمراه کوونکي زړورتیا دکتاب الله په باره کې دهغه دفکري بې لارۍ هم داشان له نوي ساینس څخه دخطر تربریده مرعوب ښکاري ، کوم چې هره ثانیه پس بدلون مومي ، ساینسي څېړنې یې داسماني کتابونو بالخصوص دالهي کلام (قرآن کریم) دتول لپاره معیار ګرځولې، حال دا چې لوی دلیل چې قرآن دالله تعالي کلام دی پخپله دعظیم الشان قرآن اعجاز دی، دکوم په زریعه چې الله تعالي ځای په ځای په قران پاک کې چیلنج ورکړی دی.

(ج) هرڅوک دفتوا ورکولو حق لري

ډاکټر صاحب وایي:

دهرکس لپاره فتوه ورکول جایزدي ، ولې دفتوه معنا ده رایه ورکول (یاده حواله)

دلته ډاکټر صاحب دفتوه ورکولو په څېر اهم کار ؛په کوم کې چې (دعلامه ابن قیم F په اند) مفتي دالهي حکمونو په بیانولو کې دکائناتو درب ترجمان وي ، دهغه په نیابت کې دلاسلیک کولو مسؤلیت ورپه غاړه وي.

لم تصلح مرتبة التبلیغ بالروایة والفتیا الا لمن اتصف بالعلم والصدق واذا کان منصب التوقیع عن الملوک بالمحل الذی لاینکر فضله ولایجهل قدره فکیف بمنصب التوقیع عن رب الارض والسموات فحقیق بمن اقیم في هذا المنصب ان یعد له عدته ویتاهب له اهبته وان یعلم قدر المقام الذی اقیم فیه

په دین کې داري ورکولو څخه په نرم لفظ تعبیر کول یوازې دځان لپاره نه بلکې دهر چا لپاره جواز ورکول دي ، او هغه دعظیم الشان قرآن دا ایت:

فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون یعنې که تاسي نه پوهیدئ نو دعلم دخاوندانو پوښتنه وکړئ او نبوي حدیث :

من افتي بغیر علمٍ کان اثمُه علي من اَفتَاه (اخرجه ابو داود في سننه : ۳۵۹ رقم : ۳۶۵۹۳ باب تفسیر عن رسول الله ۲)

یعنې که کوم تن پرته دصحیحو معلوماتو فتوه ورکوي نو د ګناه وبال په فتوه ورکوونکي دی) بلکل له یادایستلي

۲ = دعظیم الشان قرآن په تفسیر کې له ځانه تشریح یعنې معنوي تحریف :

دعظیم الشان قرآن دتفسیر معامله نهایتي نازکه ده ، ولې چې مفسر په ایات کریمه کې دالهي مرادتعین کوي، چې د الله (ﷻ) دامعنا مرادده ، له دې وجې دنا اهل سړي لپاره په دې وادي کې قدم ایښودل نهایتي خطرناک دی ، په حدیث کې دي :

من قال في القرآن برأیه فاصاب فقد اخطأ (اخرجه الترمذی رقم : ۲۷۷۶)

یعنې چې کوم تن پخپل عقل تفسیر وکړ اګرکه اتفاقا صحیح وي؛ بیا هم هغه خطاء کوونکي ګڼل ګېږي .

په یوبل روایت :

من قال في القرأن برأیه فلیتبوأ مقعده من النار (اخرجه الترمذی ج ۵ص : ۱۹۹ :رقم ۲۷۷۶)

له دې وجې دمفسر لپاره ګڼ شرایط دي ، مثلاً :دقرآن په ټولو ایتونو نظر لرل ، دحدیثو زخیري په اړه پراخ معلومات درلودل ، په عربي ژبه ، دهغې په قواعدو ،نحو وصرف ، اشتقاق ، فصاحت اوبلاغت په اړه ښه علم درلودل ،ترکومه ځایه چې دډاکټر صاحب خبره ده نو په هغه کې له یادو صفاتو څخه یوضروري صفت هم نشته ، نه هغه دعربي ژبې له قواعدو څخه کماحقه خبردی او نه دحدیثو په زخیره باندې ژور نظر لري ، اونه دفصاحت اوبلاغت سره اشنادی ، (لاندې مثالونو څخه داخبرې معلومېږي) د تفسیر په اړه دګمراهۍ کنده کې دپرېوتلو چې څومره اسباب دي مثلاً :درسول الله (۲) صحابه وو @ او تابعینو څخه دمنقولو تفسیرونو نه مخ

اړول ،دزماني له افکارو څخه مرعوبيت ، او دعظيم الشان قرآن موضوع ناسمه فهمول اوداسي نور په ډاکټر صاحب کې دننه بدرجه اتم شتون لري ، له دې جې لسګونه ايتونه دخپلي ناپوهۍ په وجه يې ناسم فهمولي ، لاندې دهغو څونمونې ولولئ:

(الف)

ايت کريمه : الرجال قوّا مون علي النسآءِ په تفسير کې ډاکټر صاحب وايي:

خلک وايي چې "دقوام" لفظ معني ده يوه درجه لوړ؛ خو په اصل کې "قوام" د"اقامة" څخه وتلي دی دا"قامة" مطلب دی ودريدل؛ نو لهذا دقامة مطلب دادی چې نارينه په مسؤليت کې يوه درجه زيات دی نه په فضيلت کې ؛ (خطبات ذاکرنايک ص: ۲۹۵ فريد بک ډيپودلي)

ډاکټر صاحب دغرب دمساوات نظريې په ملاتړ کې دقرآنې ايتونو تفسير دخپلي خوښې سره کولو ، په فضيلت کې دنارينه ديوه درجه لوړوالي نفي وکړه، حال داچې د امت لويو لويو مفسرينو په فضيلت کې دلوړ والي معني کړيده، لکه ابن کثير F د الرجال قوامون علي النساء ايت لاندې ليکلي : اى الرجل قيم علي المرأة اى هو رئسها وکبير ها والحاکم عليها موديها اذا اعوجت

يعنې دنارينه حيثيت دهغه دميرمنې په وړاندې دحاکم اوسردار دی ، داړتيا په وخت کې ميره خپلي ميرمنې ته مناسب تاديب هم ورکولي شي .

هم دا راز داايت کريمه : ولرجال عليهن درجةٌ په تفسير کې ابن کثير (F) ليکلي :

وللرجال عليهن درجة اى في الفضيلة في الخلق والمنزلة وطاعة الامر والانفاق واليقام بالمصالح والفضل في الدنيا ولأ خرة (۱\۲۶۰)

يعني ميره په فضيلت ، رتبه ، اطاعت ، اونورو کې يوه درجه پورته دی

هم دا راز ډاکټر صاحب کړی تفسير ددې نبوي حديث : لوکنت امر احدا ان يسجد لاحد لامرت النسآء ان يسجدن لازواجهن (اخرجه ابو داود)

يعني که دالله (ﷻ) پرته بل چاته سجده کول جايز وای ، نوما به مير منو ته حکم ورکړی و چې هغوئ دې خپلو ميړونو ته سجدې وکړي ، خلاف دی ، له دې وجې که دواړه په فضيلت کې برابر وای اوميړه ته په ميرمن باندې هيڅ برترې نه وای په برخه ، نورسول الله (ﷺ) ميرمنو ته دخپلو ميړونو ته دسجدې پشان دنهايتې تعظيم حکم څنګه ورکړی وای

(ب)ډاکټر صاحب ... ددې پوښتنې " قرآن پاک کې شته چې دمور درحم دننه ماشوم دجنس په باره کې الله (ﷻ) علم لري ، خو اوس ساينس دومره ترقي کړيده، چې مونږ په آسانۍ سره دالټراسونوګرافي په زريعه د "جنين" تعين کولي شو ايا دا قرآني ايت د طبي ساينس خلاف ندی" په ځواب کې وايي :

دا صحيح ده چې دقرآن پاک د دغه ايت په مختلفو تشريحاتو او ترجمو کې ويل شوي چې يواځې الله (ﷻ) پوهيږي چې دمور په رحم کې دشته ماشوم جنس څه دی ؟ خو که ددې ايت عربي متن ملاحظه کړای شي نو وينو چې د دې انګليسي لفظ (sex)هيڅ عربي متبادل ندی استعمال شوی په اصل کې قرآن چې څه وايي هغه دادي چې په رحمونو کې څه دي ؟ دهغه علم يواځې الله سبحانه وتعالي ته دی، ډير و مفسرينو ناسمه فهمولې چې هغوئ دا معني اخيستي يواځې الله تعالي دمو ر په رحم کې جنس پيژني ، داسمه نده ، دا ايت دجنين دجنس لورته اشاره نکړي؛ بلکې ددې خبرې لورته اشاره کوي چې دمور په رحم کې د شته ماشوم فطرت به څنګه وي ؟ دخپلي مور اوپلا رلپاره به درحمت باعث وي او که دعذاب ..... الخ (اسلام پرچاليس اعتراضات ص ۱۳۰ ازډاکټر ذاکر نايک)

ډاکټر صاحب ته دلته دساینسي څېړنو څخه په مرعوبیت دراپیدا سرسرکې نیو کو څخه دځان ژغورلو لپاره دقرآن پاک بل ایت او دصحابه وو او تابعینو څخه منقول تفسیر شاته په ګرځولو یومعروف معنوي انکار کړی دی ، په لویو لویو مفسرینو باندې تنقید او د هغوئ یې تغلیط کړی دی

ډاکټر صاحب چې کومه معنی بیان کړې "ما" موصوله په عموم کې راځي اوګڼو مفسرینو دیوه احتمال په تو ګه دلومړۍ معنی په ضمن کې دهغې ذکر هم کړی دی، خو ددویمې معنی انکار کول قطعاً صحیح ندی ، له دې وجې ډاکټر صاحب چې دکومې معنی نفې کړیده دهغې لورته درعد سورة په لاندې ایت کې الله یعلم ماتحمل کل انثی وما تغیض الارحام وما تزداد (الرعد : ۸)

یعنې الله تعالی له هرڅه خبرلري هغه میرمن چې حمل لري اوهغه څه چې په کوم رحم کې کمی زیاتي کیږي ، اشاره کوي هم داشان مشهور تابعي او دتفسیر امام قتاده F څخه هم دغه معنی مروي ده هغه فرمایي :

فلا یعلم مافي الارحام اذکر ام انثی .... الخ

یعنې دموورپه رحم کې چې نارینه دی که ښځینه ددې قطعي علم دالله پرته چاته نشته

هم دا راز ابن کثیر (رحمه الله) دخپل تفسیر د۶ټوک په ۳۵۵مخ ، علامه نسفي F په دمدارک په ۳ټوک ۲۲۶ مخ او امام شوکاني (رحمه الله) په فتح القدیر کې په ۵ټوک ۴۹۸ مخ دیورته ایت هم دغه معنی بیان کړي ، خو ډاکټر صاحب ددې اکابرو له بیان کړي تفسیر څخه انکار کړی او هغه یې ناسم تفسیر ګرځولی او له خپله ځانه کړې معنی په قطعیت باندې مصردی

صحیح ځواب :

ددې ایت مقصد دالله (جل جلاله) غیب علم ثابتول دي، غیب علم په حقیقت کې هغه یقیني علم ته وایي : چې دکوم ظاهري سبب پرته مخامخ بې له کومې واسطې وي ، طبي آلاتو په واسطه طبیبانوته کیدونکي علم نه یقیني وي اونه بلا واسطه ، بلکې هغه خالص ظني او دآلاتو په واسطه حاصلیږي ، له دې وجې التراسنو ګرافي له لارې په ترلاسه کېدونکي ظني علم په وجه په قرآني ایت باندې هیڅ اعتراض وارد ندی

(ج)ډاکټر صاحب ددې ایت : یایها النبيُ اذا جاءک المؤمنت یبایعنک علی ان لایشرکن بالله شیئًا (ممتحنه: ۱۲) په تفسیر کې وایي :

دلته د "بیعت" لفظ راغلی ، او د بیعت په مفهوم کې زمونږ ننې انتخابات هم راځي ، ولې چې رسول الله b(صلی الله علیه وسلم) دالله (جل جلاله) استازی او دهېواد مشر هم و؛ او د بیعت څخه مراد هغه دحکومت د مشر په حیث منل و؛ اسلام په هغه زمانه کې میرمنوته درایې ورکولو حق هم تفویض کړی و (اسلام میي خواتین کې حقوق از ډاکټر نایک)

دلته هم ډاکټر صاحب دایت ناسمې تشریح په کولو میرمنوته په انتخاباتو کې درایې اچولو حق ثابتولو کوښښ کوي د بیعت په غرض رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته د میرمنو را تلل داوسنې دیمکراتیک طرز انتخاباتو قدیم شکل بولي، حال داچې جمهوریت دحقیقت نه چې کوم خلک خبردي ، هغوئ په ښه تو ګه پوهیږي ، چې دډاکټر صاحب دغه تشریح بالکل دواقعې خلاف ده ، او دعظیم الشان قرآن په تفسیر کې دخپل عقل بې ځایه استعمال دی ، ولې چې اوسني جمهوریت له مخې ټول واک لري ، چې دهېواد دمشر غوره کولو لپاره خپله رایې ورکړي ، که په کوم سړي کثرت رایه اتفاق ونکړي هغه دهېواد مشر نشي کیدای ، که درسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره بیعت کول په حقیقت کې رایه اخستل و، نوایا هغومیرمنو (صحابیاتو) دا واک درلود چې دمشر په حیث یې درسول الله (صلی الله علیه وسلم) له منلو انکار هم کړی وو ؟

نوربیا

shahamat

سپینه پګړۍ

له وطن موکړه بار د ناټوکۍ شوه
رانسکوره دغرور سپینه ماڼۍ شوه

دغزا ډګر مو بیا ګټلی ښکاري
دصلیب دبچو داوروستۍ سلګۍ شوه

دا بې ننګه قرا کول سرونه ټیټ شول
ځل بلنده دطالب سپینه پګړۍ شوه

سپین سپېځلی بیرغ بیا په رپېدو شوه
ځکه تنګه په مغرورو دنیاګۍ شوه

هسکه غاړه به بندي لالی را دروي
ماته ماته دځنځیر هره کړۍ شوه

غلامان به بیا په دار ځړول کیږي
راروانه د بریاوو دالړۍ شوه

صابري دا دجهاد له برکته
سلامي درته دعزت ټوله نړۍ شوه

صابري